# د فکر پلوشي



سید اصغر هاشمي

۱۳۹۴ لمریز کال

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د فکر پلوشې

سید اصغر هاشمي

۱۳۹۴ل کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

# کتاب پېژندنه:


د کتاب نوم: د فکر پلوشې

لیکوال: سیداصغر هاشمي

خپرندوی: د افغانستان ملي تحریك، فرهنګي څانګه

وېبپاڼه: www.melitahrik.com

کمپوز: لیکوال

ډیزاینګر: ضیاء ساپی

پښتی ډیزاین: فیاض حمید

چاپشمېر: ۱۰۰۰ ټوکه

چاپکال: ۱۳۹۴ ل کال/ ۲۰۱۵م

د تحریك د خپرونو لړ: (۵۰)


**یادونه: د چاپ حقوق له ملي تحریک سره خوندي دي او د کتاب د محتوا مسولیت لیکوال پورې اړه لري.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لړليک

**سرليک** **مخ**


فکري قوت.................................................۱
د انسان جوړښتونه.........................................۵
آغاز او انجام...............................................۸
انصاف......................................................۱۰
ښه ملګري..................................................۱۲
د زرو قدر..................................................۱۴
مشرتوب....................................................۱۵
د ستونزو کټه...............................................۱۷
يوم البتر...................................................۱۹
خزان وهلی ګل.............................................۲۱
حقيقت......................................................۲۴
ليدلوري....................................................۲۶
علم او عمل.................................................۲۸
د معنوياتو ارزښت.........................................۳۰
د شهرت وږی..............................................۳۱
د ماضي هېرول............................................۳۲
لوی فکر....................................................۳۳
فکري ښکلا.................................................۳۵
د زړه پيغام.................................................۳۷
د يوازيوالي ګټه............................................۳۹

(c) ketabton.com: The Digital Library


کامیابي....................................................۴۲
دروندوالی....................................................۴۴
فکر او عمل....................................................۴۶
د مجازي مینې مقام....................................................۴۸
د پوهې ارزښت....................................................۵۰
پوهنه رڼا ده....................................................۵۲
د انسان ارزښت ټاکنه....................................................۵۵
په ځان ویسا....................................................۵۸
زه د کوم ځای یم؟....................................................۶۱
لویوالی....................................................۶۳
فکر....................................................۶۶
لوړ خیالونه....................................................۶۹
قوم پالنه....................................................۷۱
انسان....................................................۷۵
ځواني....................................................۷۸
شکر وباسئ!....................................................۸۰
رنځور....................................................۸۳
رقابت....................................................۸۵
انسانیت او اسلامیت....................................................۸۷
لوی او وړوکی....................................................۹۰
لېونی....................................................۹۲
توپیر....................................................۹۴
د وخت ارزښت....................................................۹۷
کاشکې ځواني وای!....................................................۹۹
نوی فکر....................................................۱۰۱

(c) ketabton.com: The Digital Library


د ژوندحقيقت........................................۱۰۳
اضداد...................................................۱۰۵
مساوات.................................................۱۰۷
پوه او ناپوه............................................۱۱۰
پرمختگ.................................................۱۱۲
مشر او کشر...........................................۱۱۳
کميت اوکيفيت.......................................۱۱۵
حقيقي خيرات خور...................................۱۱۷
همدردي.................................................۱۲۰
ښکلا.....................................................۱۲۳
ښه او بد................................................۱۲۷
مينه.......................................................۱۲۹
سرعت...................................................۱۳۲
حقيقي کوږ.............................................۱۳۳
د تقدير فلسفه.........................................۱۳۵
ظاهر او باطن..........................................۱۳۷
حرکت...................................................۱۳۸
افراط.....................................................۱۴۰
تحول.....................................................۱۴۲
ځنګل....................................................۱۴۴
ارمان.....................................................۱۴۶
ګټه او تاوان............................................۱۴۷
پوهه......................................................۱۴۹
د پښتوادب نوې ښکلا او د هاشمي د ادبي پنځونو هارونه..........۱۵۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



# فکري قوت

په نړۍ کې د هر شي په پیدا ښت کې د الله تعالی لوی حکمتونه پراته دي. که سترګې وغړوو ډېر لوړ او ټیټ څیزونه به وګورو او د فکري شخوند وهوو روسته دې نتیجې ته رسېږو چې د ځینو شیانو په لوړوالي او دځینو شیانو په ټیټوالي کې د څښتن تعالی قدرتونه پراته دي.

ځینې لوړ شیان د ارزښت وړ دي او ځینې ټیټ شیان د ستایلو وړ دي.لکه: اسمان ډېر لوړ دی، بارانونه ورنه کېږي، مځکې خړوبوي، غلې، دانې، میوې او ګلان د همدې بارانونو برکت دی. د همدې بارانونو برکت دی، چې سیندونه او بحرونه لرو او ډېر حیوانات مو په همدې اوبو کې ژوند کوي، یعنې د ډېرو حیواناتو د ژوند اصلي ټاټوبی او کور په اوبو کې دی.

په همدې بحرونو کې د مرغلرو پیدا ښت هم د اوبو برکت دی او اوبه د انسانانو د ژوندیو مهم ضرورت هم دی.

د سپوږمۍ راختل او راپریوتل، د لمر پیدا کېدل او فنا کېدل په اسمان کې دي، همدغه اسمان دی چې ځمکه یې د انسانانو په خدمت کې کړې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library


که بارانونه نه وي، لمر نه وي، سپوږمۍ نه وي، بادونه نه وي، وريځ نه وي او داسې نور .... نو مځکه به هېڅکله د انسانانو، حيوانانو، او نباتاتو لپاره د ژوند ځای نه وای.

سره له دې چې مځکه ټيټه ده، خو د اسمان برکت دی، چې مځکې باندې ژوند کېږي.

د ځينو شيانو په ټيټ والي کې لوی حکمت پروت وي او له لوړوالي يې ټيټ والي د خورا اهميت وړ وي.

که يوه لوړه ماڼۍ په نظر کې ونيسو، د همدې ماڼۍ د لوړ والي ټول قوت او استحکام په تهداب کې دی، دلته دی چې د ماڼۍ له لوړوالي نه يې ټيټ والی مهم دی.

د همدې تهداب برکت دی چې ټوله ماڼۍ پرې ولاړه او محکمه ده. بادونه، بارانونه، زلزلې او نور طبيعي افتونه ورته تاوان نه شي رسولای.

انسانان هم لوړه او ټيټه برخه يا نقطه لري، لوړه څوکه يې د سر ده او ټيټه يې د پښو ده.

د انسان لوړوالی ډېر مهم دی، ککره ده چې د ټول بدن رهنمايې کوي، د ښه او بدو کارونو لارښونه همدا ککره او په ککرې مغز کوي.

د انسان مغز او فکر دی، چې په ټول بدن واکمني کوي او د بدن اعضاوې يې فرمانبرداري کوي.

د بدن د ټولو اعضاوو (سترکې، غوږونه، لاسونه، پښې او داسې نورو) د ښه کارونو اصلي او حقيقي لامل د انسان ښه مغز او فکر دی. د همدې اعضاوو د بدو کارونو لامل بد مغز او بد فکر دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د انسان ټول داخلي جوړښت د فکر او عقل سره نېغ په نېغه اړیکه لري او د ښه فکر او عقل نتیجه ده، چې یو انسان له خپل داخلي جوړښت( احساسات، جذبات، وجدان، اخلاق، انسانیت، سړیتوب او ټول انساني ښېګڼو ) نه ښه استفاده کوي.

که په لاسونو د خیر کارونه کوو، یا سترګې ګناه ته نه پرېږو، په غوږونو غیبت نه اورو او قرانکریم اورو، په ژبه دروغ نه وایو، په پښو بدو ځایونو ته نه ځو او د انسانیت ټولې اسلامې او انساني ښېګڼې لرو، اصلي او حقیقي لارښوونه یې له فکر څخه کېږي، چې د انسان د فکر او پوهې سره مستقیمه اړیکه لري.

د انسان لوړوالی هم لکه د اسمان لوړوالی ډېر مهم دی، اسمان که ځمکه خپله تابع کوي. یو بافکره او پوه انسان هم خپل ټول بدن تابع کولای شي او هېڅکله یې سرکشي ته نه پرېږدي.

فکر او عقل چې بې لارې شو، ټول بدن خراب کارونه کوي او له داسې انسانانو بیا د خیر او ښېګڼې طمع او امید نه شو کولای.

د فکري قوت انسان ته ډېره پیاوړتیا ورکوي او دغه قوت د نړۍ له ټولو قوتونو ځینې بهتره دی او دغه فکري قوت په علم او پوهې لاس ته راځي.

دلته اکثره خلک پوهه او علم نه لري، نو له همدې امله دوی ښه فکر نه لري او نه شي کولای چې په ټولنې کې ښه کارونه او خدمتونه وکړي.

فکر او عقل د بدن بادشاه دی، ښه فکر او عقل ښه مشري کولای شي او بد عقل او فکر بده مشره کوي.

فکري قوت او ځواکمنتیا له انساني ټولو قوتونو ځینې بهتره ده، د فکر قوت د انسان نور بدن ته هم قوت ورکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


ځینې ملکونه د هغو ککرو (فکر، عقل او پوهې) درلودونکي ښځنتنان ډېر لري، چې مور او تاسې ورته احتیاجه او محتاجه یو.

ککرې خو د نړۍ ټول انسانان لري، خو په ککرو او سرونو کې مغز او فکر مهم دی.

ډېرې (زیاتې) بې مغزه او بې فکره ککرې مهمې نه دي، بلکې په ډېرو ککرو کې هغه ککرې او سرونه مهم دي، چې مغز او فکر یې پیاوړی وي.

په نړۍ کې په هغو ککرو حساب کېږي، چې فکر او عقل یې د کار وي او د هغو سرونو احترام نشته، چې فکر او عقل نه لري.

تاسو هم د هغو ککرو او سرونو احترام وکړئ، چې د لوړوالي حق یې ادا کړی دی او بدن یې خپل تابع کړی دی.

لکه څرنګه چې د اسمان لوړوالی د ځمکې لپاره مهم دی، دغه شان د انسان لوړوالی هم په فکر او عقل کې دی او د نور بدن لپاره مهم دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# د انسان جوړښتونه

د نړۍ ټول انسانان دوه ډوله جوړښتونه لري، يو يې فزيکي او بل يې معنوي جوړښت دی. په فزيکي لحاظ اکثره انسانان په ټول پوره وي خو په معنوي لحاظ کامل انسانان کم پيدا کېږي. چېرته چې پوهه زياته وي، هلته معنوياتو ته زيات ارزښت ورکول کېږي او چېرته چې پوهه کمه وي هلته بيا د معنوياتو پرځای نورو شيانو ته ارزښت ورکول کېږي.

تر څو چې د پوهې قيمت کم نه شي او اکثره وګړي مو د علم او پوهې پر ګانه سمبال نشي، دمعنوياتو ارزښت ته به د ارزښت په سترګو ونه ګورو.

په حيواناتو کې شيدې لرونکې څاروي له هغو څارويو بهتره دي، چې خلک ورنه ګټه نشي تر لاسه کولای، دلته د انسانانو په ډول په حيواناتو کې هم توپير ليدل کېږي. په نباتاتو کې ميوه دارې ونې مو د هغو خلکو په شان دي چې پوهه لري او هر وخت د ځان پر ځای د عوامو په فکر کې وي.

په ټولې نړۍ کې په هغو انسانانو شمار کېږي چې پوهه لري او هغه انسانان چې پوهه نه لري، د هغو بې ميوو ونو په شان دي، چې له لرګيو يې استفاده کېدای شي، خونور تش کالبوتونه دي.

يو د انسان جسمي کار دی چې د بيروني جوړښت او جسم سره کار لري او بل د انسان فکري کار دي. فکري کار له جسمي کاره څو مرتبې بهتره دی، که يو دهقان د غنمو کرلو لپاره ځمکه اړوي او يا داسې نور

(c) ketabton.com: The Digital Library



جسماني کارونه کوي او همدارنګه د پوهنتون استاد شاګردانو ته درس ورکوي او هر وخت په فکري او ذهني کارونو مشغوله وي، دا دواړه کارونه دي، خو د دهقان له کاره د استاد کار بهتره دی. ټولې دنیا کې له جسمي کارونو فکري کارونو ته برتري ورکول کېږي.

نړۍ نن فکري یرغلونه پیل کړي دي، او غواړي چې په ټولې نړۍ د فکر په واسطه مشري وکړي، دوی پوه شوي چې د جسمي یرغلونو پرځای فکري جنګونه کوي.

د انسان قدر او عزت باید د هغه د معنویاتو، پوهې او اخلاقو په نظر کې نیولو سره وکړو، نه په نورو لاملونو.

اکثره عوام مو د بدو خلکو عزت کوي، چې دا په دې دلالت کوي، چې موږ ښه خلک نه یو. د ظالم ملګرتیا کوي، هر ځای یې صفتونه کوي، چې دا یې د ویرې یو لامل دی.

انسان کې چې انسانیت نه وي او په حقیقي پوهې سمبال نه وي، د تش کالبود په شان دی، د انسان انسانیت په نظر کې ونیسی چې د معنویاتو سره مستقیمه اړیکه لري، نه مال، دولت، موقف، قومیت، خپلوي، نژادي، سمتي او داسې نورې اړیکې.

د انسان په نوم ټولو خلک پېژندل کېږي او هر چاته د انسان په نوم غږ کوو، خو د انسانیت او شرافت ځانګړنې په ډېرو کمو کسانو کې موندل کېږي.

عبدالرحمن بابا وایي:

انسانیت څه په دولت نه دی رحمانه

بت که جوړ کړې د سرو زرو انسان نه دی

په ساختماني لحاظ د سرو زرو له بته د انسان قیمت کم دی، خو که د معنا په لحاظ انسان پوره وي، د نړۍ هیڅ شي سره یې بها نه شو برابرولی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


ځینې انسانان لوړ قیمت لري او په کلونو کلونو یې نومونه تلپاتې وي، خو د ځینو انسانانو بها دورمره کمه وي، چې په ژوندون او له مرګه وروسته یې هم ارزښت کم وي.

په نړۍ کې د ورځې بې شمېره انسانان مړه کېږي چې له مرګه څو ورځې وروسته د خلکو هیر وي چې یو دلیل یې دا دی چې دوی په معنوي لحاظ پیاوړي انسانان د ټولنې نه وو، خو که چېرې استاد الفت په نظر کې ونیسو، له لسهاوو کلونو وروسته هم د خلکو په زړونو کې خاص ځای لري، چې دلیل یې د استاد معنوي ارزښت پورې اړه لري.

افغانانو که غواړئ چې پرمختګ وکړئ، نو د مادیاتو پر ځای معنویاتو ته ارزښت ورکړئ، د ناپوهو مشرانو پر ځای پوه انسانان خپل مشران وټاکئ، د ګنهګارو پر ځای بې ګناهو ته رایه ورکړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# اغاز او انجام

د هر شي په پیدا ایښت او فنا کېدو کې د څښتن تعالی حکمتونه پراته دي، او په نړۍ کې هر شی آغاز او آنجام لري.
لمر د ورځې پیدا کېږي او ټول انسانان، حیوانات او نباتات ورځینې ګټه پورته کوي، د لمر په راختلو سپینه ورځ شي، ټول انسانان خپل کارونه پیل کوي او د حلال رزق د لاس ته راوړلو حلې ځلې کوي.
له انسانانو سربېره حیوانات هم لمر ته ضرورت لري. په نباتاتو کې ټولې میوې او دانې همدا لمر پخوي.
د همدې لمر په فنا کېدو شپه راځي او شپه بیا د استراحت لپاره ښه وخت دی. هو ! د لمر په آغاز او آنجام کې یې حکمتونه له ورا څرګندېږي.
د لمر پیدا کېدل او فنا کېدل، د سپوږمۍ راختل او پریوتل، شپه او ورځ مینځ ته راوړي او د دوی په آغاز او آنجام کې د نړۍ خیر او ښیګڼه پرته ده.
په پسرلي کې ټولې ونې شنې شي، میوې نیسي، ښکلا پیدا کوي او ټول انسانان د همدې نباتاتو نه استفاده کوي، خو د منې په راتګ سره پرې خزان راشي او خپله ښکلا له لاسه ورکړي. د نباتاتو له فنا کېدو وروسته د دوی بیا ژوند پیل کېږي او بیا ځلې پرې پسرلی راځي.
د برې خزان وهلې ونې مې دوباره ښکلې او ښایسته ولیدې، له ډېرو پسرلیو وروسته مې بیا پسرلي ولیدل او له ډېرو خزانونو وروسته مې بیا ځلې خزانونه ولیدل.
د لمر، سپوږمۍ،نباتاتو او داسې نورو شیانو په آغاز او آنجام پوه نه شوم، کله پیدا شي او کله له منځه ولاړ شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



انسانان هم د الله تعالی په قدرت پیدا کېږي او فنا کېږي، د دوی پیدا ایښت او مرګ په تقدیر کې لیکل شوي وي، په دې دنیا کې دوی یو ځل پیدا کېږي او یو ځل مره کېږي. د دوی د پیدا ایښت اصل او اساس معلوم دی، دوی الله تعالی د خپل عبادت لپاره پیدا کړي دي، د دوی بیا ځلې پیدا کېدل په دې دنیا کې ناشوني ده. د دوی آغاز(پیدا ایښت) او آنجام(فنا کېدل) نا څرګند دي او له آنجامه مخکې باید د پیدا ایښت پرمفهوم پوه شي.

دوی (انسانان) په دې نړۍ کې لکه د نباتاتو پسرلی او منی نه لري، چې له خزانه وروسته پرې بیا بهار راشي، نباتات خو په دنیا کې څو څو ځلې له منځه ځي او پیدا کېږي، خو د انسان یو مرګ دی او په دې نړۍ کې د بیا ژوند کولو چانس نه لري.

مخکې له دې چې د ناکامۍ سره مخ شې، د کامیابۍ په فکر کې او سېږه، په دنیا کې ستا لپاره د بیا ژوند کولو موقع نه شته. ستا آغاز او آنجام، خزان او بهار معلوم دی.

که یوه میوه داره ونه په یوه پسرلي کې میوه ونه نیسي او خزان پرې راشي، امکان لري چې بل پسرلي کې له ثمره ډکه ونه وي، خو د انسان د میوې نیولو وخت همدا یو پسرلی دی او په دې بل پسرلی نه راځي، نو دا دنیا د انسان لپاره د اخرت د لاس ته راوړلو یو ښه دوکان دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# انصاف

انسانان ځکه اشرف المخلوقات دي، چې د ډېرو خصوصیاتو سربېره د فکر کولو او د خپلې مفکورې نه د استفادې کولو توان لري.

فکري ځواکمنتیا د نړۍ له ټول قوتونو بهتره ده او همدغه فکري قوت دی چې نړۍ پر مختګ کوي.

په کومې ټولنې کې چې د فکر خاوندان ډېر وي، هلته برابري وي، مساوات وي او حق حقدار ته ورکول کېږي.

چېرته چې انصاف او عدالت وي، هلته به د حقیقي فکر خاوندان مشران وي او چېرته چې د غیر حقیقي فکر خاوندان مشران وي، هلته بیا د انصاف تله ماته وي.

ځینې بې فکره انسانان باید عدالت او انصاف له لمر، سپوږمۍ، باران، باد او داسې نورو طبیعي توکو ځینې زده کړي. سره له دې چې دغه توکي عقل او فکر نه لري، خو بیا هم د ځینو بې فکره انسانانو نه د دوی انصاف او عدالت ښه دی.

لمر سهار پیدا کېږي، په غریب، مالداره، خپل، پردي او داسې نورو شیان باندې یو شان رڼایي کوي. دغه باانصافه لمر له عدالته کار اخلي، چې ډېر انسانان دغه شان برابري نه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شپې له خوا د سپوږمۍ په راختلو يو ځل بيا په ټولو رڼايي شي او که اسمان وريځ وي او سپوږمۍ خپل مخ پټ کړي، نو بيا هېڅوک د ده له مخ پلو نه شي لرې کولای.

بارانونه هم لکه لمر او سپوږمۍ له انصافه کار اخلي او اکثره ځمکې يو شان خړوبوي، خپل او پردي، دوست او دښمن په نظر کې نه نيسي.

دغه بې فکره، بې عقله او بې تميزه توکي څو مرتبې د هغو انسانانو نه چې عقل او فکر لري، خو بيا هم عدالت او انصاف نه کوي بهتره دي.

ای په لوړو مقامونو کې اکثرو انسانانو ! ستاسو د انصاف تله ماته ده. عدالت او برابري له لمر، سپوږمۍ، باران او باد ځينې زده کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# ښه ملګري

ژوند د خوشحالیو او خفګانونو خوب دی، چې د خوشحالیو او خفګانونو لحظات له انسانه هیریږي، خو ځینې خبرې او خاطرې دانسان په ژوند کې له انسان سره پاتې کیږي او کله کله په غیر ارادي(ناشعوري) ډول د انسان ذهن ته راځي او انسان دې ته اړ کوي، چې فکر پرې وکړي.

کوچنی وم او د ځوانۍ په درشل مې پښه ایښې وه، چې ګران پلار به مې راته ویلې: ځویه له خپلو همزولو سره کینه او هغه چا سره دوستي وکړه، چې له هره پلوه له تا سره برابر وي.

رښتیا چې د ځینو مشرانو خبرې د کاڼو کرښې وي، او نن چې مې د پلار خبرې یادیږي او په نړۍ کې د حقایقو د لټون لپاره ډېر وخت فکر کوم، پوهیږم چې انسان باید انسانیت او اسلامیت په نظر کې ونیسي او له هغه چا سره ملګرتیا او دوستي وکړي، چې د دې د ویاړ سبب وګرځي.

د مرغانو ګلې ګلې مې په هوا کې یوځای له خپلو همجنسو سره ولیدلې، له کوترو سره مې بازان ونه لیدل او له بازان سره مې کوترې ونه لیدلې.

د پسونو ډلې ډلې مې جدا ولیدلې او د چرګانو دوستي مې له چرګانو سره ولیده.

د حیواناتو له خپلو همجنسو سره دوستي کې د دوی ګټه ده او د خپل ژوند بقا او پایښت په همدې کار کې ویني.

(c) ketabton.com: The Digital Library


له حيواناتو سربيره نباتات مې هم خوا په خوا لکه دوستان وليدل، د غنمو به خوا کې مې غنم وليدل او د جوارو په خوا کې مې د جوارو بوټي وليدل.

يو شاعر وايي:

هر پيوند له خپل پيوند سره جوړيږي
په نارنج کې مې انار ليدلی نه دی

د شاعر هدف هم ښکاره دی، دی هم د ملګرتيا او د دوستي لپاره هر څوک لايق او وړ نه ګڼي او هر انسان بايد خپل ثاني پيدا او دوستي ورسره وکړي.

د فارسي ژبې يو متل دی: کتی ماه بنشنی ماه شوی، کتی ديګ بيشنی سياه شوی.

تبليغيان وايي: که له عطاري سره کينې نو خامخا به د عطرو بوی درنه ځي او که د ماهي فروش سره کينې حتما به د ماهي سوړ بوی درنه ځي.زما د پلار خبره د دوست په انتخاب کې بايد له احتياطه کار واخلو.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# د زرو قدر

ټولنیز لاملونه د دې سبب کېږي، چې ټولنیز ارزښتونه مو بېل بېل خوا غوره کوي.
پوهه او علم په هرې ټولنې کې ارزښت نه لري او نه عالم او پوه انسان په هر ځای کې د احترام او عزت وړ وي.
په دې پوه شه که ته ډېره پوهه لرې او د ټولنې اکثره خلک ناپوهه او بیسواده وي، د دې پرځای چې د پوهې په سبب د ولس په زړه کې ځای پیدا کړې، د نفرت لامل ګرځې.
رښتیا هم د زرو په قدر زرګر پوهېږي نه اهنګر او په کومې ټولنې کې چې د پوهې کچه ټیټه وي، د پوهانو پر ځای د ناپوهانو قدر او عزت پکې زیات وي، ځکه چې د پوهې له ارزښته ناپوهه ناخبره وي.
هو ! په داسې ټولنو کې د پوهې او فکر خاوندان هم خواشیني او خفه وي او د یو ډول افسردګۍ احساس کوي. دی په ټولنې کې د ځان په شان خلک لټوي او له داسې خلکو لوړې ارزوګانې او امیدونه لري، دی هغه څه چې په ځان کې وینې، په ډېرو خلکو کې یې نه شي موندلی او د دې هغه توقوعات چې د ټولنې له عوامو ځینې لري، نه پوره کېږي او د یو ډول یوازیوالي سبب یې ګرځي.
رښتیا هم دی یوازې دی او خپل برابر دوستان په اسانۍ نه شي پیدا کولای.
که ته ډېر ښکلی یې او خپل ثاني پیدا نه کړې او ټولنه ډېره بدرنګه وي، نو د بدرنګو به حتمي نه خوښېږې او ته به د یوازیوالي احساس کوې.
په کومو خلکو کې چې پوهه زیاته وي، د پوهانو عزت زیات کوي او په کومو ټولنو کې چې پوهه کمه وي، د ناپوهانو عزت زیات کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# مشرتوب

د مشرانو احترام او په کشرانو شفقت يو د بل لپاره لازم او ملزوم دي.
که کشرانو د مشرانو احترام وکړ، نو خامخا به مشران په کشرانو شفقت کوي.
د کشرانو برکت دی، چې په ټولنې کې مشران لرو او همدا مشران دي چې کشران ترې پيدا دي.
که په يوې کورنۍ کې مشران (نيکه، نيا، پلار او مور) په درانده نامه يادوو او د دوی احترام کوو. دليل يې ښکاره دی، چې لمسيان او اولادونه يې زيږولي او د دوی د مشرتوب يو اصلي لامل د همدوی پيدا کول دي، که دوی (اولادونه) نه وي، دوی(د کورنيو مشرانو) ته هېڅوک پلار او نيکه نه وايي او مشري يې خپل ارزښت له لاسه ورکوي او دوی ته بيا مشر نه شو ويلای.
د کورنيو کشران دی، چې مشران لرو، نو مشران بايد خپل حق ادا او په کشرانو شفقت وکړي او دوی ته دې په احترام قايل وي.
د کشرانو خبرو ته بايد غوږ کېږدي او دغه کشران د اينده ورځې مشران دي، په دې کشرانو کې د عقل او پوهې په لحاظ مشران هم لرو، چې د خپلو کورنيو د ځينو مشرانو نه د پوهې په لحاظ کشران نه بلکې مشران ورته ويلای شو، نو د کورنيو کشرانو ته بايد د خبرو کولو حق ورکړو او نظرونه يې بايد واورو.
د عوامو برکت دی، چې په ملک کې ريس جمهور لرو او ټولنيز نظام مو پر مخ روان دی، نو د ولس په عزت بايد د يوې ټولنې مشر پوه شي او خپل احترام د کشرانو په شفقت کې پيدا کولای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


په يوې ډېرې لويې دشتې کې چې خک نه وي، هلته به نظام نه وي، نه به مشر وي او نه به کشر وي، نه به احترام وي او نه به شفقت وي.
د هندوانې زړی دی، چې لويه، غټه او پخه هندوانه ترې لاس ته راځي، که زړی نه وي، نو هندوانه نشته.
د امو زړی دی، چې وکرل شي، لويه ونه شي او په منونو منونو امونه ترې لاس ته راځي.
تاسو خو هندوانه او امونه خورئ، خو د پيدا ايښت، خوند، رنګ او د مزې برکت يې يوازې او يوازې زړی دی. همدا زړي دي چې ميوې ترې لاس ته راځي.
رښتيا هم په کورنيو کې دمشرانو د عزت او احترام عوامل يې خپل اولادونه او کورنۍ دي، که دوی مشران دي، نو د کشرانو برکت دی.
استاد الفت وايي: ( ته نه يې خبر چې په يوه دانه او په يوه څاڅکي کې عالمونه پراته دي. څه شی چې ته وړوکی ګڼې هغه لوی دی، ته ونه لويه ګڼې هغه په يوه زړي کې ده، تاته زړی وړوکی معلومېږي، په هغه کې لويه ونه ځای شوې ده، دغه غټه هندوانه چې ګورې کال ته نشي پاتې کېدای او عمر يې ډېر لږ دی. دغه د هندوانې کوچنی زړی تا ته هر کال تازه هندوانې درکوي، د زړي قيمت له هندوانې نه لږ نه دی. )
هو ! د مشرتوب او کشرتوب تر منځ دغه شان تړاو شته دی او هېڅ کوچنی ټول عمر په يو حال نه پاتې کېږي، نننی کوچنی د سبا ورځې مشر دی او د نن ورځې مشر به بله ورځ نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# د ستونزو کته

په نړۍ کې هر شی یو د بل لپاره ضد لري او دنیا له همداسې توکو نه جوړه ده.
د پوه او ناپوه تو پیر هغه وخت ښه کولای شو، چې خپله مو پوهه ترلاسه کړې وي او د پوهې له ارزښته باخبره او سېږو.
ډېر خلک دي چې د اولادونو پیدا کېدو، ښځې کولو، د مور او پلار زړه لاس ته راوړلو او داسې نورو ..... شیانو په ترلاسه کولو کې د خوشحالۍ احساس کوي.
رښتیا چې د انسان د ژوند سره خوشحالي تړلې ده او په یوه نه یوه ډول انسان په ژوند کې ډېرې خوږې شیبې ویني او د خوشحالۍ دورانونه پرې راځي.
له خوشحالیو سربېره د انسان ژوند له خفګانونو نه هم خلاص نه دی او چې انسان ژوند کوي، له خوشحالۍ سره به خفګانونه هم زغمي، که د انسان خوښه وي او که نه وي، له دې ضدینو سره به د الله تعالی په رضا وخت تیروي.
هو! له انسان سره خفګانونه شته دي او د همدې خفګانونو نتیجه ده، چې انسان یې په ژوند کې ویني او فکر یې روزل کېږي.
د پریشانیو او زحمتونو نتیجه ده، چې انسان کې فکري قوت پیدا کېږي، خوخفګانونه او پریشانۍ د هغه انسان فکر ښه روزي، چې علم او پوهه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library


د نړۍ ډېر لوی فیلسوفان او عالمان د ټولنې غریب او بیچاره خلک وو او د دوی د فکري روزلو له لاملونو څخه یو مهم لامل د دوی ټولنیزې ستونزې او خفګانونه وو.

کله کله انسان ته له خوشحالیو خفګانونه ډېرې مهمې شي او له خوشحالو نه په خفګانونو کې یې ګټه وي.

اهنګر د او سپنیزو شیانو د جوړولو لپاره او سپنه ښه سره کوي او بیا وروسته له ښه ټکولو ترې یو شی جوړوي، څومره چې او سپنه ښه سره کېږي، هم کلکېږي او هم ښه څیز ترې لاس ته راځي.

په انسان هم چې څومره تکلیفونه راځي، هماغومره کلکېږي او په دې انسان کې فکري او جسمي قوت پیدا کېږي.

هینر وايي: (څه شی دی چې په انسان کې ژور فکرونه پیدا کوي؟ علم او پوهه نه ده، کار نه دی، د عواطفو او احساساتو هېجان هم نه دی، یوازې رنځ او مشقت دی، چې د انسان په فکر کې ژوروالی پیدا کوي او ښايي، چې د همدې لامله په دنیا کې غمونه او رنځونه ډېر شوي دي.)

د هینر خبره پرځای ده، خو هغه کس چې پوهه او علم لري، نسبتا هغه کس ته چې پوهه نه لري، رنځ او مشقت پرې یو ډول تاثیر نه کوي، هغه کس چې پوهه لري فکري ژوروالی او فکري قوت یې پیاوړی کېږي او هغه چې کمه پوهه لري، په هغه کې له فکري قوت نه جسماني قوت ډېر پیاوړی کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# يوم البتر

يو وخت کوچنی وم او کله کله به مې دا سې فکر کاوه، چې زه خولو بېږم او بايدلوی لوی کارونه وکړم، د خپلو نيکونو او پلرونو ارمانونه به پوره کوم.
دا چې انسان لوېږي، فکر يې هم بايدلوی شي او لوی لوی کارونه بايدوکړي.
دا چې انسان کې ورځ تر بلې تغيرات او تحولات راځي او هر څه يې نوي کېږي، دغه شان نړۍ هم بايد لويه شي او د ژوندلپاره ارامتياوې بايدزياتې شي.
ښه مې په ياد دي، چې کله کله به زموږ د کور مشرانو او سپين ږيرو ويلې ( کل يوم البتر )، زه به بيا د دوی خبرې ته حيران شوم، چې دوی څه وايي. ايا دا هم امکان لري، چې ورځ تر بلې دي بتري وي.
خو اوس دې نتيجې ته ورسېدم، چې رښتيا هم د هغوی دغه تکيه کلام دلته (افغانستان) کې صدق کوي.
هغه پخوانۍ مينه او محبت مو په او سنيو خلکو کې نشته، پخوانی صداقت نشته، پخوانی انسانيت نشته، نه هغه مکتبونه شته او نه هغه درسونه شته. يعنې ټول پخواني شيان موله لاسه ورکړي دي.
دلته مو د علم او پوهې کچه ټيټه شوې ده، د کميت په لحاظ په هرې برخې کې کار شوی دی، خو کيفيت مو له لاسه ورکړی دی.
سياسي شعور، د فکر لوړوالی، انساني کرامت او داسې نور ټول څه موله پخوا نه خراب شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


زموږ هر څه په زړېدو دي، فکرونه مو زاړه، زړې ارزوګانې لرو او په زاړه خوب ویده یو، د یو انسان د خوب وخت معلوم وي، خوموږ په ډېر اوږد خوب ویده یو.

د مشرانو هغه تکیه کلام چې ویل یې: (کل یوم البتر) په نورې نړۍ کې برعکس دی او هلته (کل یوم البهتر ) دی.

هلته نوي فکرونه دي او هر څه یې ورځ تر بلې نوې کېږي او هغوی نوي نوي کارونه کوي.

هغوی د خپل وخته استفاده کوي، علم او پوهه لاس ته راوړي او نوي نوي اختراعات کوي.

د هغوی لاس ته موږ احتیاجه او محتاجه یو، د هغوی له تکنالوجۍ استفاده کوو، د هغوی له برقه استفاده کوو. دلته ورځ تربلې بتري ده او هلته ورځ تر بلې بهتري ده.

ځوانانو په عام ډول جسمي کار او په خاص ډول فکري کار مو له یوم البتره یوم البهتر ته رسولای شي، کار وکړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# خزان وهلی گل

د نړۍ د ټولو مخلوقاتو تخلیقګر(خلق کوونکی ) الله تعالی دی او د هر شي په پیدا ایښت او فناکیدو کې د الله تعالی لوی حکمت پروت وي.
د انسانانو د پیدا ایښت له لومړۍ ورځې نه مرګ ورسره یو ځای پیدا کیږي، خو د مرګ او ژوند په فلسفه کې د انسان مرګ یې ژوند دی، که چیرې د الله تعالی په پیرزوینې او لورینې یو خدای بخښلي انسان ته د جنت دروازې خلاصې شي، نو حقیقي او اصلي ژوند هلته پیل کیږي.
دځینو شیانو اخري انجام ته خفه کیږو ، خو په دې نه پوهیږو چې د ډېرو شیانو اخري انجام یې د ژوند اغاز وي. ډېر خلک دي چې د انسان مرګ اخري انجام ګڼي، خو حقیقي ژوند وروسته له مرګه پیل کیږي، او همدغه د ژوند پیل دی.
له انسانانو سربیره د نباتانو پیدا کیدل او له منځه تلل هم د الله تعالی د تقدیر په فلسفه کې لیکل شوي دي.
په باغ کې ګلان شنه شي(وغوړیږي )او د وخت په تیریدلو یې د خزان وخت راشي. د ګل او د باغبان یوه قصه ده:یو باغ وي، چې یو زیارکښ باغبان لري او په ټول ګلانو ډېر زهیر وي.
په باغ کې ګلان ډېر وي، خو ځینې ګلان خاص رنګ، ښکلی بوی لري او د ټول باغ خوشبویي ددې د عطرینو وږمو نه خوند اخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


باغبان د ټول باغ په خدمت کې وي، خود هغه سور رنګه ګل بوی او رنګ پرې ښه لګيږي، د ګلاب په پيدا ايښت کې باغبان ډېر حکمتونه ليدلي وي.
په باغبان د غه عطرين ګل ډېر ګران وي او مخکې له دې، چې په ګل خزان راشي، ډېره پاملرنه يې کوي او هيڅکله نه غواړي، چې دا فنا شي، باغبان د دې په پاتې کيدو کې خپل هوسا ژوند ګوري او په فنا کيدو کې خپل د ژوند د پای انجامويني.
د ګل د زرغونيدو سره د باغبان په ژوند کې تغيرات او تحولات راغله، سره له دې چې غذا ورکوونکی او خدمت کوونکی يې باغبان و، خو باغبان په غير ارادي ډول داسې احساس درلوده، چې ګل يې خدمت کوي.
په ګل کې باغبان ډېر تاثيرات ليدلي وو، هو ! دا ګل عادي ګل نه وه، دا د جنت د باغونو نه راغلی ګل و او د الله تعالی له خوا په باغ کې ځکه غوړيدلی و، چې د باغبان حال او احوال الله تعالی ته بو ځي. هو !
د خلقت د کارخانې نه کله کله --- په جهان پيدا يو بل شانې بشر شي
باغبان د ټول باغ خدمت کاوه، خو په دې ګلابي رنګه ګل چې د نورو ګلانو سره يې جوت توپير درلود، ډېر پام کاوه، ورځې او شپې تيريدلې ګل د ورځې يو ډول او د شپې بل ډول بوی کاوه او باغبان يې د ورځې او شپې له بويه خوند اخيسته.د وخت په تيريدلو سره د ګل رنګ پکه کيده او بوی يې له لاسه ورکاوه.
باغبان پوه شو چې پسرلی ولاړ او خزان په راتلو دی، باغبان د ګل په رنګ او بوی مين وو او د ګل په ليدلو يې سترګو کې نور، پوزې ته ښکلی بوی او ټول بدن يې د خوشحالۍ احساس کاوه، د غم څپو يې مخ په خپيرو ووهه او ګل ورځ تر بلې مړاوی کيده.

(c) ketabton.com: The Digital Library


یوه ورځې ګل باغبان ته وویل: زما خزان ته مه خفه کېږه، هره شپه پسې ورځ راځي او د هرې ورځې پسې شپه راځي، دغه شان د هر پسرلي پسې خزان او د هر خزان پسې پسرلی راځي. نن که زه مړاوی شوم، زه بیا زرغونېږم او زما او ستا د مینې سلسله به یو ځل بیا پیل کېږي.

باغبان د ګل خبرو ته هک پک پاتې شو او دا امیدواري ورته پیدا شوه، چې بیا پسرلی راځي او خزان وهلی ګل به بیا زرغونېږي او د بوی او ښکلا به یې برخمن کېږم.

د وخت په تیریدلو ګل مړاوی شو او یوه شپه د باغبان خوب ته راغی او ویې ویل: زه نور ستا په باغ کې نه شین کېږم، ځکه چې زه د جنت ګل یم. زه او ته به په دنیا کې نه بلکې په عقبا کې سره وینو.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# حقیقت

حقیقت پر حقایقو ولاړ وي او په ډېرو شیانو کې حقیقي او غیرحقیقي (مجازي) مسایل او څرکونه تر سترګو کېږي. لکه: حقیقي مینه او مجازي مینه، حقیقي احساسات او غیر حقیقي احساسات، حقیقي پوهه او مجازي پوهه او داسې نور.

د نړۍ له ډېرو غیر اسلامي فیلسوفانو نه هغه اسلامي عالمان بهتره دي چې حقیقي پوهه يې درلوده.

په دنیا کې ډېر غیر مسلم عالمان مجازي(غیرحقیقي) پوهه درلوده، حقیقي پوهه هغه ده، چې د الله تعالی په اوامرو، د رسوالله(ص) په احادیثو او په قرانکریم کې راغلي دي.

قراني پوهه حقیقي پوهه ده او د حقایقو په لټون کې له مسلمان او انسان سره ډېره مرسته کوي.

په اکثرو اسلامي ملکونو او په خاص ډول افغانستان کې حقیقي پوهه ډېره کمه ده او هغه د ګوتو په شمېر تحصیل کوونکي مو هم اکثره مجازي( غیر حقیقي ) پوهه لري. دا چې اکثره تحصیل کوونکي مو ډول ډول نیمګړتیاوې لري، اصلي او حقیقي دلیل يې د حقیقي پوهې نه درلودل دي.

ډېر پوه او لوستي وګړي مو د حق او ناحق، خو او بدو او داسې نورو تر منځ توپیر نه شي کولای، چې اصلي لامل يې بیا هم د حقیقي پوهې نه درلودل دي.

حقیقي پوهه که تر لاسه کړو، حقیقت ته پرې ځان رسولای شو او حقیقي ژوند پرې تیرولی شو او د ژوند ټول کړه وړه به مو پر حقایقو ولاړ وي.

همدا حقیقي پوهه ده چې انسان يې له املـه لوړو پوړیو ته رسیدلای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


قراني پوهه حقیقي پوهه ده، په قرانکریم کې د ډېرو ایاتونو مفاهیم دي، چې وايي: حق باید حقدار ته ورکړل شي، هیڅ انسان باید په بل انسان ظلم ونه کړي یا د قوم پالنې مفکورې ته بده مفکوره او نظریه ویل شوې ده.
د پارلمان یو وکیل دی چې حق ناحق ثابتوي، حقدار ته یې خپل حق نه ورکوي او د قومپالنې مفکوره ورسره او غیر اسلامي کارونه کوي.
ډېر پوه عوام مو همدې ظالم، قوم پرست او ناحق حق ثابتوونکی او حق ناحق ثابتوونکي ته پوه وکیل وايي. دوی وايي: فلاني وکیل د خپل قوم سره ډېر کومک کوي او خپلو خلکو ته یې ډېر خدمت وکړ. اکثره عوام مو پوهه نه لري او د خدمت او خیانت په تعریف نه پوهېږي، چې اصلي لامل یې د غیر حقیقي پوهې درلودل او د حقیقي پوهې نه درلود ل دي.
چاچې وکیل ته رایه ورکړې، هغوی هم په دې نه پوهېږي، چې په ناحقه د یو چا حق خوړل غیر اسلامي او غیر انساني کار او عمل دی، دوی هم حقیقي او اسلامي پوهه نه لري.
بیسواده وکیل په هر ځای کې د خپلو خدمتونو یادونه کوي او دی بیچاره هم د خدمت او خیانت تر منځ توپیر نه شي کولای، ځکه چې دی خو حقیقي او مجازي پوهه نه لري.
د حقیقي پوهې خاوندان ډېر وخت ژوندي وي او د مجازي پوهې خاوندان ډېر ژر له منځه ځي. د حقیقي پوهې برکت دی، چې سید جمال الدین افغان، علامه اقبال، استاد ګل پاچا الفت او داسې نورو کسانو نومونه تلپاتې او ژوندي دي او د مجازي پوهې له برکته ډېر ژوندي له مړو بتر دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# لیدلوري

په هر ځای کې لوی او واړه خلک شته، چې لوی خلک لوی لوی ارمانونه لري او لوی لوی کارونه کوي.
دوی د ځان په فکر کې کم او د ملت په فکر کې زیات دي او واړه بیا وړې ارزوګانې لري او یوازې د ځان په فکر کې وي.
د انسانانو فکرونه سره فرق کوي او دا یو حقیقت هم دی، چې د انسانانو داخلي جوړښت سره توپیر لري.
هر سړی دې دنیا ته د خپلو عینکو په نظر ګوري. یو مالدار هر وخت د مال، دولت، سرمایې او پیسو خبرې کوي، دې ته پیسې له هر شي ډېر اهمیت لري او عزت په مالدارۍ کې ګوري.
یو زاهد د دنیا هر څه قربان کړي او د الله تعالی د لاس ته راوړلو لپاره هر څه ترک کړي دي، دی یوازې د حقیقي ذات سره مینه لري.
د یو لوړ موقف خاوند په دې خوشحاله دی، چې خلک یې آغا او بادار په نامه یاد کړي او د لاس لاندې خلک یې عزت وکړي.
یو خدمتګار د وطن ته له هر څه نه خدمت مهم دی، او دی د هیواد پرختګ خپله دنده ګڼي.
یو شاعر چې یو ښه غزل ولیکي او د خلکو لخوا تشویق شي، دې ته دا څو بیتونه له هر شي ډېر ارزښت لري.
یو فلسفي دې نړۍ ته د شک په سترګه ګوري او په هر څه کې د(ولې) ځواب لټوي او د هر شي په اړه پوښتنه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هو ! د هر چا لیدلوری فرق کوي او د ټولو انسانانو ترمنځ د فکر تفاوت موجود دی.

رښتیا چې د وړوکي کار کوچنی وي او د لویانو کار د ارزښت وړ وي، د لوی او وړوکي توپیر په همدې کې دی.

یو شاعر وایي: د لوی انسان سره د دې دنیا لویه نقشه وي او د وړوکي انسان سره د نړۍ وړه نقشه وي، لوی فکرمند او عالمان انسانان ښارونه جوړوي، ملکونه جوړوي او واړه انسانان د ځان لپاره کورونه جوړوي.

استاد الفت هم په دې اړه وایي: (په انسانانو کې ډېر تفاوت شته دی، په دوی کې ځینې د ځان لپاره خدمت کوي او د ځان په فکر کې دي او ځینې بیا جهان په فکر کې دي او جهان جوړوي.)

(c) ketabton.com: The Digital Library


# علم او عمل

علم او پوهه د انسان د ژوند ښکلا ده، علم هغه سرمایه ده، چې ټول عمر د خپل مالک سره بې وفايي نه کوي او د ژوند په هر ستونزمن وخت کې يې پکاريږي.

دغه سرمايه، نه ورکيږي، نه تاوان کوي او نه يې څوک غلا کولای شي، خو اساسي خبره د علم سره عمل دی.

لکه څرنګه چې د يو تجار لپاره سرمايه او په همدې سرمايي يو ښه کاروبار جوړول يو اساسي کار دی، دغه ډول د انسان لپاره د انسان سرمايه يې علم دی او له همدې علم نه پرځای او ښه استفاده کول يې عمل دی. يعنې د علم د ارزښت ټاکلو لپاره يې عمل ضروري دی. بې عمله پوه عالم او تحصيل کوونکی انسان نه هغه انسان څو مرتبې بهتره دی، چې پوهه او علم نه لري.

يو مسلمان که د انسانيت له دايرې ووځي او انساني کرامت ته ارزښت نه ورکوي او هر ډول غير انساني کارونه کوي، دلته دغه انسان او مسلمان ملامت دی، د اسلام په دين کې ملامتيا نه شته.

نو هغه عالم او پوه انسان، چې د پوهې د درلودلو سره سره عمل نه کوي، دلته هم علم او پوهه ملامته نه ده او نه بايد ورته په سپکه سترګه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وګورو ، دلته عمل ملامت دی، همدا عمل دی، چې د پوهې ارزښت ته ډېر خلک په سپکه سترګه ګوري. استاد الفت وايي:

چې عمل او فکر یو له بله بېل شي
عمل خوار شي فکر ورکه سمه لار کړي

د استاد له (فکر) نه مطلب (علم) دی او له (کار) نه مطلب (عمل) دی، چې د علم لپاره عمل او د عمل لپاره علم مهم ګڼي.

هو ! يوه پوهه ده، که چېرې ښه او پرځای استفاده ورنه وشي او پوهه د عمل پر ګانهٔ سمباله شي، له يوه انسانه ښه انسان جوړولای شي او که چيرې د علم او پوهې سره عمل نه وي، نو بيا د همدې انسانه شيطان جوړوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# د معنویاتو ارزښت

په وروسته پاتې ولسونو کې مادیات ډېر اهمیت لري او په پرمختللو هیوادونو کې معنویاتو ته ارزښت ورکول کېږي.

هر سړی خپل دید او نظر لري خو د مادیاتو لاس ته راوړل اسانه کار دی نسبتا معنویاتو ته.

استاد الفت وايي:

ډېر تفاوت شته په انسان کې د معنا په لحاظ
واړه مشغول دي ځیني ځان ځیني جهان جوړوي

هو ! د مادیاتو په لاس ته راوړلو ځان ته خدمت کولای شو او د معنویاتو په لاس ته راوړلو جهانونه جوړولای شو.

نن په ټولې نړۍ کې د هغو خلکو نومونه یادیږي چې معنوي لاس ته راوړنې درلودې او په یو نه یو ډول د خدمت لاملین ګرځیدلي دي.

یو عالم وايي: ( د نیکانو لوی ارمان دادی، چې د سړو جوړولو په کار کې برخه ولري، که څه هم د دوی کار پټ پاتې شي او څوک پرې پوه نشي. )

رښتیا چې د انسانانو جوړول د هر چا کار نه دی، او که وغواړو چې انسانان تربیه کړو، نو باید چې د ولس ککرو او سرونو ته خدمت وکړو او د دوی په مغز کار وکړو.

همدا ککره ده چې په ټول بدن مشري کولای شي او بدن خپل تابع ګرځولای شي.

دغه ککلرې په پوهې او علم اصلاح کېږي او پوهه ده چې د انسان په سلوک کې مثبت تغیرات راوړلای شي.

معنویات تر لاسه کړئ، چې خلکو ته پوهه او علم ورکړئ او د معنا په لحاظ بشپړ انسانان ټولنې ته ورکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# د شهرت وږی

که غواړئ چې خلک مو قدر او عزت وکړي، خپلې ټولنې ته خدمت وکړئ.

کوښښ مه کوئ چې خلک مو باید حتما وپیژني او شهرت تر لاسه کړئ، ځکه چې په شهرت کې له انسانه ځان ورکېږي او غرور او تکبر انسان کې پیدا کېږي.

یو انسان ته دا مهم نه دی چې حتما باید پیژندل شوی انسان د ټولنې وي او د شهرت نه دې برخمن وي. بلکې د مینې، سرېتوب، انسانیت، اسلامیت، خدمت او دا سې نورو لاملونو په سبب د انسانانو په زړونو کې ځای پیدا کړئ، چې له مرګه وروسته هم ژوندي او د ولس په زړونو کې تلپاتې مینه ولرئ.

تاسو په خلکو ځان مه پیژنئ، پرېږدئ چې خلک تاسو وپېژني. دا سې انسانان شته چې ټوله دنیا یې نه پېژني او د فقیری ژوند تیروي، خو د الله تعالی خوښ او هغه (ج) یې پېژني، کوښښ وکړئ که ټوله دنیا مو نه پېژني خو چې الله تعالی مو وپېژني.

د شهرت دغه ولږه مې په ډېرو انسانانو کې ولیده، چې د دوی د نیکبختۍ نه بلکې د بدبختۍ باعث وګرځیده.

د نړۍ ډېرو لویو عالمانو او پوهانو د شهرت تنده نه درلوده، خو الله تعالی په خپلې پیرزوینې او لورینې ورته ورکړه.

یو عالم وایي: (که په افتخار او شهرت پسې ګرځې، نو زما پند مه هیروه ! هغه دا چې له شرافت نه لاس واخله !

هو ! شهرت مه غواړئ، پرېږدئ چې درکړل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# د ماضي هېرول

تېرې خبرې هېرې کړئ او په ماضي باندې فکر مه وهئ، په تېرو خبرو فکر کول په هوا کې مرغان نيول او د مړي پسې ژړا کول دي.
د هېرولو هنر بايد زده کړو، خو د ځينو خبرو هېرول اسان کار نه دی او په غير ارادي او نا شعوري ډول انسان زوروي.
موږ د انسانانو بد نشو هېرولای او ښه يې ډېر ژر هېروو، چې د بدو هېرول ښه کار دی او د ښو هېرول ښه کار نه دی.
د بدو نه هېرول په انسان کې کينه او غضب زياتوي او د ښو هېرول انسان احسان فراموشه کوي.
له چا سره چې دې ښه وکړه د احسان بدلې په طمع يې مه او سېږه، خو له چا سره چې ښه شوې وي، هغه يې بايد هېر نه کړي او هر چيرته دې د نوموړي احسان يادوي.
سپنسر وايي: ( هر څه هېر کړه، هر څه هېر کړه هېرول ډېر لوی هنر دی! هغه درونند بار، چې تا سره دی له ځانه وغورځوه. که غواړې چې والوزې، که ارزو لرې چې له لوړو او هسکو څوکو سره اشنا شې درانه او سنګين شيان سيند ته وغورځوه، دغه دی سيند، هله ژر شه خپل ځان سيند ته وغورځوه د هېرولو هنر ډېر لوی هنر دی.)
يو بل عالم وايي: ( هغه څوک چې د چا بد نشي هېرولی ښه سړی نه دی. څوک چې هميشه د بل د ملامتۍ خاطره له ځان سره ساتي د ښه زړه خاوند نه دی. )
هو! د ځينو شيانو هېرول ښه کار دی، خو هېرول يې اسان کار نه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# لوی فکر

ځینې خلک له وخته مخکې فکرونه کوي او ډېرې لوړې ارزوګانې ورسره وي، دا هغه کسان دي چې د ځان او ټولنې په باب پیش بیني کولای شي.
داسې خلک د نړیوالو مفکورو خاوندان وي او هېڅکله ځان نه محدودوي.
که غواړئ چې لوی او نوم وتی انسان په انسانانو کې او سېږئ، نو لوی فکر ولره او هېڅکله ځان لکه د بندي مرغه مه بندي کوئ.
هغه چې نړیوال فکر لري ډېر ژر د خلکو زړونه نه شي تسخیرولی او د عوامو په زړونو کې ځای نشي پیدا کولای.
هغه چې ورځنۍ خبرې کوي ډېر ژر له خلکو لخوا منل کېږي.
ملنګ جان او استاد الفت د یو وخت شاعران دي، ملنګ جان پخپل وخت کې له استاد الفته زیات شهرت درلود، خو استاد الفت نن ډېر شهرت لري او د لوړ مقام لیکوال او شاعر دی.
هغه چې ژر د شهرت خاوند کېږي ژر له منځه ځي او هغه چې د وخت په تېریدلو نوم پیدا کوي، د هغوی نوم تلپاتې وي.
تیز بارانونه ډېر سیلونه راوړي او ژر تر ژره مځکه خړوبوي، خو هغه باران وهلې مځکې ډېر ژر وچیږي، په مقابل کې هغه بارانونه چې ورو ورو او دوامداره وریږي، د مځکې تل ته یې نم رسېږي او خطرناکه وي.
شوپنهاور وایي: (هغه افتخار چې لکه د خېړې ونه په ډېر وخت کې وده کوي او غټیږي، دوام او پایښت یې هم ډېر وي.
هغه بل افتخار چې لکه د سپرلي بوټي ژر پیدا کوي او ژر لویېږي له یوه فصل نه زیات دوام نه لري او ډېر ژر له منځه ځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


د هنر خاوند چې له ابدیت نه هر څومره زیاته استفاده وکړي، یعني په ټول انسانیت پورې تعلق ولري هماغومره له خپل عصر څخه پردی وي، دا ځکه چې د هغه اثر د هغه په عصر پورې اختصاص نه لري، بلکې د بشر د تاریخ یو جز وي، د همدې لامله معاصرین ورته ښه نه ګوري، بلکې بالعکس په هغو کتابونو پسې هڅه کوي چې ورځینې مسایل پکې وي.)

هو ! هغه افتخار چې په سختۍ لاس ته راځي لزت یې زیات وي. ډوډۍ او یخې اوبه هغه وږي ته ډېر خوند ورکوي، چې په ډېرو تکلیفونو یې پیدا کړي وي او ښه ورته وږی او تږی وي، ډوډۍ او اوبه موړ ته خوند نه ورکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# فکري ښکلا

د انسان د پيدا ايښت سره مرګ او د ځواني سره زړښت شته دی. د انسان د ژوند په هره مرحله کې د الله تعالی لوی حکمتونه پراته دي.

ځينې خلک د ځواني ارمان کوي، خو زما په پوهه ښه ده چې زړښت شت، مرګ شته، جنت او دوزخ شته.

د هر انسان دوه وجوده او جهتونه دي، چې داخلي وجود او جوړښت او بيروني وجود او جوړښت په نوم يادېږي.

د انسان په زړښت کې داخلي جوړښت له بهرني جوړښت سره نېغ په نېغه اړيکې لري.

د اکثرو ناپوهو او بې علمو کسانو بيروني جوړښت (( قد ، قواره ، سترګې ، غوږونه او داسې نور ) ) چې زړيږي ، داخلي جوړښت يې (( اعصاب ، زړه ، هډوکي ، مغز او داسې نور ) ) هم ورسره زړيږي. د دې په مقابل کې د پوهو کسانو بيروني جوړښت او جهت چې زړيږي ، داخلي جوړښت د بدن يې لا ځوانېږي. دلته بهرنی جوړښت له داخلي جوړښت سره چندان اړيکي نه لري.

دلته جسمي او بيروني ښکلا ته ډېر ارزښت ورکول کېږي او د بدن د ښکلا په نامه زښت زيات روزنځايونه شته دي او ډېر ځوانان مو په ډېرو مصارفو خپل بدنونه او جسمونه جوړوي، چې دې ته بيروني ښکلا

(c) ketabton.com: The Digital Library



وايي، خو دلته ضرورت بل ډول احساسېږي او د بيروني ښکلا نه داخلي ښکلا ته زيات ضرورت دی، چې د هغې جملې نه د فکر ښکلا په نامه بايد ډېر د تمرين ځايونه جوړ شي.

په جسمي او فزيکي لحاظ ډېر انسانان په ټولنې کې لرو، خو د فکر خاوندان ډېر کم کسان لرو.

استاد الفت وايي: ( په يوه محيط کې چې هر څوک په ماديا تو افتخار کوي هلته د فضيلت خاوندان حقير وي. )

هو ! دلته حساب په پيسو، موټرو، واسطو او داسې نورو لاملونو کېږي، نه د فکرونو پر اساس.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# د زړه پیغام

زړه ډېر کوچنی او له دربیو تورو جوړ شوی نوم دی، چې ټول بدن ته خوشحالي، خفګانونه، امیدواري، قناعت او داسې نور ورکولای شي.
کله معصوم شي، کله ظالم شي، کله قوي شي، کله ضعیف شي، کله هوښیار شي، کله ساده شي، کله د سمندر په څېر ارام شي او کله د ابشارونو په څېر نا کرار شي.
زړه چې خفه شو، ټول بدن به دي خفه وي او که له سترګو دې اوښکې راځي، دا هم د زړه د خفګان نتیجه ده.
ډېر وړوکی دی، خو لوی لوی خوشحالي ګاني او خفګانونه پکې پراته دي او چې خفه شي بیا په اسانۍ نه پخلا کېږي.
د زړه درد دی چې انسان قوي کوي او لوی لوی کارونه کوي، د نړۍ لویو فیلسوفانو همدا درد زغملی وو، چې نن یې نومونه تلپاتې دي، په انسان کې د زړه درد نه وي هغه به څه انسان وي، استاد الفت او د دې په شان نورو نوموتو لیکوالانو د زړه درد درلود چې نن یې هم کارنامې ژوندي دي.
اناتول فرانس وایي: ( په دغه جهان کې د هر چا د لوړیدو لپاره یوه پله او پایه په کار ده، چې هغه درد او الم دی. )
د یو انسان زړه لاس ته راوړل اسان کار هم نه دی او سخت کار هم نه دی، خو بیا هم د زړه په لاس ته راوړلو کې لوی ثواب دی. که غواړئ چې یو انسان خپل تابع کړئ ، زړه یې لاس ته راوړئ او د مینې او محبت بادشاه زړه دی.
یو شاعر وایي:

(c) ketabton.com: The Digital Library


دل به دست اوردن حج اکبر است
از هزاران کعبه یک دل بهتر است

شاعر هم د زړه په لاس ته راوړلو تاکید کوي او له زرو کعبو څخه يې بهتره ګڼي.

قناعت، سخا، بخل، درد، احساسات، قوت، غنا، حرص او داسې نور د زړه پورې اړه لري.

زړه که دې غني و، ته غني يې. زړه که دې بادشاه وه، ته بادشاه يې. زړه که دې فقير و، ته فقير يې.

يو شاعر وايي:

قناعت مې تر خرقې لاندې اطلس دی
پټ د درست جهان بادشاه ظاهر ګدا يم

رښتيا هم که قناعت په زړه کې موجود و، بادشاه يې او هېڅکله هم د غريبي او بېچاره ګي احساس به و نه کړې.

يو عالم وايي: (له مرګه نه وېرېږم، که څوک راته ووايي چې نن شپه مرې زه به ووايم، چې د الله تعالی رضا مې قبوله ده، مګر خدای دې نه کا چې څوک راته ووايي د يو تن ژوند ستا له لاسه تريخ دی.)

هو ! د يو انسان زړه لاس ته راوړل او خوشحالول اسان کار دی خو خفه کول يې لا اسان کار دی، که غواړئ چې انسانان لاس ته راوړئ نو زړونه يې لاس ته راوړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# د یوازیوالي ګټه

اکثریت خلک په مجلسونو کې خوشحاله وي او اقلیت د وګړیو یوازیوالی خوښوي.
ځینې خلک د لیکلو او فکر کولو په رنځ اخته وي، نشي کولای چې اجتماعي روابط په ټولنې کې ولري، خپلوان، دوستان، کورنې او داسې نور ورنه خفه وي، دی یوازې خوشحاله وي او په یوازیوالي کې د دې او د ټولنې ګټه وي. په یوازیوالي کې له درواغو او غیبت کولو نه هم خلاص یو.
یو جسماني قوت دی او بل فکري قوت دی، چې له جسماني قوته فکري قوت ته په عام ډول په ټولې نړې کې او په خاص ډول په افغانستان کې زیاته اړتیا لیدل کېږي.
د جسم د جوړولو لپاره ډېر روزنځایونه شته دي او سپورت ورته زیاته ګټه کوي، خو د فکر کولو لپاره یوازیوالی او تنهایي دومره ګټه لري، څومره چې د جسماني قوت لپاره یې سپورت لري.
په یوازیوالي کې د فکرکولو وخت سړي ته پیدا کېږي او فکري قوت یې زیاتېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په جسماني قوت به لوړې لوړې ماڼۍ، پلونه، سرکونه او داسې په زرهاوو کارونه وکړو، خو که علم او پوهه نه وي، جسماني کارونه هم بې معنا کېږي.

یو عالم وایي: (که یو سړی یوې کوي یو بل قلم را اخلي اخبار ته مقاله لیکي هغه بل ناست وي د اجتماعي چارو د بهبود د پاره فکر کوي هر یو کار کوي او د کار سړي بلل کېږي.

هو ! دا ټول کارونه دي، مګر د ټولو اهمیت یو راز نه دی، ځینې کارونه به وي، چې خولې پکې نه تويېږي، غړي پکې ډېر نه ستړي کېږي، مګر قدر او قیمت به یې زیات وي، دغسې دنیا کې سره او سپین، جوار او غنم، خر مهره او نعلونه تفاوت سره لري، د انسانانو کارونه هم جګ او ټیټ قیمتونه سره لري او ټولې چارې یو له بله برابر نه دي.)

عقل، پوهه او علم دی چې فکر کولو ته موقع برابروي او فکر دی چې جسماني کارونو ته لار هواروي.

د نړۍ ډېرو فیلسوفانو د فکر کولو تمرین درلود او د فکر د تمرین لپاره یوازیوالی ښه وخت دی.

ډېر با احساسه او با درده لیکوالان مې د غم په حالاتو کې د ښو لیکنو بېلګو سره ولیدل او دوی د غم او درد دغه کړیدلی حالت په یوازیوالي کې تیروه.

ځینې خلک خوشحالۍ ته خوشحالېږي او غم ته خفه وي، خو د غم برکت دی، چې یو لیکوال یوازیوالی خوښوي او دغه تنهایي د دې د ښو لیکنو سبب کېږي، چې وروسته له مرګه یې هم نوم تلپاتې وي او د دوی په همدې غم کې د اینده ورځې خوشحالي نغښتې وي.

غم سړی یوازې کوي، سړی قوي کوي او بالاخره له ځینو لوی لوی لیکوالان جوړوي.

هوګو وایي: (بدبختي ده، چې عقل او پوهه تربیه کوي.)

(c) ketabton.com: The Digital Library


یوازیوالی د ځینو انسانانو د نیکبختۍ سبب ګرځي او د ځینو انسانانو د بدبختۍ لامل ګرځي، هغه چې پوهه لري کولای شي فکر وکړي او خپل یوازیوالي نه ښه استفاده وکړي او هغه چې پوهه نه لري، امکان لري چې په ډېرو بدو لارو سر شي.

جبران خلیل جبران وایي: (یوازیتوب یو داسې ژور توپان دی چې زموږ د ژوند د ونو ټول وچ ښاخونه ماتوي لاکن زموږ ریښې نورې ګړندۍ او د نېکمرغۍ خاورې ژور تل ته یې رسوي.)

جبران هم په یوازیوالي کې خپل کامیابي ویني او د فکر کولو لپاره ښه وخت تنهایي ښیي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# کامیابي

ناکامۍ ته مه خفه کېږئ، ځکه چې ډېر فیلسوفان او عالمان له ډېرو ناکامیو وروسته د کامیابیو پړاوونه وهلي دي.
که کامیابي ته سرې خوشحالیږي، نو دا د ناکامۍ برکت دی. ځینو شیانو ته خفه کیږو او داسې فکر کوو چې تاوان به مو پکې وي، خو امکان لري، چې د تقدیر په فلسفه کې مو په هغه کار کې ګټه وي.
بریټس ګلس وايي: (بریا ښه ده چې ویې لمانځو، خو ډېره مهمه دا ده چې د ناکامۍ درسونه هم رعایت کړو. ځینې خلک د خپلو بریاوو راز ناکامي ګڼي.
هو ! د کامیابیو پر ځای ناکامي ولمانځئ او د خوشحالیو پر ځای خفګانونه.
که ناکامي نه وي د کامیابیو په قدر نه شو پوهیدلای او که خفګانونه نه وي، د خوشحالیو احساس نه شو کولای.
مایکل جورډن نامتو امیریکایي باسکټبالر وایي: (زه ځکه بریالی شوم چې ما بیا بیا ناکامي ولیده.)، د نړۍ مشهور پهلوان تختي څو څو ځلي د المپیک په سیالو کې د ناکامۍ سره مخامخ شو، خو وروسته د نړیوال ستوری شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library


اې خلکو ! د الله تعالی په تقدیر ایمان ولرئ، او د قضا او قدر په فلسفه کې چې څه لیکل شوي وي، زمونږ او ستاسو په ګټه دی.
که خوشحالي وي او که خفګان وي، کامیابي وي او که ناکامي وي، ژوند وي او که مرګ وي.
مشهور فزیک پوه نهه نوي ځله هڅه وکړه چې خپله تجربه ثابته کړي، خو په سلم ځل کامیاب شو.
د کامیابي پیدا ایښت د ناکامۍ د تخم په زرغونیدو کې وي. د انسان په هر پړاو کې ناکامي شته، خو کامیابي ورسره تړلې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# دروندوالی

د انسان ظاهر ته مه ګورى بلکې باطن يې مطالعه کړى، ظاهر بين انسان هر وخت د انسان په پيژندلو کې سهوه کيږي او باطن بين انسانان د انسان په پيژندلو کې له ډېر احتياطه کار اخلي.
د انسان ظاهر يې صورت دى او باطن يې سيرت دى او د هر شي لپاره له صورته سيرت ډېر مهم دى.
زموږ د ټولنې اکثره خلک ظاهر ته ګوري او دوى هم ظاهر جوړولو باندې اخته دي، او د باطن نه ناخبره دي، نو ځکه يې باطن خراب دى.
د انسان جاه او جلال، مال او دولت، لوړې ماڼۍ او ګړندي موټران او ښه لباس اغوستل مهم نه دي، ترڅو چې د انسان فکر نوى نه شي.
انشټاين وايي: ( په زړو جامو باندې مه شرميږه، بلکې په زړو فکرونو باندې وشرميږه. )
هو، رښتيا چې د اکثرو غريبو پوهو نه هغه د پارلمان وکيلان ډېر بد تر دي چې زاړه، خراب او بې کاره فکرونه لري.
د انسان ښکلا هم په سيرت کې دى او هغه د معنوياتو سره رابطه لري، چې د انسان فکر ښکلى شو، نو ډېر بد رنګه انسان هم ښکلا پيدا کوي.
کله کله ګورم چې ډېر خلک ځان تلي او غواړي چې خپل وزن معلوم کړي چې وزن يې زيات شوى دى او که کم شوى دى، چې د غه د وزن زياتوالى او کم والى هم د صورت سره تړاو لري او که يو انسان غواړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې خپل اصلي او حقيقي وزن معلوم کړي ، نو خپل فکر دې وتلي او بيا دې له ځان سره محاسبه وکړي.
دلته اکثره خلک په جسمي لحاظ ښه دي، او وزنونه يې برابر دي، خو فکري قوت او برابري يې د بدن په توازن کم دی.
د نورې نړۍ خلک د هر شي حساب په فکر او عقل کوي، هغوی په هغو خلکو وياړ کوي چې د فکر، عقل او پوهې درونداوالی لري نه د جسم غټوالی او درونداوالی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# فکر او عمل

انسان اشرف المخلوقات دی او په ژوندیو او غیر ژوندیو توکو کې د ښه او پر ځای فکر کولو توان ورته الله تعالی ورکړی دی.
دی باید فکر وکړي او ټولنې ته د خیر کارونه وکړي. فکري قوت، فکري تمرین، او فکري تمرکز یې د ځان او ټولنې د خیر ښېګڼې لپاره وي.
ای ! انسانان فکر او عقل لرئ، باید ځان او ټولنې ته خدمت وکړئ، خو بیا هم اکثره له تاسو د ډېرو هغو توکو بتر دي، چې نه عقل لري او نه پوهه لري، خو بیا هم خدمت کوي.
کاش چې ځینو انسانانو له دغو توکو عبرت اخیستی او د انسانیت حق یې ادا کولی.
پلونه په ډېر عاجرانه ډول ځای پر ځای مستقیم په یخني او ګرمي کې د انسانانو په خدمت کې دي او ستونزې یې هوا روي. درانه درانه پیټي او بارونه پر خپلو اوږو باروي او هیڅ کله یې د انسانانو په مقابل کې سرکشي نه کوي، خو په انسانانو کې څو مره انسانانو د نورو انسانانو بار له اوږو واخیست، کوم انسان له بل انسان سره بې مقصداو بې هدفه د بل انسان سره ښه وکړه، په څو مره انسانانو کې د پول په اندازه کمنې او برده باري شته.
هو ! د دې بافکره انسان نه هغه بې فکره پول ډېر ښه دی، د دې کبرجن نه هغه بې کبره پول ښه دی.
ځمکې باندې څو مره زیات تعداد انسانان ګرځي، څو مره پیدا شوي توکي یې پر سر پراته دي، څو مره د نړۍ د توکو لپاره د خدمت مصدر

(c) ketabton.com: The Digital Library


ګرځېدلې ده. ایا انسان د ځمکې حق ادا کولای شي؟ ایا په خدمت کې ورسره سیالي کولای شي؟
ونې په ګرمي او یخني کې مستقیم ولاړې وي، خاص د انسانانو د خدمت لپاره. ښکلې، خوندورې او رنګا رنګ میوې نیسي او انسان یې خوري، کله یې هم خپلې میوې پر انسان خرڅې نه کړې، کله یې هم له احسانه ډکه میوه انسان ته ورنه کړه. داسې څومره انسانان به په ټولنې کې ولرو، چې د میوه دارو ونو په شان دې په کلونو کلونو انسان ته بې هدفه او بې احسانه میوې، دانې او یا داسې نور خوراکي توکي ورکړي.
اسمانونه وګورئ، شین شي، وریځ شي، بارانونه ورنه وشي، میوې دانې پخې کړي او هر وخت د انسانانو په خدمت کې وي، خو ډېر کم انسانان به د نورو انسانانو خدمت وکړي.
ای انسانه ! ته څه ډول فکر او عقل لرې، چې کارونه دې د بې فکرو نه بتر دي. لږ عقل خو د پول، اسمان، ونې او ځمکې نه یاد کړه، چې څومره په مینه د انسانو خدمت کوي. ته خو تش په نوم انسان یې.تا خو په معنوي لحاظ د انسانیت حق نه دی ادا کړی.
تا کبرجن نه خو څو مرتبې کمینه ځمکه او پلونه بهتره دي. حال دا چې پلونه ستا په واسطه د خدمت لامل ګرځیدلي دي، خو ډېر وخت داسې کارونه وکړی، چې ټول ښه دې په سیند لاهو شي.
فکر وکړه او عمل وکړه، لکه بې فکره او بې پوهې ځینې توکي چې عمل کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# د مجازي مينې مقام

ځينې مجازي مينې د حقيقي مينې مرتبې ته نږدې وي. د نړۍ په هر شي کې کاميابي او ناکامي شته. خو اى انسانه ! په دې پوه شه چې خوشحالي او خفگانونه درته الله تعالى درکوي او دا چې الله پاک درته د تقدير په فلسفه کې جدايي او فراق ليکلى وي، په دې خوشحاله اوسه.
اى ځوانه ! خپلې ناکامۍ ته مه خفه کېږه ! ځکه د ځينو ناکاميو کاميابي په ناکامي کې ده.
په نړۍ کې سترونزمن ترينه ناکامي د مينې ده، کوم تکليف او سوزنده اور چې په مينې کې دى، د نړۍ په هيڅ شي کې نشته، خو همدغه د مينې ناکامي وه، چې د ليلا او مجنون نومونه په ټولې نړۍ کې ياديږي او ستوري يې په اسمان کې يو ځاى دي، د ليلا او مجنون د مينې ناکامي وه، چې نن تلپاتې نومونه دي او کاميابي يې په همدې ناکامي کې وه.
د مينې له درده سخت درد نشته، چې په ځينو انسانانو د نړۍ له ټولو تکليفونو نه سخت تېريږي.
په غير ارادي (ناشعوري ) ډول د خفگان هغه احساس چې په مين کې وي، د نړۍ په هيڅ انسان کې نه وي، خو د دې خفگان احساس د هر چا کار نه دى، تر څو چې يې د درد دغه مرحله نه وي تيره کړي.
د مجازي مينې اقساموکې يې يو ډول د مينې (ليلا ) سره مينه ده، چې له ډول ډول مينو يې تکليف زيات دى، هغه اوښکې چې د مين له

(c) ketabton.com: The Digital Library


سترګو غورزېږي، له نورو سترګو يې بېهيدل امکان نه لري، د مين ټول بدن نارامه وي، سترګې يې هره لحظه د چينو په شان رواني وي، يوه ورځ يې د يوه کال سره برابره وي، وخت او زمان پرې ولاړ وي، دنيا پرې تنګه وي، او د نړۍ په هر شي کې د وحدت الوجوديانو صوفيانو چې الله تعالی ويني، مين پکې خپله ليلا ويني.

مين خپلې مينې ته اړتيا لري، خو دا چې اکثره مينان يو بل ته نه رسېږي، نو ډېر خلک بايد د مين مقام ډېر لوړ وګڼي او مين سره مينه وکړي، ځکه چې دوی د مينې لپاره ليونيان شوي وي.

په غير ارادي ډول د مين ليونتوب د هغو ليونيو نه چې له موره ليونيان پيدا شوي وي سخت دی.

د مينې په بدنامۍ کې يې نيک نامي ده، ځکه چې اکثرو ته مينه کول ګناه ښکاري، خو د ځينو مجازي مينانو او عاشقانو مرتبه د حقيقي مينانو سره برابره وي.

ای خدايه! د مينې درد سخت ترين درد دی، په دې رنځ هيڅوک مه مبتلا کوه، ځکه چې د دې رنځ علاج ناممکنه دی او د ژوند تر وروستۍ سلګۍ پورې يې تکليف د انسان روح او روان ته صدمه رسوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# د پوهې ارزښت

په نړۍ کې هر انسان د پیدا ایښت له ورځې تر مرګه پورې په منظم او غیر منظم ډول زده کړه کوي او د پوهې حاصلولو په هڅه کې دي.
د پوهې ارزښت د نړۍ په ټولو ملکونو کې یو شان نه دی، په پرمختللي هیوادونو کې پوهې ته ډېر ارزښت ورکول کېږي او په ځینو وروسته پاتې هیوادونو (افغانستان) کې بیا پوهه په هغه کچه ارزښت نه لري، لکه په پرمختللي هیوادونو کې یې چې لري.
دلته (افغانستان) کې که یو کس ډېره پوهه لري، د دې پر ځای چې د خوشحالۍ احساس وکړي، ډېر وخت د خفګان او افسردګۍ په حال کې وي. د ده پوهه چې له دې څه غواړي او دې له محیطه څه غواړي، محیط یې ورته نه شي ورکولای.
یو پوه انسان د خپل انډول برابرو انسانانو سره وخت او ژوند تیرول غواړي، خو داسې انسانان کم او یا د نشت سره برابر دي.
په یو ځنګل کې چې د ځنګل قانون وي، انسانان پکې ځنګلي او له تمدن او پرمختګله ناخبره وي، که چېرې دوی د قیمتي کاڼو یوه زخیره پیدا کړي، دوی ته هیڅ ارزښت نه لري، ځکه چې دوی قیمتي کاڼي نه پیژني.
په همدې ډول چیرته چې د پوهې او علم ارزښت کم وي، هلته پوه انسان هم خپل قیمت له لاسه ورکوي، که پوه انسان هر څومره پوهه ولري، چې اکثریت مو ناپوهه وي، اقلیت پکې محوه کېږي.
که یو انسان ډېره پوهه ولري او په ټولنې کې اکثریت ولس مو ناپوهه وي، پوه انسان مجبوره دی، چې په ټولنې کې په ارادي او شعوري ډول د ناپوهو سره د وخت او ژوند تیرولو هنر زده کړي او که دی ډېره پوهه

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم ولري، باید له ځانه ناپوهه جوړ کړي، خو په غیر ارادي (ناشعوري) ډول کله کله پوه انسان باندې دنیا تنګه شي، وخت او زمان تیریدل پرې دوزخ شي.

استاد الفت وایي: (ماته هوښیاري او پوهه ځکه ښه ښکاریده چې ډېره لږه وه او له لږو خلکو سره وه، هر څه چې لږ وي، قیمت یې ډېر وي او خلک یې ارمان کوي، هر څوک هغه څه غواړي، چې نه یې لري.)

رښتیا چې پوهه او پوه کسان ډېر لږ دي او تر څو چې پوهه ارزانه نشي او خپل قیمت او ارزښت له لاسه ورنه کړي، یعنې پوه کسان په ټولنې کې زیات نشي، آن تر دې چې یو غریبکار، دهقان، دوکاندار او داسې نور وګړي د ټولنې مو پوه انسانان نه وي، د پوهې له بها به ناخبره او سو او د پوهانو پر ځای به د ناپوهانو عزت زیات وي.

د دې پر ځای چې ناپوهان د خپلې ناپوهۍ نه د خفګان احساس وکړي، پوهان مو پر غم اخته دي.

بې ارزښته او ناپوهو کسانو ته پوهه هیڅ ارزښت نه لري، چیرته چې پوهه زیاته وي هلته د پوهانو ارزښت زیات وي او چیرته چې پوهه کمه وي هلته د پوهانو پرځای د ناپوهانو ارزښت زیات وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پوهنه رڼا ده

د پوهې، علم او پوهانو بحث فلسفي اړخ لري، نو له همدې امله پوهه جامع، مانع، کوټلې، منلې او ټولنمنلې پېژند نه لري.

د پوهانو په انتخاب کې د نړۍ اکثره وګړي په يو نظر نه دي، چې دليل يې بيا هم د پوهې لپاره يوه ټاکلې پېژند نه ده.

په اکثرو ځايونو کې ګورم چې ليکل شوي دي: ( پوهنه رڼا ده )، خو ما ډېر پوهان ناپوهان وليدل، او يا ډېر ناپوهان مې په خپل فکر پوهان وليدل، داسې کړنې مې له دوی وليدلې چې په ناپوهانو کې يې ناپوهان نه کوي.

اکثره نالوستي او ځينې لوستي وګړي مو د پوهانو په انتخاب کې له ستونزو سره مخامخ دي او دوی ډېر وخت د انسان ظاهر ته ګوري. دوی بايد په دې پوه شي چې د انسان له ظاهره يې باطن ډېر مهم دی، ځکه چې پوهه د انسان له داخلي جوړښت سره مسقيم او غير مستقيم اړيکه لري، نه له خارجي جوړښت سره.

د نړۍ ټولو انسانانو ته د انسان په نوم غږ کېږي، خو ټول انسانان هيځکله انسانان کيدای نشي، يو ښه انسان بايد د انسانيت ټولې ښيګڼې ولري، انساني کراماتو ته اهميت ورکړي. که د معنا په لحاظ په انسان کې انساني خويونه موجود نه وي، دی د انسان په قد او قواره تش کالبود دی.

ډيرو پوهانو ته هم د يو پوه انسان خطاب کېږي او ولس مو ظاهربين دي او د باطن نه ناخبره دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


د انسان له صورته سیرت مهم دی، د یو انسان ظاهر یې صورت او باطن یې سیرت دی. که په نوم پوه انسان ته د پوه په نوم غږ کوو او له ده سره نه علم او نه عمل وي، نو دی هیڅکله پوه انسان کېدای نشي.
ځینې خلک پوهه په پوهنتونونو، مکتبونو، علمي ځایونو او کتابونو کې لټوي، خو ما ډېر کتاب لوستونکي بې کتابه ولیدل. د پوهنتونونو ډېر فارغان مې حرام خواره او فاسده انسانان ولیدل.
استاد الفت وايي:
بصیرت او علم نشته په کتاب کې
که څه نه وي د مغزو په پیچ وتاب کې
علم او پوهه بل شی نه ده بینایي ده
خوشې ناست یې پټې سترګې په محراب کې
پوهه ټوله راوتلې له مغزو ده
هسې نه چې په دې ډېرو کتابو ده
دا چې پوهه یوه معیاره پېژندنه نه لري، نو له همدې امله استاد هم د ډېرو کتابونو لوستونکیوته پوه نه وايي.
الفت صاحب وايي:
په تعلیم به یو څوک پوه په زېر او زور کړې
بې هنره به صاحب د کوم هنر کړې
ور په سر به کړې خولۍ د پوهنتون
باور نه کړم چې بدل ماغزه د سر کړې
که په تحصیل سره د انسان فکر ورزل شي او په انسان کې انساني ټولې ښې ښېګڼې پیدا شي، نو دلته دی چې په انسان باندې یې تعلیم مثبت تاثیر کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


پوهه د تحصیلي او علمي القابو پورې اړه نه لري. په ډېرو پوهانو کې مې ناپوهانو او په ډېرو غریبو او بیچاره ګانو کې مې لوی لوی پوهان ولیدل.

ځینې عالمان په غیر اسلامي ملکونو کې لوی لوی نومونه لري او د دوی د پوهې یادونه کېږي، دوی به د نړۍ لوی عالمان او لیکوال وي، خو د الله تعالی پر لارې به برابر نه وي او غیر مسلمانان به وي.

که پوهنه رڼا وي؟ نو ولې دوی د الله تعالی سعادت نه دی تر لاسه کړی او دوزخ ته ځي.

هو ! پوهنه رڼا ده، هغه پوهه رڼا ده، چې له پوهې سره عمل وي، خو د دې رڼا نه ځینې ښه ګټه اخلي او ځینې بده ګټه اخلي. په پوهې کې ستونزه نه شته بلکې په هغه انسانانو کې ستونزه ده چې په پوهې یې عمل نه شته.

نړۍ د حقایقو د تر لاسه کولو لپاره څېړنې او پلټنې کوي او د دغه حقایق په حقیقي پوهې کولای شو، حقیقي پوهه اسلامي او قرانيي پوهه ده.

که یو انسان په قرانکریم عمل وکړي او ټولې لارښوونې یې پر ځای کړي، نو دغه پوهنه رڼا ده.

په نننۍ اکثرو مسلمانانو کې نیمګړتیاوې زیاتې دي، چې ځینې ناپوهه د مسلمان پر ځای پر اسلام ملامتیې اچوي، چې په اصل کې اسلام نه بلکې د اسلام په نامه مسلمان ملامته دی.

دغه شان پوهه د انسان زیب او زینت دی، دا چې یو انسان له خپلې پوهې ښه استفاده نه کوي او د عمل جامه ورته نه اغوندي، بیا هم د حقیقي پوهې نه درلودل یې اصلي لامل دی او دلته دی، چې پوهه نه بلکې انسان ملامته دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د انسان ارزښت ټاکنه

پروا یې غني نه کړي که یې سپک تلي که درونه

تف ! څه به دا جهان وي څه په تول د دې جهان

د نړۍ ټولو انسانانو ته د انسان په نوم اواز کېږي، خو ټول انسانان یو شان نه دي، ځینې په دوی کې ډېر درانده او ځینې یې بیا د باد ښکه دي. سره له دې چې ټول انسانان یو ټاکلی جسمي وزن لري، خو له دې جسمي وزنه فکري او ذهني وزن مهم دی.

موږ ظاهر بین انسانان یو او هر وخت ظاهر ته ګورو، خود انسان له ظاهره یې باطن مهم دی.

د انسانانو موقفونه سره توپیر لري او هر یو د خپل ارزښت په نظر کې نیولو سره له ټولنې امیدونه لري.

د نړۍ اکثره انسانان د ځان او خپلې کورنۍ په هکله فکر کوي، خو ځینې انسانان بیا نړیواله مفکوره لري او د ځان په پرتله جهان ته برتري ورکوي.

استاد الفت وایي:

ډېر تفاوت شته په انسان کې د معنا په لحاظ

(c) ketabton.com: The Digital Library



وا ړه مشغول دي ځينې ځان ځينې جهان جوړوي

د نړۍ د ټول انسانانو داخلي او خارجي جوړښتونه يو د بل سره توپير لري، دغه شان هر انسان په ټولنې کې خپل قدر او قيمت لري.

په يوه لوی غره کې لوی لوی کاڼي زيات وي، خو که د قيمتي کاڼو زيرمه پکې پيدا شي، له ټول غره څخه د قيمتي کاڼو څو نمونې بهتره دي.

ځينې انسانان په ټولنې کې د قيمت بها کاڼو په شان دي، چې ارزښت او قيمت يې ډېر دی، خو لکه څرنګه چې په غره کې د قيمتي کاڼو پيدا کول، تشخيصول او صيقل کول ستونزمن کار دی، دغه شان د انسان پيژندل هم اسان کار نه دی.

اکثره انسانان د غرو د تيګو په شان دي او اقليت د قيمتي کاڼو په شان دي.له بيروجو، زمرودو او الماسو يو ډول استفاده کېږي او د غره له تيګو بل ډول استفاده کېږي. دا ټول کاڼي دي او هر ډول کاڼی خپل ارزښت لري.

په نورې نړۍ کې د انسانانو ارزښت ټاکنه معياري شکل لري، خو دلته برعکس د پوهانو او عالمانو پرځای د ناپوهانو او بيسوادو عزت زيات دی.

هلته اکثريت خلک پوهان دي، نو ځکه د عالمانو ارزښت زيات دی، خو دلته مو اکثريت ولس ناپوهه دي، نو له همدې امله اکثريت ناپوهان مو مشران دي.

په يوې ټولنې کې انساني نابرابري د دې لامل کېږي، چې انساني ارزښتونو ته خپل حق او حقوق نه ورکول کېږي او بلاخره ټولنه له انزوا سره مخامخ کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په اکثره وروسته پاتې هیوادونو کې د پوهانو عزت زیات نه وي او پوهان مو د ډېرې نا امیدۍ احساس کوي.

هو! د پوهانو قدر په عالمانو وي، نه پرنا پوهانو. مخکې له دې چې پوهان مو د خفګان او افسردګۍ احساس وکړي، په دې دې پوه شي چې عزت او ذلت الله تعالی ورکوي. د یو ناپوه انسان په وړاندې که عزت نه لرې، دا ستا ملامتي نه ده، دا د هغه ناپوهه ملامتي ده، چې د پوهې له ارزښته ناخبره دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په ځان ويسا

هر انسان د کاميابۍ او ناکامۍ پړاوونه تېروي. دا د ژوند فلسفه ده چې هر انسان به له اضدادو سره لاس او ګريوان وي.

هر وګړی کلف دی چې د کاميابۍ په فکر کې وي او هر وخت د ژوند د سختو حالاتو په هکله مثبت نظر ورسره وي.

کاميابي د انسان په لاس کې ده او هر کس بايد په ځان ويسا ولري، هغه کسان چې پرځان اعتماد او باور لري، دوی کامياب انسانان دي، دغه په ځان ويسا دوی ته حقيقي کاميابي ورکوي او هغه کسان چې ځان ناکامه ګڼي، د بې باورۍ کندې ته ګوزاريږي.

بروسلي وايي: (تاسې بايد په ځانونو کې د مثبت فکر کولو قانون پلی کړئ، نو هيڅکله به له ماتې سره مخامخ نشئ او په ډېرو نازکو حالاتو کې به سخت کار په برياليتوب تر سره کړئ. څنګه چې فکر کوئ، هماغسې کېږي ! د تکرار په ډول يوځل بيا وايي: د مهربانه فکرکولو او لويو هيلو په ټاکلو سره تاسې کولی شئ چې په ډېرې اسانۍ بريا خپله کړئ.)

کوښښ وکړئ چې په تکراري ډول د نورو کسانو ډېر صفت مه کوئ، د نورو کسانو ډېره يادونه مو له پرمختګه غورځوي.

د نورو پوهانو نظرونه او خبرې په پټو سترګو مه منئ، د نورو کسانو هره خبره بې د فکر کولو منل تاسو د خپل فکر کولو نه وباسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که چېرې هر وخت د نورو خلکو فکرونه تایید کړو او خبرې او فکرونه یې په پټو سترګو ومنو ، نو هیڅکله به د خپل فکر څښتنان نه شو.

که غواړئ چې د خپل فکر څښتنان اوسئ، نو باید نوښت ګر فکر ولرئ، هغه کسان چې نوښت کوي، هر وخت له خپل فکره کار اخلي او هیڅکله د نورو کسانو په نظرونو اوریدلو خپل وخت بې ځایه نه تېروي.

هغه انسان چې پرمختګ کوي د اکثره نورو انسانانو نه خوښېږي. لکه څنګه چې میوه داره ونې هر څوک په کاڼو ولي او د بې میوه دارو ونو سره یې سرو کار نه وي، دغه شان اکثره پوهان مو د ناپوهانو خوښ نه وي.

میوه دارې ونې مو د پوهانو په شان دي چې زیات وخت له ځانه پرته د نورو انسانانو په هکله فکر کوي او بې میوه دارې ونې د ناپوهانو په شان. د فزیکي جوړښت له مخې اکثره انسانانو ته د انسان خطاب کېږي، خو ټول هیڅکله انسانان کېدای نشي، انسان باید انساني کرامت او د یو ښه انسان ټولې ښېګڼې ولري، چې په ډېرو کمو کسانو کې موجود وي.

په ځان باوري انسان د پرمختګ سرعت یې سریع وي، خو دغه پرختګ ډېر انسانان نشي زغملای.

که ته ډېر ښایسته یې او په اینې کې د خپل مخ د لیدلو علاقه مند اوسې او له تاسره یو ځای نور خلک هم په اینې کې خپل مخونو ته متوجې شي او دوی بدرنګه وي. داخلي او خارجي جوړښت یې د کار نه وي، په دې پوه شه چې هیڅ کله به ته ورته ښکلی ښکاره نشې، بدرنګه ته ټوله دنیا د ځان په شان ښکاري.

(c) ketabton.com: The Digital Library


د يو ناپوه انسان هيڅکله پوه انسان نه خوښېږي، ناپوه د پوه په وړاندې د کمترۍ احساس کوي او هر وخت خپل وجدان ته ځان ملامته ګڼي.

په يو کتاب کې مې لوسته د افغانستان صدراعظم موسى شفيق چې کله لوړې زده کړې پوره کړې او افغانستان ته راغى، څو وزارتونو کوښښ کاوه چې له دوى سره کار وکړي، په هغه وخت کې پوهان زيات وو او د پوهانو شتون يې د ځان ښکلا او کاميابي ګڼله، خو اوس اکثره مشران ناپوهه او بدرنګه دي او هيڅکله ښکلو خلکو او پوهانو ته ارزښت نه ورکوي.

هر انسان بايد په ځان ويسا ولري او هيڅکله دې په دې طمع نه اوسې چې د ناپوهانو له خوا دې د اعتماد وړ شخصيت شي. هغوى (ناپوهان) په ځان باور نه لري نو په تا به څه باور وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# زه د کوم ځای یم؟

د انسانانو اصلي ټاټوبی (وطن ) معلوم وي. که یو انسان په پردي ملک کې پیدا شي، خوبیا هم دی په خپل وطن افتخار کوي او ځان په هغه ځای کې چې دی پکې پیدا شوی دی، هم ځان پردی ګڼي، خوځینې انسانان بیا په خپل پلرني وطن کې ځان پردی ګڼي او د احساس کوي چې دی د دې ځای نه وي.
که زه د دې ځای اوسیدونکی یم، نو ولې کور نه لرم او در په دره بې کوره ګرځم. سره له دې چې ډېرې ځمکې شته دي او ډېرو غاصبینو په لکهاوو جریبه ځمکې غصب کړې دي، خوزه پکې بې کوره یم. د دې ځای اصلي مستحقین هم دوی دي.
که زه د دې ځای اوسیدونکی یم، نو ولې د دې ځای د خلکو نه خوښېږم او په ډېرو ځایونو کې مې غیبت کوي او بدې راپسې وایي.
هو ! دوست سره مینه کېږي او د دښمن نه کرکه. دا چې قدر مې حق دی او دوی مې بې عزتي کوي. پردی یم.
استعداد لرم خو له ذکاوته مې ګټه نه اخیستل کېږي. نه مې زه له ذکاوته ګټه لاس ته راوړی شم او نه نورو ته یې ګټه رسوی شم. نه ماته مې حق راکول کېږي او نه نورو ته یې حق ورکولی شم.
زه انسان یم. د دې ځای اوسیدونکی یم. که غریب اوبیچاره یم ! که بې پیسو او د قوماندان زوی نه یم. که سپین پوستی یم او تور پوستی نه یم او یا تور پوستی یم خو سپین پوستی نه یم. که هندو یم خو مسلمان نه یم او یا عیسوی یم خو مسلمان نه یم. انسان خو یم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کاناډا کې هندو اصل وزیر دفاع کېږي او افغان اصله مسلمانه وزیره کېدای شي. نه مذهب ورته ارزښت لري، نه رنګ او نه سمت. هغوی ته خدمت او استعداد ارزښت لري، هغوی پوهیږي، چې خدمت او انسانیت د مذهب پورې اړه نه لري، خو دلته په یو نوم او بل نوم خلک ستایل کېږي. دلته د پوهې معیار ټاکنه، د خدمت اساس ټاکنه له ټولې نړۍ تو پیر لري.

په اصل کې هندو د هندوستان او سیدونکی دی، خوحق ورته کاناډا کې ورکول کېږي. دی د هند نه بلکې د کاناډا دی.

که زه د خلکو نه خوښېږم، ګناه مې څه ده ! ګناه مې پوهه ده او که ناپوهي ده، دوی ناپوهه دي چې زه یې نه خوښېږم او که زه ناپوهه یم.

که دوی ناپوهه دي او زما سره حسادت کوي، دا خو زما ملامتي نه ده، دا د دوی پړه ده، چې نه پوهېږي.

هو ! زه د دې ځای نه یم. زه د هغه ځای یم، چېرته چې قدر او عزت مې وي، کور مې پکې وي، خپلوان او دوستان مې وي. حق مې راته راکړل شي او له حقوقو مې استفاده کولی وشم. د خوشحالۍ احساس پکې وکړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# لویوالی

ټول عمر انسان په یو حال نه وي، کوچنی وي، لوی شي او بلاخره لوی سړی ورنه جوړ شي.

له جسماني پلوه ځینې انسانان ژر لوېږي او ځینې بیا په تدریجي ډول لوېږي.

په ځینو خلکو چې عمر تېرېږي او لوېږي، مغز او فکر یې هم لوېږي، خو د ځینو لوېدل او غټېدل بې معنا وي، ځکه چې مغز او فکر یې لا کوچنی او ابتدایي وي.

یو انسان ته باید هر وخت په یوه سترګه ونه ګورو، ځکه هر کوچنی ماشوم لوېږي، او ځینې بیا د پرمختګ په لور روانېږي.

نننی دغه فکرمند ځوان اوس هغه کوچنی ماشوم نه دی، چې پخوا و، دا لوی شوی دی او لوی لوی کارونه کوي، خو تاسې ورته لا هم د هماغه کوچني په سترګو ګورئ.

نن دا د هغې میوه دارې ونې په شان دی، چې له میوو یې ولس استفاده کوي او خوندوره میوه لري، ښکلې سیورې یې د ستاینې وړ دی، نن دا هغه بې ثمره ونه نه ده، چې پخوا وه.

دا چې بې ثمره او ثمرداره ونې یو له بله توپیر لري، نننی دا فکر مند انسان هم له هغې کوچني بیفکره ماشوم سره توپیر لري.

په ځینو ځایونو کې اورم چې وایي: فلانی هغه او دغه انسان دی، فلانی زما شاګرد و، هغه نه پوهېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


افلاطون، سقراط، ارسطو، سید جمال الدین افغان، علامه اقبال، هوګو، سید ګل پاچا الفت او نور .... هم د چا شاګردان وو، خو ټولو خپلو استادانو نه د علم او پوهې په لاسته راوړلو او خدمت کولو کې لوی لاس درلود.

دا یو حقیقت دی، چې په شاګردانو کې له استادانو لایقه پیدا کېږي، خو د هغوی په شاګردۍ او هوښیارۍ افتخار پکار دی.

په هر شي کې لوی او وړوکی وي، لکه لویې لویې تیږې، لوی غرونه، لوی سیندونه او نور داسې لوی لوی شیان، خو د انسان لویوالی باید د نړۍ له هرشي له لویوالي توپیر ولري.

یو انسان باید لوی لوی فکرونه ولري، یعنې د فکر لویوالی دی، چې د انسان په نور بدن باندې مشري کولای شي او خپل حکم پرې چلولای شي.

که فکر او عقل لوی نه وي، د نور بدن غټوالی او لویوالی بې معنا دی.

یو عالم وایي: ( د انسان فکر دی، چې له انسانه لوی انسان جوړوي، که فکر او عقل نه وي، د دې او د حیوان په کړو کې به څه توپیر نه وي.

که د انسان لاسونه او پښې په زولنو وتړل شي باک یې نشته، خو چې فکر یې ازاد وي او عقل یې د کار وي. )

بل عالم وایي: ( تاسو د هغو سرونو (ککرو ) احترام مه کوئ، چې تاجونه یې په سر وي، بلکې د فکرمندو او عقلمندو سرونو احترام وکړئ. )

د لویو فکرونو نتیجه ده، چې نن د نړۍ ځینو ملکونو پیشرفت

(c) ketabton.com: The Digital Library


کړې دی او د کوچنیو او بې فکرو خلکو له نتیجې ځینې ټولنې له پرمختګه پاتې دي.

الفت وایي:

چا جهان ته تش کدو غوندې سر راوړ
چا په سر کې فکر لوی لکه غر راوړ
یو ښاخ ګوره تش کوتک شو د وهلو
بل ښاخ ګوره چې یې سیوری لمر راوړ

د انسان لویوالی په فکر او عقل کې دی او د نړۍ له هر شي سره د دې لویوالی باید توپیر ولري.

هغه خلک چې په نړۍ کې یې نومونه تلپاتې دي، د فکر لویوالی یې درلوداو تر نن ورځې پورې د همدې عقل او فکر پواسطه ژوندي دي.

ډېر ژوندي دي، چې د عقل او فکر خاوندان نه دي، له مړو بتر دي. ډېر مړه دي، چې د عقل او فکر خاوندان وو، له ژوندیو بهتر دي.

د لویوالي پیژندل لوی فکر غواړي او زما په خبرو هم د لویو فکرونو خاوندان پوهیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# فکر

د نړۍ د ټولو انسانانو داخلي جوړښت (مينه، قهر، احساسات، جذبات، خيالات او نور.... ) سره توپير لري.

د انسان پوهه، علم، تفکر او نور... په داخلي جوړښت باندې مستقيم او غير مستقيم اغېزې لري. له همدې امله د فکر پياوړتيا هم د انسانانو سره توپير لري، ځينې وګړي دايم په فکر کې ډوب وي، چې د وخت په تېرېدلو يې په فکر کې لويوالی پيدا کېږي. خو داسې انسانان هم شته، چې له ځان او ټولنې ناخبره خپل وخت تېروي، دوی عقل او پوهه لري، خو فکر نه کوي.

په هرې ټولنې کې د مثبت فکر (positive minded) او منفي فکر (negative minded) درلودونکي انسانان شته.

په کومې ټولنې کې چې د پوهې او علم کچه لوړه وي، هلته د مثبت فکر خاوندان ډېر وي او په کومې ټولنې کې چې د پوهې او علم کچه ټيټه وي، هلته د منفي فکر خاوندان ډېر وي.

ډېر خلک مې وليدل د ښو کورونو ارمانونه کوي او دوی په داسې کورونو کې د ژوند کولو هيلې لري او هر چېرې د دوی د مالکينو ستاينه کوي، خو داسې انسانان هم شته، چې په داسې لوړو ماڼيو کې ژوند کول ورته ګناه ښکاري، دوی د داسې کورونو د هرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



بښختې او تېرې نه د ظلم او زياتي او ازونه اوري او دغه لوړوالی ورته هېڅ ارزښت نه لري.

د داسې لوړو ماڼيونه د غريبو او بيچاروو کوډلې ډېرې بهتره دي.

ډېر خلک مې وليدل هغه چا ته هوښيار وايي، چې چالاکه، غولوونکی او چلباز وي يا هغه چا ته هوښيار وايي، چې د دريځ مخکې ښه ښه تقريرونه کوي او هغه څوک چې غلی ناست او ډېرې خبرې نه کوي، خو ټوله ورځ د خپلې ټولنې د نيکبختۍ په فکر کې وي، هغه ته بيعقله وايي، ځکه چې د لومړي شخص په شان خلک نه شي غولولی. د هغه چالاکه نه دا غلی انسان څومرتبې بهتره دی.

يو شاعر وايي:

د توتيانو له وينا دا معلومېږي
چې خبرو باندې څوک نه سری کېږي
سری نه دی چې يې کار د سړو نه وي
په خبرو که هر څومره ښه پوهېږي

شاعر هم د علم، پوهې او خدمت لپاره ډېرې خبرې او ښه ښه تقريرونه معيار نه ګڼي.

يو عالم وايي: (په مجلسونو کې تقريرونه ښه کېږي، خو په تنهايي کې لوړ لوړ فکرونه انسان ته پيدا کېږي. )

د نړۍ فيلسوفان فکرمند انسانان وو او هر وخت په فکر کې ډوب او ډېرې خبرې نه کولې.

د برق اختراع کوونکی اډيسن په غوږو دروند و او د مقابل طرف خبرې ښې نه اورېدې، يو کس يوه ورځ ورنه پوښتنه وکړه؟ ايا

(c) ketabton.com: The Digital Library


تا د غوړونو د دروندوالي له کبله په ژوند کې ستونزې ګاللې؟ دې وویل: زه په غوړو دروند وم، خبرې مې ښې نه اوریدې، له همدې امله خلکو له ما سره ډېرې خبرې نه کولې او ما هم ډېرې خبرې نه کولې او ټوله ورځ به په فکر کې ډوب وم، همدا لامل شو، چې د کایناتو په مورد فکر وکړم.

زما د کامیابۍ راز په دې کې و، چې ما ډېرې خبرې نه کولې او هر وخت مې فکر کاوه. دا چې نن مو د ټولنې چالاکه خلکو ته هوښیار وایي، هوښیار څوک دی؟

ډېر انسانان دي، معرفت د ځان او جهان یې حاصل کړی دی او د دنیا ډېرو طبعیي توکو ته د معجزې په ډول ګوري.

د یو عقل او فکر خاوندان دي، څوک وایي: پاس اسمان دی، بې ستنو ولاړ دی، خو ځینې وګړي بیا د اسمان په پیدا ایښت کې د الله تعالی کرامت، لوی والی او قدرت ویني او په هر څه کې د ذات الهي د لویوالي مثالونه ته تعجب کوي.

د ټولو انسانانو لید لوری سره توپیر لري او د جهان په ننداره کې د ټولو فکرونه سره فرق کوي، ځینې د نړۍ پر اسرارو خبر او هر څه ته په دقت ګوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# لوړ خیالونه

څومره چې د انسان پوهه ډېرېږي، باید لوړ خیالونه او ژور فکرونه یې په فکر کې پیدا شي.
د لوړو خیالونو او ژورو فکرونو په واسطه ټولنې ته لوړ لوړ خدمتونه وکړي.
اسمان ډېر لوړ دی، بارانونه ورنه کېږي، ځمکې خړوبوي او ټول خلک بیا د ځمکو نه استفاده کوي.
د غلو، دانو او میوو لامل باران او اوبه دي او ددې لامل پاس اسمان دی.
غرونه، لمنې، ډاګونه، سمې او نور...... ددې بارانونو په واسطه شنې کېږي.
لمر هم لوړ موقعیت لري او د ټول ولس لپاره ډېر ګټور تمامېږي. که سپوږمۍ ته وګورو، چې په ختلو یې ټوله شپه رڼا وي او شپه بیا د استراحت لپاره یو ښه وخت دی.
اسمان، لمر او سپوږمۍ، چې نه عقل لري، نه پوهه لري او نه د انسان په ډول اشرف المخلوقات دي، د ولس خدمت کوي او داسې فکرکوي، چې موږ د انسانانو او نورو طبیعي توکو پورته یو او دوی زموږ لاندې پراته دي، باید خدمت یې وکړو.
د غرونو لوړې څوکې ښکلې او پاکه اب وهوا لري. د سیندونو او نورو اوبو سرچینه له همدې څوکو نه ده، چې بیا د خلکو لپاره د ژوند موقع برابروي.
د هر شي په لوړوالي کې باید لوی حکمت پروت وي او له ځانه پر ټیټو باندې رحم د دوی وظیفه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته دی، چې د ډېرو عقلمندو انسانانو نه دغه بې عقله طبیعي توکي د ولس په فکر او خدمت کې دي او د ډېرو پوهو انسانانو نه دغه ناپوهه، بیعقله، بیفکره او بي ژبې توکي ډېر بهتره دي.

ولې مونن د ټولنې ډېر پوه انسانان د خدمت په فکر کې نه دي او د ملک د بربادۍ لامل پخپله دوی دي؟ ولې مو ډېر تحصیل کوونکي پر حرامو اخته او هېڅ ډول د خدمت په فکر کې نه دي؟

سید جما الدین افغان وایي: (که چېرې یو انسان هر څومره ډېر تعلیم او تحصیل وکړي، خو که عقیدوي او اصلاحي برخه د ژوند یې کمزورې وي، هېڅکله هم خپلې ټولنې او ځان ته خدمت نه شي کولای.)

رښتیا چې نننې ډېر تحصیل کوونکي او پوه کسان مو پر حرامو اخته او د خدمت په فکر کې نه دي، دوی کمزورې عقیدې لري او تر اوسه پورې د ژوند پر اصلي معنا نه دي پوه شوي.

ولې مو د ولس غم، درد، ستونزې، کړاوونه او نور ...... خپل درد نه ګڼو؟ ولې مو احساسات مړه شوي دي؟ ولې د خدمت په فکر کې نه یو؟

ځکه چې رښتیني احساسات او عاطفه نه لرو.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# قوم پالنه

الله تعالی په قران کریم کې فرمایلي دي: ( ولقد کرمنا بنی ادم ): ما بهتري ورکړې بني ادم ته، په بني ادم کې ټول انسانان راځي، یوازې یو ملت او یو قوم ته منسوبه خبره نه ده.

رښتیا چې تور د سپین او سپین له تور سره تو پیر نه لري. د شخصیت په لحاظ علم او د فوقیت په لحاظ تقوا مهمه ده.

ځینې خلک په خپل قوم د دې لپاره افتخار کوي، چې ځان ته د نورو په لحاظ برتري ورکړي، چې دا یوه لویه تیروتنه ده او که چېرې یو څوک د خپل قوم او ریښې یادونه د دې لپاره وکړي، چې د شجرې سلسله یې هیره نه شي، دا بیا هیڅ پروا نه کوي.

د ملتپالنې مفکوره په عام ډول او د قومپالنې مفکوره په خاص ډول په نورې نړۍ کې هم شته.

دې مفکورې ته نشنلېزم nasnilisim وایي، نورې نړۍ کې دوه ډوله: مثبته ملتپالنه(nasnilisim positive) او منفي ملتپالنه(nasnilisim negative )مفکورې درلودونکي خلک شته دي.

په مثبتې ملتپالنې کې یو مشرد خپل قوم پواسطه ځان یو ځای ته رسوي او بیا بیرته خپل قوم ته خدمتونه کوي، خو په منفي ملتپالنې کې یو مشر د خپل قوم پواسطه ځان یو ځای ته رسوي او بیا بیرته د خپل قوم په سترګو کې خاورې اچوي او هیڅ ډول خدمت یې نه کوي.

د مثبتې او منفي ملتپالنې مفکوره بده مفکوره ده، په کومو

(c) ketabton.com: The Digital Library



نظامونو کې چې دا نظريات وي، هلته بيا حق حقدار ته نه ورکول کېږي.

دا مفکوره په هغو ټولنو کې زياته وي، چېرته چې د علم او پوهې کچه ټيټه وي، چې بدبختانه دلته هم دا مفکوره شته ده، او د بې اتفاقۍ سبب هم ګرځيدلی دی.

زه افغان يم، که پښتو، فارسيوان او نور.... نه يم، دا زما ملامتي او ناپوهي نه ده.

د دنيا په هر قوم کې ذکاوت، استعداد، پوهې او نورو .... ته ارزښت ورکول کېږي، ځکه هلته د قوم پالنې مفکوره نشته، خو دلته برعکس دی، چې بيا د بې عدالتي سبب ګرځي.

قسم په الله تعالی ځينې داسې نااهله خلک مې په لوړو مقامونو کې وليدل، چې د قومپالنې پواسطه لوړ مقام ته رسېدلي دي، چې ډېر ټيټ او پست خلک ورته ويلای شو.

دغه مفکوره نن په ډېرو خلکو کې شته ده.

يوه ورځ له کابله په موټر کې روان وم، خوا کې مې يو مشر او تحصيل کوونکی سړی ناست و، دی د ننګرهار ولايت د کامې ولسوالۍ اوسېدونکی و، ما ته يې وويل: موسی شفيق د افغانستان صدراعظم و، کامې ته يې خدمت ونه کړ.

ما ورته په ځواب کې وويل: موسی شفيق يوازې د ننګرهار صدراعظم نه و، هغه د ټول افغانستان صداعظم و.

دلته له ډېر پخوا څخه دغه مفکوره او نظريه موجوده وه، ډېر ليکوالان، شاعران او يوه خلک مو دغه مفکوره درلوده، څوک چې داسې مفکوره ولري، هېڅکله نړيوال شهرت نه شي پيدا کولای.

زموږ د بلخ مشهور شاعر مولانا جلال الدين بلخي، چې کله وفات شو، د دې په جنازه کې مسلمانان، هندوان، عيسويان اود

(c) ketabton.com: The Digital Library



نـورو .... دینونـو خلـک موجـود وو ، دې نړیوالـه مفکوره درلـوده، او هیڅکله یې خپل قوم ته پر نورو برتري نه ورکوله.

دده په ټول دیوان کې به د بېلګې په ډول داسې یو مثال پیدا نه کـړو ، چـې نشنلیسـتي نظریـات ولـري. همدارنګـه د روسـي ژبـې تولستوی، د فرانسوي ژبې ویکتور هوګو هم د ملتپالنې مفکوره نه درلوده.

ویکتور هوګو د حضرت محمد(ص) په نامه یوه مقاله لیکلې ده، که سړی یې ولولي، داسې فکر به وکړي، چې دی مسلمان و ، چې حقیقت داسې نه و.

دا چې موږ او تاسې په افغانستان کې ژوند کوو ، نو هیڅ افغان له بل افغان زیات نه دی او هیڅ افغان له بل افغانه کم نه دی.

لویوالی او وړوکی والی د علم او تقوا پر بنسټ دی.

دلته د قومپالنې مفکوره خپل اوج ته رسیدلې ده او د ملک د بدبختي، بې عدالتي او نامساوات لامل ګرځیدلی دی.

یو شاعر وایي:

بنی ادم اعضای یک دیګر اند
که در افرینش زیک ګوهر اند
اګر عضوی را به درد اورد روزګار
دیګر عضوهارا نماند قرار
تو کز محنتی دیګران بی غمی
نشاید که نامت نهند ادمی

پورته شعر کې د ( ولقد کرمنا بني ادم ) مفهوم پروت دی او د قومپالنې ضد مفکوره پکې پرته ده.

د انسانانو د بهترۍ لامل علم او تقوا دی، یوازې په انسانانو کې نه بلکې په حیواناتو کې هم د بهترۍ لپاره یو اصل موجود وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په غوا ګانو کې بهتره غوا هغه ده، چې ښې او ډېرې شيدې کوي او خپل خاوند ته په خپل وخت نسل ورکړي.

د يو باغبان لپاره په باغ کې ښې ونې هغه دي، چې ښې او ډېرې ميوې ورکوي، په همدې باغ کې د ګلانو بهتر بوټی هغه دی، چې ښکلی رنګ او بوی لري.

يو شاعر وايي:

هـر انســان تــه د انســان پــه نظـر ګـوره
هـر سـړي تـه د خپـل ځـان پـه نظـر ګـوره

حديث د پيغمبر(ص) دی: هغه څه چې ځان ته خوښوې، بل ته يې هم خوښ کړه.

ای په دې رنځ اخته مريضانو ! ستاسو درملنه ډاکټران نه شي کولای، ځکه هغوی هم په دې رنځ اخته دي، خو ستاسو څخه هيله کوم، چې زما د خبرو په اړه فکر وکړئ او خپله درملنه پخپله وکړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# انسان

په دنیا کې ډېر شیان پېژندل کېږي، خو د څه شي پېژندل چې ستونزمن کار دی، هغه انسان دی.

د انسان داخلي جوړښت په شخصیت جوړولو کې اساسي اصل جوړوي او هر څوک نه شي کولای، چې په اسانۍ سره د نورو انسانانو عواطف، احساسات، جذبات او داسې نور.... داخلي توکي وپېژني، نو له همدې امله نه شو کولای، چې انسان په اسانۍ سره وپېژنو.

د نړۍ د ټولو انسانانو خارجي جوړښت (قد، قواره، سترګې، وزن او نور .... ) سره توپیر لري.

د انسان په پېژندنې کې د خارجي جوړښت نه داخلي جوړښت ډېر مهم رول لري.

د یو ښه انسان د پېژندنې لپاره باید د دې سیرت مطالعه شي، نه صورت.

ډېر مسلمانان مې ولیدل، چې انسانان دي، خو انساني کرامت ته ارزښت نه ورکوي، په مقابل کې مې ډېر انسانان ولیدل، چې مسلمانان نه دي، خو انسانیت ته احترام لري.

په یوه لوی غره کې د قیمتي کاڼو پیدا کول، د هغې صیقل کول، د هغې نه ښه استفاده کول، او بیا یې اصلیت معلومول اسان

(c) ketabton.com: The Digital Library



کار دی، خو د یو ښه انسان پېژندل اسان کار نه دی، د همدې کاڼو د جوهر معلومولو نه د انسان جوهر معلومول ستونزمن کار دی.

یو عالم وايي: (ځینې انسانان دي چې په ارزښت يې ولس نه پوهېږي، دوی د هغو تیګو په شان دي، چې په تهداب کې اچول کېږي او ټوله ودانۍ پرې ولاړه وي، دا تیږې پټې وي چا ته نه ښکاري، خو ارزښت يې زیات دی.)

په مرغانو کې اصیل او بدل شته، د اصیلو مرغانو پیدا کول او نیول او همدارنګه د دغو مرغانو ډېره لوړه بیه، په دې دلالت کوي، چې په حیواناتو کې هم اصیل شته او د داسې مرغانو ارزښت د اصلیت پر بنا او بنسټ ټاکل کېږي.

په انسانانو کې هم اصیل او کم اصل شته، چې پېژندل يې اسان کار نه دی، خو په ځینو اصیلو کې کم اصل او کم اصلو کې اصیل پیدا کېږي.

اسمان په یو حال نه دی، کله شین شي میوې پخوي، کله وریځ شي، بارانونه ورنه کېږي او کله کله ږلۍ او واورې هم وروي.

ډېر انسانان مې په یو حال ونه لیدل، کله د مسجد په کونج کې ناست او نصیحتوي کوي، د شپې د میوو پیالې ډکوي او سبا ته پر حرامو اخته او له غریبو او بیچارو ونه رشوتونه اخلي، هماغه یو انسان دی، کله ملا او کله بلا شي، چې د داسې انسانانو پېژندل د وګړ پېژندنې متخصص هم نه شي کولای.

غني خان وايي:

ای د لیونیانو نیکه مار ښه که ملا ښه دی
تن د زهرو ډک ښه دی که زړه ډک د بلا ښه دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



په سپینو جامو کې مې ځینې داسې تور زړي انسانان ولیدل، چې زړونه یې له بلاوو ډک او د ولس په سترګو کې خاورې اچوي.

په ډېرو لوړو مقامونو کې مې داسې فاسد او رشوت خواره ولیدل، چې ډېر ټیټ او پست خلک ورته ویلای شو، خو په مقابل کې مې د دوی د لاس لاندې داسې مامورین ولیدل، چې ډېر لوړ لیاقت لري او د انسانیت ټولې ښیګڼې پکې شته دي.

دوی د لاس لاندې خلکو، غریبو او بیچاروو ته په خوارو سترګو ګوري او ټول ورته سپک خلک ښکاري.

یو انسان که د غره پر څوکه ودرېږي او لاندې وګوري، ټول نور انسانان ورته واړه ښکاري، چې دا یو طبیعي اصل دی، خو په حقیقت کې دې ټولو ته واړه نه شو ویلای، برعکس یو کم اصل انسان دوی ته دورمره په سپکه ګوري، چې په حقیقت کې داسې نه ده.

د انسان پېژندل اسان کار نه دی، خو بیا هم غواړم، چې فکر وکړو او د خپلې ټولنې فکرمند او ښه انسانان پیدا او عزت یې وکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# ځواني

ځواني د انسان د هلو ځلو هغه مرحله ده، چې مغز يې د کار او د بدن غړي يې د زحمت لپاره اماده وي.

که د ځوانۍ په قدر پوه نه شو، په زړښت کې به ډېر ارمانونه وکړو، دا دوره د کار، تحصيل، خدمت، عبادت او نورو ...... لپاره يو ښه وخت دی.

سړي چې زوړ شي د نورو محتاجه شي، ډېر وخت مريض او د نورو د اوږو بار شي.

له انسانانو سربېره په حيوانات، نباتات، جمادات کې هم ځوان او زوړ شته.

ونه چې ځوانه وي، ښه سيوري کوي، ښا خونه يې په خپل وخت له ميوو ډک وي او ښکلا ورسره وي، همدا ونه چې زړه شي، چينجي يې ووهي، مريضه شي او بلاخره تنه يې ورسته له لرګيو يې هم استفاده نه کېږي، د يوې ونې د خدمت وخت هم د ځوانۍ مرحله ده.

حيواناتو کې ځوان غويه ښه قلبه کوي او ښه مځکه اړوي، د دهقان د مځکې د کرلو او تخم اچولو وسيله ګرځي، خو برعکس يو زوړ غويه دا کار نه شي کولای او قصاب يې د حلالې لپاره اخلي، د زوړ مال غوښه خلک نه خوښوي او په مقابل کې د ځوان مال غوښه په

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوړه بیه اخلي.

یو باز په ځوانۍ کې خپل مالک ته ښه ښکار کولای شي، چې زوړ شي له کاره ولوېږي.

په جماداتو کې که غرونه وګورو، ځوان غر ښکلی وي او له تیګو یې استفاده کېدای شي او د زوړ غره تېږې یو ډول پکه او خوړل شوې وي او د استفادې نه وي.

په هرې ټولنې کې د پرمختګ لاملین ځوانان وي او له دوی سره نوی او ځوان فکر وي.

اصلي او حقیقي ځوان هماغه دی، چې د ځوانۍ په مفهوم پوه وي. که دی ځوان او کارونه دزړو کوي، دې ته بیا د ځوان په قواره او جسامت زوړ ویلای شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# شکر وباسئ!

د ژوند پر تکلیفونو شکر ویستل ډېر ثواب لري.په دنیا کې د هر مالداره نه بل مالداره پیدا کیدای شي او د هر بیچاره نه بل بتر بیچاره پیدا کیدای شي.

په نړۍ کې د هر ښه نه ښه، بد نه بد ، خوشحاله نه خوشحاله، خفه نه خفه پیدا کېږي، چې په هر حال شکر ویستل د الله تعالی حق ادا کول دي.

که ته د دې لپاره خفه یې چې یو لاس نه لرې، هغه بل دوه لاسونه نه لري، د اسې انسانان هم شته چې دوه لاسونه او یوه پښه نه لري او د اسې خلک مې هم ولیدل چې دواړه لاسونه او دواړه پښې نه لري، خو له دې بتر انسانان هم شته.

فریاد مه کوه ! که ستا یو اولاد مړ شوی، د هغه بل ټوله کورنۍ له منځه ولاړه.

مه خفه کېږه ! که ته مال او دولت نه لرې، هغه بل کورنۍ نه لري او د اولاد غریب دی. افلاطون وایي: په دنیا کې له ټولو غریبو او بیچارو نه غریب انسان د عقل غریب دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


ربښتیا ځینې داسې انسانان شته، چې د IQ درجه یې ډېره ټیټه ده او د ژوند لپاره هېڅ یو ښه تصمیم نه شي نیولی، خو زما په نظر د دې نړۍ له ټولو حقیر او غریب انسان هغه دی، چې له مرګ وروسته ورسره د عاقبت توښه نه وي.

رحمان بابا وایي:

ښـه ده ښـه ده دا دنیـا
چـې توښـه ده د عقبـا
د دنیـا پـه بـازار کېـږي
د هغـه دنیـا سـودا

د نړۍ مشهور فوټبالر ذین الدین ذیدان وایي: په ژوند کې مې یو ورځ ځکه وژړل چې د فوټبال کولو لپاره مې بوټونه نه درلودل، مګر یوه ورځ مې یو څوک ولیده، چې پښې یې نه درلودې، نو ژر مې د الله تعالی شکر ادا کړ او ومې ویل زه څومره خان یم.

انسان باید هر وخت له ځانه ښکته خلکوته وګوري او شکر وباسي.

یو انسان باید پوهې او علم د ارزښت په نظر کې نیولو سره له ځانه پورته خلکو ته وګوري او له هغه سره سالم رقابت وکړي او دا هڅه وکړي، چې ځان د هغه نه لوړو پوړیو ته ورسوي، ځکه په علم کې له ځانه لوړو خلکوته کتل او له هغو سره مثبت رقابت کول، د انسان د په شخصیت جوړولو کې اساسي لامل کیدای شي.

که چېرې هر وخت اسمان ته وګورو او مځکې ته و نه ګورو، پښه

(c) ketabton.com: The Digital Library



به مو بنده او په داسې کندې کې به ولويږو ، چې د وتلو توان به يې نه لرو.

د لوړو لوړو مقامونو ، لوړو ماڼيو ارمان مه کوئ، ځکه ډېر لوړ شيان دي، چې تاسو ته به لوړ ښکاري، خو په حقيقت کې به هغه ډېر ټيټ وي.

ډېرې لوړې ونې مې بې ميوې او بې حاصله وليدې، د ډېرو لوړو مقامو خاوندان مې د نورو مخکې سرکوزې، سرټيټې او د چاپلوسۍ په حال کې وليدل او ډېرې لوړې ماڼۍ مې په وينو ککړې وليدې.

د داسې مال او دولت ارمان مه کوئ، چې پر حرامو پيدا شوې وي، نه د داسې کورونو او موټرو ارمان وکړئ، چې هره روپۍ يې د نورو حق وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# رنځور

انسانان به له اضدادو سره وخت تېروي، کله به روغ او کله به رنځور وي، کله خوشحاله او کله به خفه وي، چې له دې حقیقته سترګې نه شو پټولای.

د انسانانو سره مریضي شته دی، چې دغه مریضي ګاني دوه ډولونه لري، یو جسماني او بله روحیاتي، نفسي او تحت الشعوري رنځورې ده.

د جسماني ناروغي نه روحي ناروغي څو برابره خرابه ناروغي ده، د جسم په تکلیف سره یوازې هماغه انسان درد احساسوي، خو د روحي ناروغتیا له امله ټول ولس درد احساسوي او ډېرو خلکو ته یې تکلیف رسېږي، د دې درد احساس له خپله شخص نه د ټولنې نور وګړي ډېر کوي او ټول ولس دا درد احساسوي.

بد اخلاقي یوه روحي ناروغي ده، دا هغه مرض دی، چې نن مو په ټولنې کې اوج ته رسېدلی دی.

دغه تکلیف په عام ډول د ولس په ځینو وګړو کې او په خاص ډول په ډېرو هغو خلکو کې شته، چې په لوړو مقامونو کې کار کوي، دوی د عقل او زړه مریضان دي، د دوی تداوي د ولس لپاره ډېره مهمه ده، خو ډاکټر صاحبان هم د دوی تداوي نشي کولای، ځکه چې دوی هم په دې رنځ اخته دي.

د هیښتیا (تعجب) خبره داده، چې نورې نړۍ کې په جسماني ناروغیو اخته وګړي شته دي، خو په روحي ناروغیو اخته وګړي ډېر کم یا هېڅ نه شته، خو دلته د جسماني ناروغیو نه پرته روحي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناروغيګانې، چې يوه نمونه يې بد اخلاقي ده ډېره تر سترګو کېږي.

په کومې ټولنې کې د ښوونې او روزنې کچه ټيټه وي، هلته دا دواړه مريضي ګانې ډېرې ليدل کېږي.

د ښوونې د کچې پر ټيټوالې جسمي ناروغيګانې ډېرې ليدل کېږي او د روزنې د کچې پر ټيټوالې روحي ناروغيګانې ډېرې وي.

د ښوونې نه روزنه ډېره مهمه ده او دلته مو د روزنې برخه ډېره پکه ده.

ځينې حيوانات دي، چې انسانانو ته زيان او تاوان رسوي او بر عکس دا سې حيوانات هم شته، چې انسانانو سره مينه او محبت کوي، د لومړي ډول حيواناتو نه انسانان نفرت کوي او دويم ډول سره انسانان مينه کوي.

بد اخلاقه انسانانو نه ولس نفرت کوي او بااخلاقو سره مينه کوي.

د ځينو وګړو پر مرګ ولس خوشحالېږي او ځينې تر مرګ کلونه کلونه وروسته هم د خلکو په زړونو کې وي، چې دا د اخلاقو سبب دی.

دا ليکنه به ځينو ته خوند نه ورکوي، خو ډېر به يې خوښه کړي، دا چې ډاکټران مريضانو ته د تداوي لپاره ترخې دواګانې ورکوي، چې صحت پيدا کړي، دوی لپاره هم دا يو نصيحت دی، که تداوي يې پرې وشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# رقابت

ژوند د سالم رقابت ډګر دی او د نننۍ نړۍ د پیشرفت یوازینی لامل همدا سالم رقابت دی.

دغه رقابتونه مثبتې او منفي خواوې لري، چې ځینې ملکونه مثبت او ځینې بیا منفي رقابتونه کوي.

په کوم ملک کې چې د پوهې او علم کچه لوړه وي، هلته مثبت سالم رقابت (positive compilation) وي او په کومو ملکونو کې چې د علم او پوهې کچه ټیټه وي، هلته منفي غیر سالم رقابت (Negative compilation) موجود وي او ډېر خلک یې منفي نظریات او افکار لري.

د سالم رقابت پر اساس ټولنه پیشرفت کولای شي.

دا یو اصل او حقیقت دی، چې په داسې ټولنو کې ورځ تر بلې ښه ښه استعدادونه پیدا کېږي او د ښه ذکاوتونو قدر پکې کېږي.

په نورې نړۍ کې ډېر خلک سپورت د صحت او ښو لاسته راوړنو لپاره کوي، خو دلته مې د ډېرو له خولې اورېدلي دي، فلانی سپورت د جنګ لپاره ښه دی، یا ځینې وایي: سپورت په درد نه خوري، دلته د ټوپک د یوې ماشي خبره ده.

په نورې نړۍ کې خلک تحصیل د دې لپاره کوي، چې خپلې ټولنې ته خدمت وکړي، خو دلته ډېر تحصیل کوونکي پر حرامو اخته او رشوتونه خوري، هماغه یوه پوهه ده، له چا افلاطون، ارسطو، اقبال، سید جما الدین افغان او ګل پاچا الفت جوړوي او له چا شیطان جوړوي.

نورې نړۍ کې انتخابات د خلکو د ګټې لپاره کېږي او اجتماعي ګټو ته ارزښت ورکوي او دلته د ځان د ګټې لپاره کېږي او فردي ګټو ته اهمیت ورکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هلته مشران له خپل موقفه ناوړه استفاده نه کوي، خو دلته برعکس ډېر مشران مو د بدو اخلاقو څښتنان دي.

دا چې هر انسان له خپل داخلي جوړښته ښه او بده ګټه اخیستلای شي، نو بیا ولې د خلکو زړونه خفه کوو، د دې پر ځای چې په ورین تندي او ښو اخلاقو ورسره خبرې وکړو، بده وضعه ورسره کوو.

نبي علیه السلام ډېر کفار په ښو اخلاقو مسلمان کړل، په اخلاق کې افراط بد کار نه دی.

مال، دولت او پیسې دي، څوک یې حرامې ګټي او څوک یې حلالې ګټي، څوک ورنه ښه استفاده کوي او جماتونه جوړوي او ځینې بیا ناوړه ګټه ورنه اخلي.

یو انسان ته بې سببه زهر ورکول او د هغه ژوند اخیستل، په مقابل کې له هماغه زهرو د داسې حشراتو وژل چې انسان ته زیان رسوي هم کیدای شي. یو زهر دي، ښه او ناوړه ګټه ترې لاس ته راوړلی شو.

که چېرې یو ځوان په تاریاکو روږدی وي، د وخت په تېرېدلو خپل ژوند له لاسه ورکوي، خو که چېرې له همدې تاریاکو په درملو کې ګټه واخیستل شي، انسان ته ژوند ورکوي او د ناوړې استفادې پرسبب د انسان ژوند له منځه وړي.

په نړۍ کې له هر شي ښه او ناوړه ګټه اخیستل کیدای شي، هلته خلک له هر شي ښه استفاده کوي، امید لرم چې دلته هم له هر شي ښه ګټه واخیستل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# انسانیت او اسلامیت

ډېر انسانان مې ولیدل، چې انسانیت لري، خو مسلمانان نه دي په مقابل کې مې ډېر مسلمانان ولیدل، چې مسلمانان دي، خو انسانیت نه لري.
یو کامل انسان ته ښه مسلمان ویلای شو او یو کامل مسلمان ته یو ښه انسان ویلای شو.
ښه انسان شه چې د یو ښه مسلمان په نوم یاد شې یا ښه مسلمان شه چې د یو ښه انسان په نوم یاد شې.
په نوم مسلماني او په عمل کې مسلماني یو له بله توپیر لري.
هر مسلمان انسان کېدای شي، خو هر انسان مسلمان کېدای نه شي. الله تعالی ته د اسلام مرتبه ډېره لوړه ده.
انسانیت او اسلامیت د ملا او ګیډې په شان دی، چې یو د بل لپاره لازم او ملزوم دي.
الفت صاحب وایي: (حقیقي مسلماني دومره خوار نه وه، لکه نن ورځ چې دی. نن د ځینو مسلمانانو په اعمالو اسلام شرمېږي، سره د دې چې اسلام نه بلکې د اسلام په نوم ځینې مسلمانان ملامت دي او یوائې د اسلام په نوم ایمانداره کیدای نه شو.)
هر مسلمان باید د انسانیت ټول کرامت په نظر کې ونیسي او عمل وکړي.
د اسلام په نامه مې ډېر داسې کسان ولیدل، چې هر ډول ظلم یې وکړ او انسان ته یې د حیوان په سترګو وکتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



حقیقي مسلمان کې د انسانیت ټول ښه خصلتونه موجود وي او چې تش په نامه مسلمان وي او عمل یې د مسلمان نه وي، بیا هغه هر څه کوي، چې په مسلمانانو کې یې ډېر ځوک نه کوي.

سید جمال الدین افغان وایي: ډېرو غېر مسلمان ملکونو کې وګرځیدم، هلته اسلام نه وه، خو مسلمانان وو. دلته اسلام شته خو مسلمانان نه شته. یعنې په مسلمان کې باید د انسانیت ټول ښه خصوصیات موجود وي.

یو کس کیسه کوله: له افغانستانه ۱۵کسه اندونیوزیا ته د تحصیل لپاره ولاړو.

ورځو کې یوه ورځ پر چکر ووتو، د یو ځنګل په خوا کې تېرېدو، چې مار مو ولیده، موږ ټولو وغوښته، چې مار ووژنو.

په دې وخت کې یو اندونیوزیایي راغی او موږ ته یې وویل: ولې دا بیچاره او بې خولې وژنئ! دا هم لکه ستاسو په شان الله تعالی پیدا کړی دی او د مرګ حق یې له تاسو سره نشته.

دا افغانستان نه دی، چې بر ناحقه پکې انسانان وژنئ. د مار مخه یې ونیوله او بیرته ځنګل ته ولاړ.

موږ ټول خجالته شو او په خپل کار پښیمانه وو.

نیم ساعت وروسته یو ژوبڼ ته ورسېدو، ګورو چې د یو فیل ډېر قدر او عزت کېږي، یو کس ورته خواړه برابروي، بل یې وینځي او بل کس یې وچوي.

یو اندونیوزیایي نه مو وپوښتل: د دې فیل ځومره قدر کوی؟

هغه وویل: د دې فیل مور او پلار په ځنګل کې مړه شوي دي او دی یتیم دی، موږ ځکه د دې قدر کوو چې د مور او پلار ارمان ونه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


یو بل ته مو وکتل او ما وویل: په افغانستان کې د ورځې څوڅو کورنۍ قصداً یتیمان کیږي. د دې دوو صحنو له لیدلو ورسته مې د نابغه افغان وینا په یاده شوه.
ولې مو په ډېرو انسانانو کې انساني عاطفه نشته، مرګ کوو، درواغ وایو او داسې نور.
یو ښه مسلمان باید د سیرت ښایست ولري. په سپینو جامو، قیمتي موټرو، لوړو ماڼیو او جګو جګو ځایونو کې مې داسې مسلمانان ولیدل، چې صورت یې ښکلی او خلکو ته ډېر او عالي خلک ښکاري، خو دوی د سیرت ښکلا نه لري او د ریاکار پیر په ډول د خلکو په سترګو کې خاورې اچوي او فکر کوي، چې الله تعالی به یې وبخي.
په ډېرو لوړو ځایونو کې مې ډېر ټیټ خلک ولیدل او په ډېرو غریبو او بیچاروو کې مې ډېر د عزت خلک ولیدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# لوی او وړوکی

که لوی سړی یې خلکو ته ځان کوچنی وښیه او دا احساس وکړه، چې په لویې کې تکبر دی.
شیطان لویې وکړه، چې د الله تعالی لخوا پرې لعنت وویل شو او په بد نوم یاد شو.
که پوه او عالم یې له ځانه پورته او پوه خلک په نظر کې ونیسه او د کوچنیې والي فکر وکړه.
د پوه او ناپوه تو پیر په دې کې دی، چې پوه خلک ځان له نورو کم ګڼي او ناپوه ځان له نورو زیات ګڼي.
د یو عالم نه چا پوښتنه وکړه: څومره علم او پوهه لرې؟
ویې ویل: زه اوس پوه شوم، چې په هېڅ نه پوهېږم.
د یو بل عالم نه چا پوښتنه وکړه: څومره علم لرې؟
ویې ویل: علم د یو لوی سمندر په شان دی، چې څلور خواوې یې نه معلومېږي، زه له دې سمندره د یوه څاڅکې په اندازه علم او پوهه لرم.
دواړو عالمانو او پوهانو ځان کم ګڼلی او حقیقي وینا یې کړې ده، که چېرې یو کس ځان لوی او پوه وښیي، دا په ټولنې کې د بدبختۍ سره مخامخ کېږي او که چېرې یو کس ځان د ډېرې پوهې سره سره ځان کوچنی وښیي، دې ته به الله تعالی عزت ورکوي.
الله تعالی لوی دی، غرور، شان او شوکت له دې سره مناسب دی، نه د خاکي انسان سره.انسان له خاورو پیدا دی، باید هر وخت کمینه او برده بار وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو عالم وایي:

د ناپوه مقام ته رسي چې ښه پوه په ناپوهۍ شي
لوی پوهاند آخر کې وايي چې په هېڅ شي نه پوهېږي

زموږ او ستاسې په ټولنې کې ډېرو لويانو کې واړه شته او ډېرو وړو کې لويان شته دي.

سید ګل پاچا الفت وایې:

یو يې لوی بولي هغه بل ورته وړوکی وايي
خېټه يې لويه او ککره يې وړه ده ډېره
کور يې دی نوی کالي نوي دي، موټر نوی دی
فکر يې زوړ خيال يې زوړ ارزو زړه ده ډېره

رښتیا چې په افغانستان کې د پوهې او لویوالي لپاره معیار د نورې نړۍ په پرتله بل شان دی. دلته ډېرو ناپوهو او وړو کسانو ته خلک پوه وايي. دغه دی د لوی او وړوکي تر منځ تحلیل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لېونی

لېونی دی، مه يې وهئ، بد او رد ورته مه وايې.

د ځينو خلکو پېژندل لکه د قيمتي کاڼو په شان ستونزمن کار دی او پيدا کول يې هم په غرونو کې د بيروجو لټون دی.

ډېر داسې کسان شته، چې تاسو ته به لېونيان او سپک خلک ښکاري، خو هغوی به د الله تعالی دوستان وي او ډېر داسې کسان شته، چې تاسو ته به د قدر او عزت خلک ښکاري، خو هغوی به د الله تعالی دښمنان او ډېر سپک خلک وي.

د انسان درونډوالی او سپک والی په سيرت کې دی، نه په صورت کې، که چېرې د يو انسان سيرت ښکلی وي، صورت يې هم ښکلا پيدا کوي.

ځينې داسې لېونيان هم لرو، چې د الله تعالی د رضا لپاره يې ځان پر لېونتوب وهلی وه او ټول عمر په دې نامه ياديدل.

د هارون الرشيد د وخت نامتو عالم، پوه او ديندار شخصيت هوښيار بهلول په ارادي ډول ځان پر لېونتوب ووهه، چې د الله تعالی نافرماني ورنه ونه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


غني خان وايي:

ګفتار د ليونو کې وي ګلونه هم ماران
قطار د ليونو کې ده پروت لاړ پيغمبران
پروا يې غني نه کړي که يې سپک تلي که درونده
تف ! څه به دا جهان وي څه به تول د دې جهان

رښتيا چې ځينې انسانان خلکو او عوامو ته ډېر د قدر وړ ښکاري او عزت يې کوي، خو دوی د الله تعالی خوښ نه وي، د ځينو انسانانو قدر او عزت په ټولنې کې نه وي، خو د الله تعالی خوښ وي.

داسې ډېر انسانان شته، چې ټوله دنيا يې پېژني، خو الله تعالی يې نه پېژني، برعکس داسې انسانان هم شته، چې ټوله دنيا يې پېژني، خو الله تعالی يې نه پېژني.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# توپیر

ډېرې میندې او پلرونه خپلو اولادونو تر منځ توپیر کوي.

دیوې کورنۍ د ټولو اولادونو عمرونه، قوارې، خویونه او عادتونه سره توپیر لري، خو بیا هم ټول اولادونه د خپلو والدینو نه مساویانه مینه غواړي.

که چېرې یو اولاد د ۵۰ کلو شي، بیا هم د والدینو مینې او غېږې ته اړتیا لري او د ستونزو پر وخت کې باید ورسره مرسته وشي او تسلي ورته ورکړل شي.

ځینې والدین وایي: فلانی زوی زموږ ډېر قدر او عزت کوي او موږ پسې ډېر ګرځي، نو ځکه پر موږ ډېر ګران دی او هغه بل زوی مې ټوله ورځ تروش وچلی نیولی دی او ډېر موږ پسې نه ګرځي.

په روانشناسي کې تر(فردي تفاوتونو )عنوان لاندې بحث کېږي، او وایي: په نړۍ کې د ټولو انسانان خارجي جوړښت(قد، قواره، سترګې او د بدن ټول هغه اعضاوې چې ښکاري ) او داخلي جوړښت(قهر، خوشحالي، احساسات، عاطفه او نور هغه عادات چې په سترګو نه ښکاري ) یو له بله سره توپیر لري.

که چېرې د یو زوی عادت داسې وي، چې یو ازې والی یې خوښ او نه غواړي چې ډېر له چاسره کیني، خو مور او پلار ورباندې ګران وي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



د لومړي وررور سره يې توپير په دې کې دی، چې يو زوی يو ډول او بل زوی بل ډول عادتونه لري.

الفت صاحب وايي:

دوه سکه ورونه لري بېل بېل نومونه
بېل رنګونه بېل غړونه بېل خويونه
مګر دواړه او سېدونکي د يو کور دي
د يوې سترګې په کور کې سپن او تور دي

رښتا چې دوه ورونه په يوه کور کې بېل نومونه، بېل غړونه او بېل خويونه لري، خو دواړه د يوه کور او سېدونکي دي او يوډول حقوق غواړي.

د نړۍ ډېرو ملکونو ته ولاړم، مختلف رنګونه، ډول ډول مساحتونه، مختلفې اب او هواوې، کلتورې توپيرونه او فکري مسايل يو شان نه وو، لنډه دا چې په يوې قوارې انسانان مې په نړۍ کې ونه ليدل، چې يو له بله توپير ونه لري.

که چېرې دا سې انسانان پيدا کړو، چې خارجي جوړښت يې ورته والی ولري، خو داخلي جوړښت يې موږ ته نه دی ښکاره او همفکره خلک ډېر کم پيدا کېږي.

که چېرې ديو باغ ونې په نظر کې ونيسو، يو باغبان لري، خو د ونو قدونه، ګلان او ميوې يو له بله توپير لري او د هر يوه ميوه هم بېل بېل خوند لري، خو باغبان ټولو ونو ته په يوه سترګه ګوري او يو شان حقوق ورته قايل دي.

الفت بيا وايي:

(c) ketabton.com: The Digital Library


چـا میــوه لرلــه چـا ښایســته ګلونــه
د چــا ســیوری و ډېــر ښــه د چــا قدونــه
چنــار لــوی و ، شــفتالو لکــه ماشــوم و
د مڼــې او نــاک تــوپېر لــه ورا معلــوم و

شاعر هم فردي تفاوتونو ته اشاره کوي او د ونو خصوصيات يې وړاندې کړي دي او بيا وايي.

هر يو بوټی په خپل ځای کې سربلند و
د باغبان سترګو کې هر يو ارجمند و
پــه حقوقــو کې يــې نــه و څــه تــوپېر
ماليــار و پــه هــرې ونــې ډېــر زهېــر

لکه څنګه چې ونې رنګارنګ ميوې او ځانګړنې لري، خو بيا هم د باغبان لخوا ټولو ته يو ډول حقوق ورکول کېږي.

والدين دې هم د خپلو اولادونو ځانګړنې او خصوصيات مطالعه او د دوی تر منځ دې توپېر نه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# د وخت ارزښت

اوربدلي مې دي، چې وخت د سرو زرو په شان دی، بې ځایه باید تېر نه شي، خو د وخت قیمت (ارزښت) د دنیا له هر څه شي زیات دی.

د انسان ژوند د تېر، حال او راتلونکي څخه جوړ دی.

انسان باید د تېر (ماضي) وخت فکر ونه کړي او څه چې تېر شو هغه هېر شو.

په ماضي باندې فکر وهل زړه خوړل او فکر خرابول دي.

موږ او تاسې مسلمانان یو او پر تقدیر ایمان لرو، نو ماضي، حال او راتلونکی ټول د الله تعالی لخوا ټاکل شوي دي، رحمان بابا وايي:

تـر ورخ تېـرې اوبـه بېرتـه نـه جـار وځـي
نـه جـار وځـي تېـر سـاعت پـه بېرتـه بيـا
تېـر سـاعت پـه مثـال مـړی د لحـد دی
مـړی چـا دی ژونـدی کـړی پـه ژړا

رښتیا چې ماشوم بېرته د مور ګیډې ته نه شي تلای، ځوان بېرته ماشوم کېدای نه شي، زوړ ځوان کېدای نه شي او مړی په ژړا ژوندی کېدای نه شي.

د راتلوونکي (مستقبل) په فکر کې هم مه اوسېږئ، دا چې د سبا ورځ د ژوند واک مو د الله تعالی سره دی، نو خپل ځان په الله تعالی سپارو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځینې خلک د ژوند لپاره اوږده اوږده پلانونه لري، خو د الله تعالی د پلان او ارادې په فکر کې نه دي. الله تعالی چې په تقدیر کې د دې د اینده لپاره څه لیکلي وي، هماغه کېږي، بل هیڅ نه کېږي.

که د انسان خوښه وي او که نه وي، د الله تعالی د ارادې پرته هېڅ نه شي کولای، د انسان تېر کړه وړه، حال او راتلوونکی د الله تعالی په ارادې او فرمان کې دی.

دا چې راتلوونکی نامعلومه دی، نو په دې اړه فکر کول، په هوا کې مرغان نیول دي او خوب لیدل دي.

د حال په فکر کې اوسېږئ او د یو حسابي انسان په ډول ژوند وکړئ، ګټه او تاوان مو هره ورځ محاسبه کړئ او د ګټه پله مو باید د تاوان په پرتله درنده وي. که چېرې یو انسان هر وخت د حال په زمانه کې د اسې فکر ولري، هېڅکله به د ماضي ارمان ونه کړي او د راتلوونکي په فکر کې به نه وي. دغه دی د وخت ارزښت.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# کاشکې ځواني وای!

ډېر خلک وايي، کاشکې ځواني وای! زړښت نه وای، ټول عمر مې په مستۍ کې تېر کړی وای.
زما په فکر، ښه ده چې زړښت شته، مرګ شته، جنت او دوزخ شته.
ټوله نړۍ له اضدادو جوړه ده، که د انسان خوښه وي او که نه وي، له دې سره به وخت تېروي.
د ځوانۍ په قدر زوړ پوهېږي، د خوشحالۍ احساس هغه څوک کولای شي، چې ډېر خپګانونه يې ليدلي وي، د صحت په قدر مريض ښه پوهېږي.
خو بيا هم د انسان د ژوند هره دوره بېل بېل خوند لري او انسان بايد د ژوند په هر پړاو کې خوشحاله وي.
په يوې کورنۍ کې د يو ماشوم چغهار يو ډول خوند لري او د کور مشران (نيا او نيکه ) ته ډېر احترام کېږي.
کله چې يوه ميوه داره ونه ګل وکړي، ښه ښکاري او ګلانو ته يې ټول ګوري، د همدې ونې شنه ميوه بېل خوند لري او پښه ميوه جدا خوند لري.
که چېرې يو کس ټول عمر ځوان وي، اولادونه يې پيدا، ځوانان، سپين ږيري او مړه شي او دی ځوان وي، د دا سې ژوند نه خوند نه شي اخيستلای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کال څلورو فصلونو نه انسانان، حیوانات او نباتات ګټې اخلي، که چېرې ژمی نه وای، بارانونه به نه وو ، سیندونه او نهرونه به وچ وو او للمې به بې حاصله وې، غرونه او درې به ښکلې او شنې نه وې او ټول به وچ ډاګ وو.

که چېرې اوړی او ګرمي نه وای، میوې به مو نه پخېدې، ټولې غلې او دانې به مو خامې وای. نو د هر پړاو په تېرېدو او ختمیدو کې د بل پړاو د پیدا ایښت څرک لیدل کېږي.

دنیا له اضدادو جوړه ده، د هر شي په پیدا ایښت کې د الله تعالی لوی حکمت پروت دی.

کوچنی وم، ځوان شوم، سپین ږیری شوم، او باالاخره مړ شوم، خو ښه ده چې ټول عمر ځوان نه وم!

(c) ketabton.com: The Digital Library


# نوی فکر

د کایناتو هر څه په تغیر، تبدیل او تحول کې دي، ورځ تر بلې د تحولاتو سره مخامخ یو.

یو وخت مو پر خرو، اسانو او اوښانو کاروانونه له یو ځایه بل ځای ته وړل.

د حج مراسمو لپاره مو په ورځو ورځو سفرونه کول، خو اوس هر څه نوي شوي دي، موټرې، کشتۍ او طیارې لرو.

ساینس پرمختګ وکړ او هره ورځ نوي نوي اختراعات کوي، خو زموږ فکر لا هماغسې زوړ دی.

هر څه مو نوي شوي دي، خو فکر او عقل مو زوړ دی. موږ په زړې ځانګو کې زاړه خوبونه کوو.

دغه زوړ فکر دی، چې ملک مو پرمختګ او پیشرفت نه شي کولای.

په هر شي کې زوړ او نوی توپیر لري.

د نننې ځوان سره ځوان نظریات او افکار دي او د یو زوړ او پخوانې مشر سړي سره زاړه نظریات او افکار دي.

ځوان دې نړۍ ته یو ډول ګوري او زوړ ورته بل ډول ګوري.د دواړو د سترګو دید یو شان دی، د یو لید لوری یو شان او د بل بل شان دی.

که د انسان د بدن اعضاوې په نظر کې ونیسو، هر اعضا د وخت په تېرېدلو زړېږي او خپل ماهیت او کیفیت له لاسه ورکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د یو زوړ سړي مغز د یو ځوان سره توپیر لري.اوس هم ډېر ځوانان دي، چې زوړ فکر لري.

رښتیا چې په پیسو نوې جامې، نوي کورونه، نوي موټرې او هر څه نوي اخیستلای شو، خو فکر نوی نشو اخیستلای.

د فکر نوي والي لپاره نوي افکارو ته ضرورت وي، چې د پوهې پر اساس او بنسټ د فکرنوی والی پیدا کېږي.

دا چې د ټولنې ډېرځوانان موږ زاړه فکر خاوندان دي، دلیل یې دادی، چې علم او پوهه نه لري.

په ډېرو لوړو څوکیو د ډېر زاړه فکر خاوندان مې ولیده او په دې پوه شوم چې پوهې او علم ته اړین ضرورت دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# د ژوند حقیقت

ژوند د هلوځلو مسابقه ده او په دې مسابقو کې هغوی وړونکي وي، چې ډېر زحمت وباسي.
د دنیا انسانان، حیوانات او نباتات د الله تعالی په قدرت پیدا کېږي، لوییږي او د وخت په تېرېدلو له منځه ځي.
له ادمه تر دې دمه، یوازې انسان دی، چې له پیدایښته وروسته یې کورنۍ د دې د ښه لوییدلو او پیشرفت په فکر کې وي او باید یو بافکره انسان خپل ځان او ټولنې ته خدمتونه وکړي.
د اصلي ژوند مفهوم یوازې پیدایښت، لوییدل او مړ کېدل نه دي، بلکې انسان باید د ژوند د هرې لحظې نه خوند واخلي او د ژوند د نعمتونو حق ادا کړي.
د حقیقي ژوند څښتنان هغه کسان دي، چې د ژوند په معنا او مفهوم پوه وي او د خپل پیدایښت مفهوم درک کولای وشي.
د ژوند د حرکت مسیر یې ښکاره وي او په دې مستقیمې لارې باندې تګ ډېر احتیاط غواړي.
ژوند بې ځایه تېرول دا مفهوم لري، لکه یو انسان چې پیدا ، لوی او مړ شي، خو هېڅ پیدا شوی نه وي.
په یوې ټولنې کې ژوندي انسانان کم وي او مړه انسانان زیات وي.له ژوندیو نه مې مطلب یوازې هغه انسانان نه دي، چې ساه ولري او د مړو انسانانو نه مې هم مطلب هغه کسان نه دي، چې ساه نه لري.
ژوندي انسانان هغه دي، چې ځان او ټولنې ته خدمتونه کوي او مړه هغه دي، چې هېڅ ډول خدمت نشي کولای.

(c) ketabton.com: The Digital Library


د دنیا ډېر څه په حرکت کې دي، خو د انسان حرکت باید له ټولو حرکتونو ګټور وي.

د انسانانو ژوند ډېر قیمتي دی، چې ځینې انسانان پکې لوی لوی کارونه کوي، ځینې بیا دغه قیمتي وخت بې ځایه تېروي.

دنیا د یو بحر په ډول ده، ځینې وګړي پکې په ساعتونو ساعتونو لمبلای شي، ځینې یې بیا پر غاړو لامبي او یو تعداد خلک پکې هېڅ لمبلای نشي.

پیاوړي انسانان پکې مرغلرې لټوي، خو یو تعداد یې د اوبو هم استفاده نشي کولای.

هغه چې قیمتي کاڼي پکې لاس ته راوړي، لکه د پوهو او عالمو انسانانو په ډول د اصلي ژوند پر مفهوم پوه دي او د انفرادیت نه اجتماعیت ته ډېر ارزښت ورکوي.

هغه چې له اوبو یې استفاده نشي کولای، لکه د ناپوه په شان، چې ټولنې ته خدمت نشي کولای یو شان دي. اصلي ژوند د دنیوي او اخروي ژوند توخه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# اضداد

د اضدادو فلسفه ده، چې په ټوله نړۍ کې د هر شي ضد شته او د دې ټولو په پیدا ایښت کې د الله تعالی ډېر حکمتونه پراته دي.

که د انسان خوښه وي او که نه وي، له دې ضدینو سره به وخت تېروي.

د یو انسان پیدا ایښت ته خوشحالېږو او بیا د همدې انسان مرګ ته خفه کېږو، خو ژوند او مرګ دواړه الله تعالی پیدا کړي او دې حقیقت ته غاړه ایښودل په موږ او تاسې حتمي دی. د ژوند سره مرګ تړلی دی او یو د بل ضد دي.

د ژوند سره رڼا او تیاره، ګل او اغزي ټول اړیکې لري، د انسان مرګ د انسان د زېږېدو له ورځې د هغې سره یوځای پیدا شوی دی او هر ساکښ شی به یوه نه یوه ورځ له منځه ځي او مړ کېږي به.

یو عالم وایي: (مرګ په حقیقت کې د انسان ژوند دی، انسان باید خپل مرګ ته خفه نه شي، ځکه د انسان ژوند وروسته له مرګه پیل کېږي.)

رښتیا که انسان دیندار او د الله تعالی ټول اوامر یې پر ځای کړي وي او د الله تعالی په لورېینې او پېرزوینې د جنت دروازې یې پر مخ خلاصې شي، نو ژوند بیا هلته ژوند دی، نه دلته.

کله چې خزان د پسرلي ګلونه ورژوي، پسرلی ورته وایي: ته ما وژلی نه شې، دا مرګ مې د نوي ژوند زیری دی.

نو د مرګ نه پس ژوند پیل کېږي. که په ژوند کې اضداد نه وی، په انسان به وخت نه تېریده، ژوند به بې خونده وه.

که لوړ او ټیټ په نظر کې ونیسو، اسمان، سپوږمۍ، لمر او داسې نور طبیعي توکي ډېر لوړ دي. له اسمانه بارانونه کېږي، سپوږمۍ شپې رڼا کوي او لمر د نړۍ ټولې میوې او دانې پخوي، دوی

(c) ketabton.com: The Digital Library


د خپل لوړوالي حق ادا کړی دی.

هغه مرغان چې ډېر لوړ ګرځي، لوړ قیمت او ارزښت لري.

یوه ونه ډېره لوړه او غټه ده، خود استفادې وړ نه ده، که چېرې همدغه ونه د یوې ویالې پر سر پل شي او د استفادې وړ شي، نو دده لوړوالی په همدې کې دی، چې د خدمت لامل وګرځیده.

په یو ملت کې پر لوړو چوکیو داسې کارکوونکي لرو، چې د منتخبو چوکیو لپاره مناسب دي. دوی هم د لوړوالي حق ادا کړی دی.

ځینې شیان تاسو ته لوړ ښکاري، خو په حقیقت کې ډېر ټیټ ورته ویلای شو.

په ډېرو لوړو مقامونو کې مې داسې ناپوهه وګړي ولیدل، چې ډېر کم ارزښته او بې قیمته ورته ویلای شو. دوی په لوړو مقامونو کې ډېر ټیټ خلک دي.

ځینې غریب او بیچاره د ډېرو پر وړاندې ټیټ خلک ښکاري، ځکه چې مال او دولت نه لري، خو حقیقت داسې نه دی. مرغلرې د ډېرې ټیټې سطحې له بحرونو څخه لاس ته راځي.

په ډېرو لوړو ځایونو کې مې ډېر ټیټ خلک ولیدل او په ډېرو ټیټو ځاینو کې مې ډېر لوړ خلک ولیدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# مساوات

په يوې ټولنې کې د خلکو ترمېنځ مساويانه حقوق د دې لامل کېږي، چې ټول په خوشحاله ژوند وکړي او له ژونده خوند واخلي.

د اسلام په اجتماعي اصولو کې يو مهم اصل مساوات دی، ځکه يې عرب او عجم، تور او سپين برابر ګڼلي او انساني کرامت يې هر بني ادم لپاره يو شان منلی دی.

څه شی چې په دغه کرامت کې زياتوالی راولي، هغه تقوی ده او بس.

د اسلام لوی رهبر حضرت محمد(ص) دوه ځله په سوره کهف او بل ځل په سورت فصلت کې د الله تعالی له لورې مامور شوی چې خلکوته ووايي: ژباړه: زه هر ګوره ستاسې غوندې بشر يم چې وحې راته راځي. يعني بې له دې نه چې د الهي د وحې په وسيله مې معرفي نصيب کېږي، نور نو ستاسې په شان يو بشر يم او له تاسو نه امتياز نه لرم.

حضرت عمر فاروق (رض) د اسلام دويم خليفه چې په اسلامي سنتو ډېر ټينګ و، د مساوات رعايت يې په ډېر اهتمام کاوه.

يوه ورځ په مکه کې ګرځېده، ويې ليدل چې خدمتګاران ولاړ

(c) ketabton.com: The Digital Library


دي او سرداران په ډوډۍ ناست دي، په ډېر قهر يې سردارانو ته وويل: څه وجه ده، چې ځانونه له خپلو خدمتګارانو غوره ګڼئ او سمدلاسه يې خدمتګاران له سردارانو سره په ډوډۍ کښېنول.

الفت صاحب وايي: (په ژوند کې معتدل حالت ښه دی او ښه ژوند هماغه دی، چې اعتدال پکې وي، يعنې نه ظالم وي او نه مظلوم، نه د چا بادار وي او نه يې څوک بادار وي. هو ! اجتماعي عدالت تل د ژوند لپاره ډېر اړين دی، د ژوند ساتنه، د ژوند وده او د ژوند خوشحالي په همدغسې معتدله هوا کې امکان پيدا کوي. چېرته چې عدالت او عدل نه وي هلته ژوند خوښ او ښاغلی نه وي او په دغسې ځای کې ژوند ډېر لوی عذاب دی.) ، دلته په هېڅ ډول مساوات او برابري نشته.

ځينې کسان د ډېرو ښوښو خوراکونو پر اساس د وينې فشار لري، ورځ تر بلې يې وزن په ډېرېدو دی او هره ورځ ډاکټر ته د درملنې لپاره روان وي او بل بېچاره يوه مړۍ ډوډۍ نه لري او ورځ تر بلې يې وينه په بدن کې کمېږي. د دې خوار او غريب حق هغه مالدار خوړلی، چې هره ورځ په تکليف کې دی. په يوې ټولنې کې افراط او تفريط داسې عوامل زېږوي، چې د ټولو لپاره بد عواقب لري.

يو شاعر وايي:

که افراط دی که تفريط يود بل سر خوري
هر يو بل ته قبر کن د بل اجل دی

د چا په سلهاوو مزدوران دي او بل پخپله مزدور دی، تر څو چې د بادار او مزدور نومونه له منځه ولاړ نه شي، مساوات به رامېنځ ته نشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مالدارو اولادونه په یورپ کې درس وایي او د غریب او بیچاره اولادونه پر سرکونو کاغذونه ټولوي، نا پوه مالدار ته لوړې لوړې دندې شته او پوه بیچاره د دندې پسې سرګردانه ګرځي، ډېر مشران مو په خارج کې لوړې لوړې ماڼۍ لري او ډېر بیچاره مو په خیمو کې ژوند کوي.

یو عالم وایي: (په یو هیواد کې تر هغې مساوات نه شي راتلای، تر څو چې د باداري تغر نه وي ټول شوی.)

دلته د مساوات پر نامه هېڅ نشته او د فیوډالي نظام وزرې خورې شوې دي او هر مالداره د غریب او بیچاره حق خوړلی او لوړ مقام ته یې ځان رسولی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پوه او ناپوه

ولې د ښه او بد، حق او باطل، اصل او کوټه تو پیر نه شو کولای؟ ځکه چې پوهه نه لرو، علمي منطق او پوهه مو نه شته.
غرونه لرو، په غرونو کې قیمتي کانې لرو، خو موږ یې له کانو هم استفاده نه شو کولای.
سیندونه لرو، خو اوبه یې نورو ملکونو ته ځي، زموږ پر اوبو بندونه تړل کېږي، استفاده ورنه کېږي، خو زموږ د برق پسې سترګې ووتې.
لویې لویې دشتې لرو، خو د استفادې نه دي. دا ولې؟ ځکه چې پوهه نه لرو.
څو کسان کاندیدان لرو. د یوه لاسونه دعوامو پر وینو سره دي، پوهه او علم نه لري، انساني کرامت نه لري او ټول عمر یې شوکې کړې دي او بل د انسانیت او اسلامیت ټولې ښې ځانګړنې لري. خو بیا هم زموږ ډېر عوام هغه ناپوه ته رایه ورکوي. دا ولې؟ ځکه چې پوهه نه لرو.

جهاني صاحب وايي:

دلته چې سر وهي سردار یې بولي
دلته د سرو لاسو په نوم عبادتونه کېږي
سجده هغو ته ده چې زړونه یې سینو کې نشته
زه بېګناه ګنهګاران پېژنم
څوک چې زرګونه قتلوي خلک بیعت ورکوي

(c) ketabton.com: The Digital Library


هغــه چــې وينــې پــا کوي هغــوی دوزخ تــه درومــي
د ژوند د ډېرو بدبختيو او کم بختيو لامل په خپله موږ يو.
د يو خان او ملک عـزت کـوو ، د هغـه مـال او دولـت، جگـو جگـو مـاڼيو او ګرنـديو مـوټرو تـه ګـورو او هـر چېـرې يـې پـه درونـد نامـه يادوو ، خو په دې نه پوهېږو ، چې دغـې ظـالم د مظلوم وينـې زبيخلـي او دې مقام ته رسېدلی دی. ولې ظالم په درونـد نامـه يـادوو؟ ځکـه چـې پوهه نه لرو.
ډېر دي چې سترګې لري، خو د حق او باطل توپير نـه شـي کـولای. غوږونه لري خو د حق خبرې پرې نه شي اوريدلای. خولـه لـري خو خپـل حق پرې نه شي غوښتلای. زړه لـري خـو احساسـات، جذبـه او عـاطفـه پکې نه ده پالل شوې. مغز او عقل لري خـو کـار پـرې نـه دی شـوی او د حق او باطل توپير پرې نشو کولای. دا ولې؟ دا ځکه چې پوهه نه لرو.
موږ او تاسې بايد علم تر لاسـه کـړو ، چـې پـوه او نـاپوه وپېژنـو او توپير يې وکولای شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# پرمختګ

د دنیا ډېر ملکونه د پرمختګ په حال کې دي او ورځ تر بلې یې په ژوند کې تغیرات راځي.

دا طبیعي اصل دی، چې هر شی مخ پورته ځي او په پورته تګ کې طرقي او پیشرفت وي.

سیندونه روان دي، اب وهوا ته تغیر ورکوي، مځکې خړوبوي او د ډېرو لپاره د ژوند موقع برابروي. دا بیعقله هم د خدمت کولو په فکر کې دی او غواړي پر مختګ وکړي.

ماشوم چې له موره پیدا شي ډېر کوچنی وي، ځوان شي او اخر د اسې حد ته ورسېږي، چې سید جماالدین افغان شي. خو بر عکس د دنیا افغانستان مخ په زوړ روان دی او د ټولې دنیا په نسبت د دوی معیار پالنه او ټاکنه د پوهې او علم په برخه کې له نورې نړۍ سره تو پېر لري.

د نن نه څو لسېزې له مخه د افغانستان صدراعظم موسی شفیق، وزیران محمد ګل خان مومند او عبدالروف بېنوا او د پارلمان وکیلان مو سید ګل پاچا الفت او لوی استاد پوهاند عبدالحی حبیبي وو او اوس د دوی ټولو معادل په افغانستان کې وګورئ. قضاوت تاسې لوستونکي وکړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# مشر او کشر

عمر د الله تعالی لوی نعمت دی، باید ښه استفاده ورنه وشي.

وخت او عمر په تېرېدو دی، نن په سبا، سبا په بل سبا په همدې ډول کلونه تېرېږي.

هر انسان باید پوهه تر لاسه کړي، چې دنیوي او اخروي ژوند ته پرې خدمت وکړي.

د انسان عمر باید د هغې د پوهې او عقل په نظر کې نیولو سره مقایس او پرتله شي نه د عمر په لحاظ، یعنې ځینې کسان د عمر او ځینې بیا د پوهې په لحاظ مشران دي. د پوهې مشرتوب څو مرتبې د عمر له مشرتوبه بهتره دی.

که چېرې یو کس ۱۵ کلن وي، خو پوهه او استعداد یې د ۳۰ کلو کس په اندازه وي، په حقیقت کې د دې عمر باید د دې د پوهې پر مقیاس په نظر کې ونیول شي. او که چېرې د یو کس عمر د ۳۰ کلو وي، خو پوهه یې د ۱۵ کلو کس په اندازه وي، په حقیقت کې دا ۱۵ کلن دی.

زموږ ځینې مشران دي، چې د عمر په لحاظ مشران او سپین ږیري دي، خو د پوهې په لحاظ کشران ورته ویلای شو.

مفکر الفت وایي:

چې په فکر، عقل، لوی نه وي ماشوم دی
چې په خوی باندې کمکی وي بابا نه دی

استاد هم د فکر، عقل او پوهې مشرتوب او لویوالي ته په عمر برتري ورکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


د انسان ژوند د کار، خدمت، پوهې او تحول لپاره دی. اسمایلز وایي: (د انسان ژوند د کړنو له مخې شمېرل کېږي، نه د کلونو له مخې.)

مشرتوب او مشري باید د پوهې پر بنسټ مستحقو کسانو ته ورکړل شي، نه د عمر، واسطو، پیسو او یا ځینو القابو پر بنسټ.

یوه ورځ مې په یوه ارګان کې د یو کس نه پوښتنه وکړه: مشران چېرته دي؟ هغه وویل: د پوهې پر معیار مشران غواړې او که د عمر پر لحاظ، هغه چې سپین ږیري دي او یا لوړ لوړ القاب لري، دوی د عمر په لحاظ مشران دي او د علم په نظر کې نیولو سره دوی کشران دي.

د دې د خبرو په اوریدلو په دې پوه شوم، چې د پوهې لپاره معیار پالنه او معیار ټاکنه د عمرپورې اړه نه لري، بلکې د پوهې پورې اړه لري.

د الله تعالی څخه غواړم، چې زموږ په ملک کې هم د پوهې لپاره یو ښه معیار وټاکل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# کميت او کيفيت

د کميت لپاره کيفيت ضروري دی، خو د کميت نه کيفيت ډېر مهم دی.

يو عالم وايي: (د اکثريت او اقليت تعريفونه نوي شوي دي، نور نو سرونه نه شمېرل کېږي، ماغزه شمېرل کېږي ! ! !)

رښتيا چې ډېر خلک مو ملک کې ژوند کوي، خو د کار خلک پکې په شمار دي. د کميت په لحاظ هر څه لرو، خو کيفيت مو له لاسه ورکړی دی. که چېرې د يو باغ ونې په نظر کې ونيسو، يو باغبان لري، ځينې ونې ميوه دارې او ځينې ميوه دارې نه وي.

د باغبان لپاره ښې ونې ميوه دارې دي، چې له ميوو يې هر ډول ګټه اخلي. ميوه دارې ونې د يو پوه او عالم انسان په ډول خپل ټولنې او مالک ته خدمت کوي او ګټه ورته رسوي.

پوه او ناپوه، بينا او ړوند يو له بله توپير لري، دغه ډول ميوه دارې ونې له بې ميوه دارو ونو سره فرق کوي.

ډېر غرونه لرو، خو د بدخشان هغه غرونه چې ببروج، زمرود، طلا او داسې نور قيمتي کاڼي لري، د هغو غرونو سره فرق کوي، چې هېڅ نه لري.

ځينې کسان شپه او ورځ هڅه کوي، چې په دشتو کې د څرخ په نامه مرغان ونيسي، دا مرغان ډېره لوړه بيه لري. طوطي، کنري يا داسې نورې مرغۍ چې ښکلي او ازونه لري، خلک يې په لوړ قيمت اخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


هر مرغه ځرخ، طوطي او کنري نشي کیدای.

په یوې ټولنې کې د فکر او نظر خاوندان کم وي او عام وګړي ډېر وي، هر عام وګړی د نظر خاوند نشي کیدای.

که یو سړی ډېر اولادونه ولري، خو ټول یې بیسواده او ټولنې ته یې خیر ښیګڼه ونه رسی اوبل کس یو اولاد ولري، خو د پوهې پر ګاڼه سمبال وي، د دې یو اولاد د هغه بل له ډېرو اولادونو بهتر دی.

دا مهمه نه دی، چې په ملک کې مو څومره خلک( نفوس )ژوند کوي، دا به مهمه وي، چې څومره خلک مو د علم او پوهې درلودونکي دي.

ډېر(زیات ) بې علمه خلک د ملک لپاره د بدبختۍ باعث ګرځي، په یو ملک کې داسې خلک چې د ټولنې لپاره خیر ښیګڼه نشي رسولای، ددې نه چې داسې خلک په یوې ټولنې کې نه وي ښه او بهتره به وي.

مفکر شاعر الفت وایي:

یوه ښکلې ښایسته پري پیکره
بله توره ناشولته بد منظره
کمیت کې یې فرق نه شته کیفیت دی
چې یوه یې کړه بلا بله دلبره

(c) ketabton.com: The Digital Library


# حقیقي خیرات خور

ولې غریب او بیچاره د نورو ملکون په نسبت دلته زیات دي؟ ولې ورځ تر بلې د خیرات خورو شمېر ریاتېږي؟ ولې هره لحظه د بیچارو او غریبو سره مخامخ کېږو؟

دا ځکه چې دلته عدالت او مساوات نشته، ځینې واکداران، مشران، مالداران مو زړونه لري، خو د زړه درد والی نه لري، کاذب احساسات لري. د دوی پر عواطفو کې صدق او رښتینولي نشته.او پخپلو خبرو کې صادقه نه دي.

دا چې غل وایي غلا مه کوئ! حرام خور وایي حرام مه خورئ! غاصب وایي غصب مه کوئ! او ګناهګار وایي ګناه مه کوئ! نو سړی حیران شي، چې تر څو به په خپلو غیرې حقیقي احساساتو خلک غولوی، دا سې خلک شته، چې تاسو ډېر ښه پېژني.

ستاسو د کړنو پر اساس مو نن ټولنه د بدبختیو او کمبختیو سره لاس او ګریوان ده او د ډېرو غریبو او بیچارو حق تاسو خوړلی دی.

اصلي او حقیقي خیرات خواره تاسې هستې، چې د غریبو مال مو خوړلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


ستاسو ټول مال، دولت او دارايي د غريبو حق دی او د دوی پر وينو موځان دې مقام ته رسولی دی.

کوم خيراتونه او زکاتونه چې تاسو ورکوئ، د دې خيراتونو او زکاتونو لومړني مستحقين تاسې غټ خيټې هستئ، چې د کونډو او يتيمانو مالونه موو خوړل.

کوم مال چې تاسو خيرات ورکوئ، دا د غريبو او بيچاروو خپل مال دی، پر دوی احسان مه کوی، د دوی احسان ومنۍ.

که چېرې دغه بيچاره ګان تاسو ته بخښنه وکړي، امکان يې شته، چې الله تعالی د دې غريبو پر بخښنې تاسو له دې عذابه خلاص کړي.

په دغو خيراتونو ورکولو کې د ثواب فکر مه کوئ، خو امکان لري، چې له عذابه پرې خلاص شئ.

د هارون الرشيد په وخت کې هوښيار بهلول ته د هارون له خوا يو اندازه پيسې د خيرات لپاره ورکړل شوې، چې پر غريبو، بيچاروو او مسکينانو باندې تقسيم کړي، کله چې ښار ته ولاړ، ګوري چې د هارون الرشيد د ساتوونکيو او کارکوونکيو په لاسونو کې ډانګ دی او د غريبو او بيچاروو نه، چې پر سرک کار کوي، په زور او ظلم پيسې اخلي.

دغه حالت چې هوښيار بهلول وليد ،بيرته د هارون دربار ته راغی او ورکړل شوې پيسې يې ورته بيرته ورکړې.

هارون الرشيد وپوښتل: ولې دې پيسې د بيچاره او غريبو پر ځای بيرته ماته راکړې؟

بهلول وويل: ستا کارکوونکي او ساتونکي مې په ښار کې

(c) ketabton.com: The Digital Library


وليدل، چې په ډېرې بې رحمۍ يې د غريبو او بېچارو نه پيسې اخيستې، زه پوه شوم، چې اصلي او حقيقي غريب ته يې! نه نور غريبان او بېچاره ګان. ستا خيراتونه د ريا په خاطر دي. ته او کارکوونکي دې، د ډېرو غريب نه بتر هستۍ او هغوی له تا سو بهتر دي.

په ځنګل کې مشر او بادشاه زمری دی، د دې پواسطه د ځنګل هرقسم حيوانات قتل کېږي او هغه خوري، د زمري پاتې شونې نور حيوانات خوري. زمری په اصل کې د نورو حيواناتو غوښې نه خوري، بلکې د يو ظالم مالداره په ډول خپله غوښه پخپله خوري.

زمری هم زمونږ د ټولنې د ځينو خلکو په ډول د کمزورو او ناتوانو حق خوري او خپل ځان مړوي. اصلي او حقيقي بېچاره زمونږ د ټولنې ځينې مالداره وګړي دي، نه غريبان او مسکينان.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# همدردي

هر انسان باید نورو انسانانو ته د عزت په سترګو وګوري او د ټولو انسانانو درد ، غم او ستونزې په خپل ځان کې حس کړي.

یو شاعر وایي:

هـر انســان تــه د انســان پــه نظـر ګــوره
هـر سـړي تـه د خپـل ځـان پـه نظـر ګـوره

که چېرې د یو کس والدین مړه شوي وي او دی په ډېر کړاو کې وي، باید ددې کس غم د ولس ډېره برخه داسې احساس کړي، چې یوازې ددې نه بلکې زموږ او ستاسې والدین هم وفات کېدای شي.

هغه کسان چې دردیدلي زړونه لري، هغه ته د ملک ټول ولس د کورنۍ په څېر وي او ددوی پر درد دردېږي او پر خوشحالۍ یې خوشحالېږي او ددوی تر مېنځ داسې رابطه وي، لکه د والدینو چې د اولادونو سره د وینې تړاو وي.

یو ښه انسان باید د احساساتو او عواطفو ربښتینوالي ولري او په ټولنې کې د هر کس ستونزې په نا شعوري ډول احساس کړي.

موږ او تاسې باید د انسانانو نه سربېره پر حیواناتو هم ترحم وکړو ، ځکه هغوی بې خولې او بې ژبې دي. حیوانات هم د الله تعالی ثنا وایي، د ژوند کولو حق لري، دا چې پیدا کړي الله تعالی دي، نو د مرګ حق یې هم د الله تعالی سره دی.

یو شاعر وایي:

پـتنـګ نـه دی پـه ډیـوه چې سـتي نـه شـي
بلبـل نـه دی چې پـه ګـل فریـادي نـه شـي

(c) ketabton.com: The Digital Library


زړه يې مه بوله تور کاڼی د صحرا دی
په ليدو د زخمي زړه چې زخمي نه شي

د همدردۍ دغه احساس الله تعالی هغه انسان ته ورکوي، چې زخمي زړه ولري او د دې د زخمي زړه څخه راوتلې خبرې د ډېرو خلکو زړونه تسخير کړي.

علامه اقبال وايي: (زخمي زړه يو نعمت دی، دا سې زړه هغه چا ته د الله تعالی له خوا ورکول کېږي، چې روحاني صحت ولري.)

دا چې نن مو د ډېرو خلکو احساسات مړه دي او هېڅ ډول انساني کرامت ته ارزښت نه ورکوي، دليل يې دا دی، چې عقيدوي، اصلاحي او روحاني فکر يې نيمګړی دی. په نورې نړۍ کې له ټولو لوړ حقوق حيواناتو ته ورکړل شوي دي.

د اسلام ستر پيشوا حضرت محمد(ص) پر حيواناتو ډېر ترحم درلود. يوه ورځ نبي عليه السلام په سفر وليده، چې چا مېږيو سوړه سېځلې وه، نبي عليه السلام پوښتنه وکړه، دا کار چا کړی دی؟يوه صحابي وويل، ای د الله تعالی رسوله! دغه کار ما کړی دی، نو نبي عليه السلام ورته وفرمايل: چې له الله تعالی پرته بل هېڅوک په اور د سزا ورکولو حق نه لري، پام چې بيا داسې کار ونه کړې.

نبي عليه السلام دومره شفقت او نرمي درلوده، چې د اوداسه په وخت کې يې تږې پشو خوا ته راغله، نو نبي عليه السلام د خپل اوداسه لوښی ورکوږ کړ او هغه پشو ته يې اوبه ورکړې او بيا يې اودس وکړ.

يوه ورځ نبي عليه السلام پر داسې يوه سړي ورغی، چې د وزې د حلالولو لپاره يې خپله چاړه تېره کوله او وزې ورته کتل، نبي عليه السلام غوسه شو او ويې فرمايل: په تاسې کې، چې هر څوک خپل ښاروی حلالوي، نو د ښاروي تر څملولو مخکې دې خپله چاړه ښه

(c) ketabton.com: The Digital Library



تېره کړي.

نبي عليه السلام يوه ورځ پر لاره تېربده، يو سړی يې وليده، چې پر خپل اوښ سپور په خبرو بوخت دی، نبي عليه السلام دغه سړی له دې کاره وژغوره، چې له اړتيا پرته پرسورلۍ ډېر مه کېنئ، يعنې کله چې خپل هدف ته ورسېږئ، نو بيا له سورلۍ ښکته شئ، هسې بې ضرورته پرې مه کېنئ او همدا شان نبي عليه السلام د څارويو له داغلو منع کړې ده.

نبي عليه السلام پر حيواناتو دومره زهير وه، انسانان خو پرېږده.

نننۍ ډېر انسانان مو يوازې د خپل ځان او کورنۍ په اړه فکر کوي، داسې خلک کم لرو، چې د ټولو عوامو په فکر کې وي.

داسې کسان چې د ملي مفکورې او نظريې خاوندان دي او د ټول ملک لپاره فکر کوي، د دوی ربنتيني احساسات د ستايلو وړ دي او ولس هم بايد په داسې اشخاصو وياړ وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# ښکلا

ښکلا که د نړۍ هر چېرته وي ښکلا ده، ښکلا جامع، مانع، کوټلې، منلې او ټولنمنلې پېژندنه نه لري.

دا چې د انسانانو خارجي او داخلي جوړښتونه سره توپیر لري، نو له همدې امله د یو شخص داخلي جوړښت (احساسات، عواطف، تخیلات او داسې نور) د ښکلا د ارزښت په ټاکلو کې سره توپېرلري.

په افریقې، روسیې، افغانستان او داسې نورو .... ملکونو کې د ښکلا معیارونه سره توپېر لري.

دا چې د یوې ټولنې کلتورونه، ارزښتونه او نور سره توپېر لري، د ښکلا ټاکلو معیارونه هم فرق کوي.

په هر انسان کې باید د صورت او سیرت ښکلا موجود وي، خو د صورت نه سیرت ډېر مهم دی او هر انسان باید له صورته سیرت ته ډېر ارزښت ورکړي.

سید ګل پاچا الفت وایي:

رنګ شکل ته مه ګوره معنا نیسه نظر کې
ظاهر کې لکه غنې ښکاربږي غنډلان

الفت صاحب هم له صورته سیرت ته ډېر ارزښت ورکړی دی او تاکید کوي، چې د انسان شکل ته مه ګورئ، بلکې معنا ته یې پام وکړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library


یو عالم وایي: (ظاهر بین انسان په سپین پوستکي مینېږي، چې دا سطحي مینه ده او پوستکی ډېر ژر توریدلای شي.)، د عالم هدف ښکاره دی او استا د الفت نظر یه تاییدوي.

هر کال په نړۍ کې د نبي علیه السلام پر نامه د سیرت النبي سیالي جوړېږي او د دې پر خوی، عاداتو او اخلاقو پکې مفصل بحث کېږي، سره له دې چې نبي علیه السلام ته الله تعالی د ټولې نړۍ د خلکو نه پوره ښکلا ورکړې وه، خو بیا هم د دې پر نامه د صورت النبي کومه سیالي تر اوس نه ده جوړه شوې.

نبي علیه السلام تر ټولې نړۍ ښکلی و، سپین مخ او ځلیدونکې څېره یې درلوده، برابر قد، رنګ مبارک یې نه ډېر سپین او نه ډېر غنم رنګی و، د سر ویښتان مبارک یې نه ډېر نبغ او نه ډېر ول ول وو، مخامخ غاښونه مبارک یې سره بېل بېل وو، چې د خبرو پر وخت به یې د بریښنا په ډول رڼا کوله، سترګې مبارکې یې تورې او بانه یې اوږده وو، سترګې یې پر رنجو تورې ښکاره کېدې، خو په حقیقت کې یې رانجه نه وکړي، د سترګو په سپینو کې یې سرې کرښې وې، رسول الله (ص) به په تیاره شپه کې هم دا سې لیدل کول، لکه په رڼا کې، وروځې مبارکې یې سره بېلې وې، مخ مبارک یې غوښن و، پوزه مبارکه یې نرۍ لوړه وه، سر مبارک یې هم برابر لږ غټ و، ږیره مبارکه یې دومره ګڼه وه، چې سینه یې پرې ډکېده(پټېده)، غاړه مبارکه یې تر ټولو خلکو ښایسته وه، بدن مبارک یې نه ډېر ډنګر او نه ډېر غټ و، برابر وجود یې درلود، له ټټره تر نامه پورې یې د ویښتانو یوه کرښه وه، په نور بدن یې ډېر ویښتان نه وو، د اوږو مېنځ او سینه یې پراخه وه، سینه او ګېډه مبارک یې سره برابر (اوار) وو، د بدن بندونه مبارک یې غټ او مضبوط وو، د لاسونو تلي (ورغوي) مبارک یې غوښن وو، لاسونه یې تر وا ورو یخ او تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



مشکو زیات خوږ بویه وو ، نبي علیه السلام به چې له چا سره ستړې مه شې وکړه، د هغه شخص له لاسونو به تر ډېره ورځ خوږ بوی ته او که د کوم ماشوم پر سر به یې لاس کېښود ، هغه به د ماشومانو په منځ کې پېژندل کېده ، ځکه چې د هغه ماشوم له سر څخه به خوږ بوی راته، پوندې مبارکې یې پستې وې او له مسکا نه لوړه خندا به یې نه کوله.

د نبي علیه السلام له دومره ښکلا سره سره ، بیا هم د دې پر سیرت ډېر اثار لیکل شوي دي.رسول الله (ص) ډېر کفار د خپلو اخلاقو پواسطه مسلمان کړي دي.

ډېر شیان دي، چې ډېر ژر زړونه فتح کوي او ځوانان تر خپل تاثیر لاندې راوړي، په ځوانۍ کې جذبات او احساسات پر هر انسان غالبه وي او ډېر وخت د ژوند لپاره ښه تصمیم نه شي نیولی.

دوی په داسې ښکلا زړونه بایلي، چې له عاداتو یې خبر نه وي. که یو بت هر څومره ښکلی وي، انسان کیدای نه شي، ځکه چې د انسانانو له صورته سیرت ته ډېر ارزښت ورکول کېږي.

ځینې ځوانان مو پر بتانو زړونه بایلي او د عاقبت فکر یې نه کوي. که چېرې یوه هندوانه ډېره غټه وي، خو منځ یې خام وي، د داسې هندوانې اخیستل بې ګټې وي،خوند یې بې خونده وي او رنګ یې بې رنګه وي.

له ډېرو غټو او لوړو بې میوه دارو ونو نه، وړې میوه دارې ونې بهتره دي.

زمونږ لپاره د ونو میوې مهمې دي، نه قد او لوړوالی، سره له دې، چې د غټو ونو نه د لرګیو او یانوره استفاده کولای شو، خو د یوې ونې د میوو نه چې څه ډول استفاده کېږي، هغه له هر څه بهتره ده.

که یو غر په نظر کې ونیسود هغه لوړوالی او نور ظاهري ښکلا

(c) ketabton.com: The Digital Library


يې د صورت ښايست دی، خو په همدې غره کې قيمتي کاڼي يې داخلي ښکلا ده. يا د يو بحر لويوالی او د اوبو شفافوالی يې د صورت ښکلا ده او په همدې بحر کې د طبيعي زيرمو موجويت يې داخلي ښکلا ده.

د غرونو او بحرونو په داخلي ښکلا او صورت کې هم ډېر توپير ليدل کېږي.

ډېرې غټې سترګې مې وليدې، چې د خپل يار نه پرته د نورو خلکو د کتلو لپاره ليواله وي، په مقابل کې مې ډېرې با حيا سترګې وليدې، چې يوازې د يو يار ديدن لپاره پيدا شوي دي، چې د غه سترګې د هغو غټو سترګو نه ډېرې بهتره دي، چې د خلکو زړونه ښکار کوي.

که موږ د يو انسان د بدن د هرې اعضاوي د ښکلا په اړه فکر وکړو، د انسان د بدن اعضاوي د روا کارونو لپاره پيدا شوي دي، خو دوی پرې ناروا کارونه کوي.

داسې بداخلاقه ښايسته ښځې پيدا کېږي، چې د مينې کولو نه بلکې د نفرت کولو لياقت هم نه لري.

د نبي عليه السلام د وينا مفهوم دی، چې ښځې د څلورو مهمو خصوصياتو او ځانګړنو په نظر کې نيولو سره په نکاح کړئ، خو له دې څلورو خصوصياتو نه دين داره ښځه بهتره ده. کومه ښځه چې دين داره وي، د هغه سره به خامخا د سيرت ښکلا ملګرې وي.

هو ! د هر انسان لپاره د صورت د ښکلا نه د سيرت ښکلا مهمه ده، په حقيقت کې د هر شي ښکلا په سيرت کې ده، نه په صورت کې.

يو عالم وايي:

خپلوي د سيرت ښه ده خپلوي نه د صورت
څېره کې خو پردي هم ښکاري کله يو شان

(c) ketabton.com: The Digital Library


# ښه او بد

ډېر دي، چې ښه ته بد او بدو ته ښه وايي، ښه غندي او بد ستايي او د دې دواړو تر مېنځ توپېر نه شي کولای.
هغه څوک چې د دې دواړو تر منځ فرق نه کوي، هغه عوام دي، چې د پوهې کچه يې ټيټه ده او په دې نه پوهېږي، چې د ښو خلکو په مقابل کې داسې ودريدل ټولنه له پرمختګ او ترقۍ څخه بې برخې کوي او د داسې خلکو تعداد ورځ تر بلې کمېږي او د بدو ستاينه، دې ته موقع برابروي، چې په بدو کارونو کې ډېر خلک يو له بل سره رقابت وکړي.
په ټولې نړۍ کې ښه خلک او بد خلک شته، ښه خلک د خلکو په زړونو کې پاتې کېږي او بد خلک ډېر ژر له خلکو هېرېږي.
نن مو د ټولنې ځينې مشران، مالداران او په لوړو چوکيو کارکوونکي ډېر بد خلک دي، خو بيا هم د ولس لخوا انتخاب او د دوی په زړونو کې ځای لري، لاسونه يې ښکل کوي او هر چېرې په ښه نامه يادوي، چې اصلي لامل يې د ټولنې د ځينو وګړونه پوهيدل دي او په همدې ډول خلکو د شمېر ډېروالی دی.
په کومې ټولنې کې، چې پوهه او علم کم وي، هلته بيا پورته معيارونه ټاکل کېږي او داسې نورو مسايلو ته پاملرنه کېږي، چې نورې نړۍ کې هېڅ حيثيت او قيمت نه لري.
په کومو خلکو او ټولنو کې چې د بيسواده او بدو خلکو عزت ډېر وي، هلته په همدې ډول خلک زيات وي او په کومو ټولنو او خلکو کې چې د باسواده او ښو خلکو قدر ډېر وي، هلته بيا په همدې

(c) ketabton.com: The Digital Library


ډول خلک ډېر وي.

دلته چې چا ډېر ظلم او زیاتی کړی دی، د هغوی ډېر عزت کېږي، همدا ظالمان دي، چې د مظلومانو اه او فغان اسمان ته وختـه.

په نورې نړۍ کې د هغو خلکو یادونه کېږي، چې ټول عمر یې عوامو ته خدمتونه کړي وي او د زړه درد او همدردي یې له غریبو او بیچاروو سره درلوده.

د یونانی ژبې افلاطون، سقراط، ارسطو، بقراط، د روسیې ژبې تولستوی، د فرانسوي ژبې وکتورهوګو، د هندي ژبې ټاګور، د اردو ژبې علامه اقبال او د فارسي ژبې فردوسي، مولانا جلال الدین بلخي او د داسې نورو پېژندل شوو څېرو پر نامه ډېر ځایونه جوړ شوي دي او د دوی د عزت لپاره یې ډېرې ښې مقبرې جوړې کړې دي، خو دلته برعکس ځینې هغه کسان ستایل کېږي، چې د نفرت لیاقت هم نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# مینه

ژوند د مینې او محبت لپاره دی او په نفرت کې تېرول یې د انسانانو لپاره نه ښايي.

یو شاعر وايي:

دا ژوند خو دا سې لږ د محبت لپاره هم دی
حیران یم چې نفرت ته وزګار يږي خلک څنګه

رښتیا که د یو سل کلن کس نه پوښتنه وکړو، چې د ژوند خوشحالي او خفګانونه دې یاد يږي؟ هغه به وو ايي، په ټول ژوند پوه نه شوم، دا سې احساس کوم، چې دوه ورځې رابانديې تېرې شوي دي. نوژوند د نفرتونو نه پر خوشحالۍ يې تېرول اړین دي.

همدا حقیقي او مجازي مینه ده، چې انسانان په دنیا کې ژوند کوي او هر ډول سختې تېروي.

مینه ده، چې ډېر پردي خپلوي او ډېر خپل خلک چې یو د بل سره مینه نه لري پردي کوي.

ځینې والدین د خپلو ځینو اولادونو سره مینه نه کوي او د دوې تر مېنځ د مینې هغه تار چې له زړونو څخه زړونو ته لار لري شلیدلی وي او د پردیو په ډول ژوند کوي، خو په مقابل کې ځینې خلک شته، چې د پردیو سره دا سې مینه کوي، چې د وخت په تېریدلو یې مقام د مور او پلار مینې او مرهمت ته رسېږي.

مینه ده، چې انسان خو پرېږده، حیوان هم خپل تابع ګرځوي. یو ښکاري مرغه، چې د ځینو ظالمو انسانانو لخوا یې سترګې تړل شوي وي او د یو بندیوان په ډول ژوند کوي، خو بیا هم د خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library


خاوند تابع داري کوي او د دې په خدمت کې وي او هر وخت ورته نور مرغان ښکار کوي، چې اصلي لامل يې د انسانانو مينه او محبت دی.

يو سپی که هر څومره ووهل شي او له کوره وشړل شي، خو بيا هم له کوره نه ځي او هغه الفت او مينه چې د يو انسان لخوا ورسره شوې، نه يې هېروي.

دا سې ډېر مثالونه د حيواناتو لرو، چې د انسان مينه يې دې ته اړ کوي، چې بيرته د انسان سره مينه وکړي.

مينه او محبت ته انسانان ډېر ضرورت لري، خاصتا هغه غريب او بيچارګان چې ټول عمريې په سختۍ کې ژوند تېر کړی دی او مينې ته اړتيا لري، بايد د دوی اوښکې پاکې کړو او په مينه ورسره وخت تېر کړو.

انسان دوستي (هيومانيزم ) په نورې نړۍ کې ډېر ارزښت لري.

د مينې حقيقي احساسات او عواطف د هر چا په زړه کې نه وي. داسې انسانان چې د مينې ډک زړونه ولري، په هرې ټولنې کې کم پيدا کېږي.

موږ د ګل پاچا الفت په شان انسانانو ته ضرورت لرو، چې د ملک ټولو بيچاروو او غريبو خلکو سره يې همدردي درلوده او د زړه مينه يې له خپلې ټولنې او ولس سره وه.

نن مو د ټولنې ډېره برخه د ځينو هغو ژوند يو او مړو خلکو احترام کوي او د مينې لايق يې بولي، چې د نفرت لياقت هم نه لري.

ولس بايد د ټولنې حقيقي خدمتګاران پيدا او مينه ورسره وکړي، د مينې حقدار هغه څوک دي، چې د ټولنې د خلکو سره رښتينې مينه لري.

که چېرې يو جنګې چرګ ( کولنګې ) ته د دې لپاره ښه غذا

(c) ketabton.com: The Digital Library


ورکړو او مینه ورسره وکړو، چې په جنګ یې واچوو او یا له حلالې وروسته یې له بڼکو بالښتونه او دوشکې جوړې کړو، چې په حقیقت کې دا مینه د مقصد او هدف لپاره ده.

ډېر داسې بې علمه او بې لیاقته د لوړ مقام خاوندان مې ولیدل، چې د ولس سره د جنګي چرګ معامله کوي، هېڅ ډول مینه ورسره نه لري، بلکې د منفي ملتپالنې ( negative nationalism ) مفکوره لري.

د عوامو پواسطه ځان لوړ مقام ته رسوي او بېرته د ولس وینې زبیخي، خو دوی پرې نه پوهېږي.

دا چې ولې مو د ولس ډېره برخه نه پوهېږي؟ دا ځکه چې پوهه او علم نه لري. عوام باید د مینې او محبت مستحقین وپېژني او له هغه چا سره د زړه له کومې او د احساس له تله مینه وکړي، چې اصلي حقدار یې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سرعت

په دنیا کې د نوي ساینس پرمختګ، معلومات او اختراعات په دې دلالت کوي، چې دوی د علم او پوهې پر ګاڼه سمبال دي.
د دوی د پرمختګ سرعت ډېر تیز دی، دوی په طیاره کې ناست دي، ډېر لوړ پرواز ونه کوي، له ځانه ښکته، هر څه ورته ښه ښکاري او کوشش کوي، چې له ځانه پورته هم نوي معلومات تر لاسه کړي.
ځینې وګړي په ریل ګاډي کې ناست دي او د لاسته راوړنو په حال کې دي. خو ځینې ملکونه بیا د غرونو په شان میخ شوي ځای پر ځای ولاړ دي، نه پرمختګ کوي او نه مخ ښکته راځي.خو داسې ملکونه هم شته، چې د سیند د اوبو مخ ښکته روان دي، دوی د پیشرفت په فکر کې نه دي، یوازې خپلې ورځې تېروي، په داسې ملکونو کې د پوهې او علم کچه ټیټه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# حقیقي کوڼ

انسانان اشرف المخلوقات او د سالم عقل او فکر درلودونکې دي.

د انسانانو دوه ګوني جوړښتونه سره توپیر لري له همدې امله یې فکرونه، پوهه او ذکات درجه هم یو له بله فرق کوي.

داسې وګړي شته، چې عقل لري، کاڼه نه دي، هر څه اوري، خو بیا هم له کڼو بدتر دي، چې اصلي او حقیقي کاڼه همدوی ته ویلای شو.

یو انسان که له موره کوڼ پیدا شي، دا یو حقیقت دی، چې څه به نه اوري، خو بیا هم دا کوښښ کوي، چې د سترګو په واسطه د خلکو د خولې له حرکاتو د هغې پر خبرو پوه شي او که داسې نه وي، په اشارو خو خپل کار کولای شي.

داسې انسانان شته، چې سالم پیدا شوي او کاڼه نه دي، هر څه اوري، خو په ښو کارونو عمل نه کوي، دې ته باید سالم او جوړ کاڼه وواېو، دوی څو مرتبې له هغو کڼو بدتر دي، چې له موره کاڼه پیدا شوي دي. ای کاش چې دوی هم کاڼه پیدا شوی وای، نو موږ به بیا د دې ارمان نه کاوه، چې دوی مو خبره نه اوري.

یو شاعر وایي: ( ړانده پوهېږي چې لمر شته دی، خو لمر نه شي لیدلای، سهار چې له خوبه پاڅېږي، د سهار رڼا نه شي لیدلای. ګونګ شونډې وینې چې خوزېږي، خو خبرې نه اوري، کوڼ ته چې یوه خبره وکړو، هغه بل څه اوري.دا له موره پیدا شوی ړوند، ګونګ او کوڼ څو مرتبې له هغې ړوند، ګونګ او کوڼ بهتر دی، چې له موره جوړ پیدا خو عمل یې له هغو بد تر دی. )

دوی د خپل ملک سره مینه نه لري او نه یې له خلکو سره لري، دا ملک چې زموږ او ستاسې کور دی، خاپوړې مو پکې کړې،

(c) ketabton.com: The Digital Library


اکسیجن مو پکې تنفس کړی، له همدې خاورې تغزیه شوي یو ، خو بیا هم ورسره خیانت کوو ، وفاداره ورته نه یو.

که یو باز په نظر کې ونیسو ، خاوند یې په لاس ګرځوي، ډوډۍ ورته ورکوي، مینه ورسره کوي، سره له دې چې سترګې یې تړلي او بندي دی، خو بیا هم د خپل مالک هره خبره مني او د هغې خدمت کوي، د خپل مالک سره بیوفایي نه کوي، کولای شي چې وتښتي، خو د هغه احسان نه شي هېرولی. وګورئ ! په حیواناتو کې هم وفا شته.

ته په خپلو خوشحالیو مست یې او د بیچاره ولس چغې او فریادونه په اسمان کې وریځې جوړې کړې، د دوی فریادونه نه اورئ، له الله تعالی نه وو ېرېږه، قیامت ورځ موهیره کړې ده.

ډېر انسانان مې ولیدل کانړه نه دي، خو بیا هم خبرې نه اوري. سترګې لري، خو حیا پکې نشته. وجدان لري، خو بیا هم پر وجدان پښه ږدي. لاسونه لري، د خیر پر ځای پرې د شر کارونه کوي. زړه لري، ترحم او زړه سوی یې نشته. عقل لري، خو د بیعقلو او لیونیو نه خراب کارونه کوي. پښې لري، جومات ته پرې نه، میخانې ته پرې ځي. ژبه لري، د دې پر ځای چې ښې خبرې وکړي، بدې خبرې کوي. لویه ګیډه لري، د حلالو پر ځای یې پر حرامو ډکوي. څلور ښځې لري،بیا هم هره شپه فحاشي پسې ځي. په لوړ مقام کار کوي، د دې پر ځای چې خدمتونه وکړي، خیانتونه کوي.

ولس باید د ټولنې خدمتګاران او خیانتکاران وپېژني او د دوی حقیقت ښکاره کړي، خدمتګاران وستایي او خیانتکاران وغندي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# د تقدير فلسفه

ټول مسلمانان په (ولقدر خيره و شره) باندې ايمان لري.

الله تعالی چې د انسان لپاره څه ليکلې وي، هغه به کېږي او د الله تعالی په ارادې چې کوم څه کېږي، په هغه کې د انسان خير وي.

د الله تعالی د تقدير ارادې ته غاړه ايښودل په موږ فرض دي. ځينې خلک د تقدير په اړه ګډې وډې خبرې کوي، يو تعداد وايي: ځان موټر لاندې اچوم او مړ کېږم ايا دا په تقدير کې ليکلې وو؟

يو شاعر وايي:

په تدبير که دې د بام سوری بند نه کړ
دا تقدير دی چې هغه کوټه به ښاځي

د هر کار لپاره تدبير مهم دی، خو تدبير هم په تقدير کې ليکل شوی وي، دا چې الله تعالی په خپلې ارادې د خپلې خوښې انسان ته خوشحالي او خفګان ور کوي، موږ بايد د سر په سترګو هغه ومنو.

ځينې وخت يو انسان د يو کار په کولو کې د ځان لپاره خير وينې، خو په هغه کار کې يې شروي يا يو کس په يو کار کې له ځان

(c) ketabton.com: The Digital Library


لپاره شر ويني، په هغې کې يې خير وي. الله تعالى چې د انسان سره کومه کړنه کوي، دا له هغې سره يو لوی احسان دی.

يوه زړه ښځه يوه ورځ له زينو ولوېده او لاس يې مات شو، په دې وخت کې يې وويل: شکر الحمدالله، خوا کې يې يو شمېر خلک ولاړ وو، دې ته يې وويل، ولويدې او لاس دې مات شو او بيا هم شکر وباسې، دې وويل: زما د لاس ماتيدل د الله تعالى خوښه وه او د هغې په ارادې خوشحاله يم.

انسان بايد پر تقدير باندې هروخت، هرحال او هر ځای کې شکر ګزاره او خوشحاله وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# ظاهر او باطن

سترګې خلاصې کړئ او د زړه په سترګو دې نړۍ ته وګورئ، ډېرو حقایقو او پټو رازونو نه به خبر شئ، داسې څه به وګورئ، چې نور یې د لیدلو سره سره نهویني.

د ژورو فکرونو خاوندان کولای شي هغه څه ووینې چې عادي خلک یې نه شي لیدلای، سره له دې چې ټول وګړي سترګې لري او د ټولو سترګې دید هم لري، خو د فکر او نظر خاوندان د زړه او عقل په سترګو کتل کوي.

دا د سپینو جامو خاوند چې په شان او شوکت ګرځي او د وزن د زیاتوالي له کبله پر لاره نه شي تلای، کله یو ډاکټر او کله بل ډاکټر ته د وینې فشار له کبله روان وي. دا هغه ریاکار پیر دی، چې هر وخت یې د غریبو حق خوړلی او د مسکینانو وینې یې زبېخلې دي.

دی د ښکاري باز په ډول نور واره او کمزوري مرغان خوري. یوه ورځ مې په هوا کې د بازانو یو ټولی ولید، چې د وزن د ډېروالي له امله یې نه شو کولای، چې لوړ پروازونه وکړي، ددوې د غټ والي لامل هم د نورو کمزورو مرغانو غوښې خوړل وو، د کومو مرغانو غوښې چې دوی خوړلې وې، د هغوی د اولادونو چغهار مې اوس هم په غوږو کې انګازې کوي، په یوې ټولنې کې د افراط او تفریط عوامل همداسې بې عدالتې منځ ته راوړي.

تاسې هغه سترګې پیدا کړئ، چې ظاهر نه بلکې باطن ووینې، د ډېرو شیانو ظاهر او باطن سره توپیر لري.

که چېرې نړۍ دې لیدلوری ولرو، نه شو کولای چې د دنیا له پټو حقایقو خبر شو، ظاهربین مه اوسېږئ، کوښښ وکړئ، چې د هر شي باطن ووینې.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# حرکت

د یو پوه انسان د حرکت مسیر باید معلوم وي، د ځینو وګړو د حرکت مسیر مثبت او د ځینو بیا منفي خواوې لري.
دواړه ډلې فکر لري، ځینې د مثبت فکر او ځینې بیا د منفي فکر درلودونکې دي.
په ژوند کې باید حرکت موجود وي او د همدې حرکت نتیجه ده، چې انسانان کار کوي او خپلې اړتیاوې پوره کوي.
که په ژوند کې د کار او زحمت هلې ځلې نه وي او انسان ځای پر ځای ناست وي، د دې انسان او د غره څه فرق دی.
غرونه ځای پر ځای میخ شوي او حرکت نه کوي، د دوی نه د پیشرفت طمع نه شو کولای.
د ځینو انسانانو د حرکت مسیر منفي خوا لري، چې له داسې خلکو نه بیا هغه غرونه بهتره دي، چې نه انسانانو ته ګټه رسوي او نه تاوان، خو بیا هم د ځینو ځنګلونو پیدا کیدل یا د اب وهوا په تغیر او تبدیل کې د غرونو ونډه د خلکو لپاره مهمه ده.
که د غره نه تېرې وکولو، دا تېره په حرکت کې ده یا که په خوب کې یو انسان په یو بل اړخ اوړي دا هم حرکت دی یا د شمال په الوتلو د ونو خانښونه او پاڼې په خوریدو شي او حرکت کوي، خو د داسې حرکتونو مسیر نامعلوم او بې ګټې دی، چې دې ډول حرکت ته بیا حرکت نه شو ویلای.
په نورې نړۍ کې د هر چا د کار وخت معلوم وي او د خپلې هرې لحظې نه استفاده کوي، خو دلته د خوب وخت معلوم دی او د کار

(c) ketabton.com: The Digital Library


وخت نا معلوم دی.

د هر شي ځای پر ځای و دریدو کې زیان او تاوان وي، که یو موټر ځای پر ځای ولاړ او حرکت ونه کړي، ورځ تر بلې خرابېږي او که همدا موټر حرکت او کار وکړي، موټر، خاوند او عوامو ته یې ګټه رسېږي.

سید جمال الدین افغان ویلي وو: په هغې ټولنې کې چې ښځېنه او نارینه اوږه په اوږه کار ونه کړي، هغه ولس پرمختګ نه شي کولای.

رښتیا چې نن مو دنه پرمختګ له عواملو څخه د ټولنې بېسوادي، بې کاري او د ښځینه وو ناپوهي هم ده. کار وکړئ، چې د ښه ژوند څښتنان شئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# افراط

د نړۍ د پرختګ لامل علم او پوهه ده او هېڅوک د ښوونې له ارزښته انکار نه شي کولای.

د ډېرو انسانانو د پوهې درانده پېټي په سر دي او دځینو ککرې خالي او خپل وخت بې ځایه تېروي.

ډېر پوه د وطن په غم او درد مېن عالمان مې ولیدل، چې ورځ تر بلې یې د غمونو پېټي درندېږي او د زړه په غم اخته کېږي، د دوی د درد یو اځیني سبب د دوی ډېره پوهه ده.

دوی په ټولنې کې هغه څه کتلای او لیدلای شي، چې نور یې د لیدلو توان نه لري.

د ژوند په ډېرو چارو کې افراط او تفریط بې عدالتي مېنځ ته راوړي. ایا په علم او پوهې کې افراط وي؟

په یوې ټولنې کې چې علم او پوهه څومره زیاته وي، د انسانانو او ټولنې لپاره د نیکبختۍ سبب ګرځي، خو د علم سره عمل ضروري دی.

ټول پوه کسان د عوامو په درد نه دردېږي او د دوی د ستونزو احساس نه شي کولای، د ولس دا درد هغه خلک احساسولای شي، چې زخمي زړه لري او دا زخمي زړه الله تعالی هغه چا ته ورکوي، چې روحاني قوت لري.

د هغه قدماوو خبره چې ویل به یې: ( په زیاته پوهه کې زیات غمونه وي. )، خو دغه د زیاتې پوهې غم په هغو ټولنو کې زیات وي ، چېرته چې بې عدالتي او مساوات نه وي او د پوهې کچه ټیټه وي.

رښتیا چې ځینې وخت ډېره پوهه دا سې ستونزې پیدا کوي،

(c) ketabton.com: The Digital Library


خو په دې شرط چې د احساساتو او جذباتو صدق او رښتينولي ورسره موجوده وي.

د الفت صاحب په وينا و کې مې د غه حقيقي احساسات وليدل، چې په ډېرو کمو خلکو کې پيدا کېږي.

خو کله کله همدغه ډېره پوهه او علم له انسانه شيطان جوړوي، چې د دغې خبرې فلسفه د شيطان له ژونده ښه ښکاره ده.

زيات بارانونه کله کله سيلونه له ځانه سره راوړي او هر شي ته تاوانونه رسوي، خو په خپل وخت برابر بارانونه بيا هر شي ته ګټه رسوي.

ډېر تيز بادونه د تاوان سبب ګرځي او ډېر تيز لمر هم ستونزې پيدا کوي، خو که لمر او باد نه وي هم نه کېږي. اى خلکو ! علم او پوهه تر لاسه کړئ او عمل پرې وکړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# تحول

په نړۍ کې هر څه په تغیر کې دي. انسانان، حیوانات، نباتات او نور .... مې په یوه حال و نه لیدل او د هر شي په تغیر او تبدیل کې د الله تعالی لوی حکمت پروت دی.

یو ماشوم له موره پیدا ، لوی، سپین ږیری او بلاخره مړ شي. دغه حالت د دنیا په ټولو انسانانو راځي او هېڅوک له دې حقیقته سترګې نه شي پټولی.

یو کوچني ته دا دنیا ډېره لویه ښکاري، خو چې کله لوی شي، دا دنیا ورته کوچنۍ ښکاري. د کوچني ماشوم ذهن، عقل او فکر وړوکی وي، نو ځکه ورته هر څه لوی ښکاري، همدا ماشوم چې د پوهې، عقل او ذکاوت څښتن شي، له نړۍ خبر او د فکر کولو توان پیدا کوي، نو ځکه ورته دا دنیا وړه ښکاري.

په فکر، عقل او ذکاوت کې هم تحول راځي، خو نه د ټولو انسانانو ! ډېر انسانان مې ولیدل، چې د زیات عمر څښتنان دي، خو فکر او عقل یې لاهم هماغسې کوچنی دی.

د نړۍ ډېر اسلامي او ټول غیر اسلامي ملکونه د پرمختګ په حال کې دي، چې لامل یې د علم او پوهې د کچې لوړوالی دی.

دلته ترقي او پیشرفت نه شته، د ولس ډېره برخه مو په خوب ویده دي. ډېر سپین ږیري، ځوانان او نور .... مو لا هماغسې کوچني دي.

د علم او پوهې په واسطه له کوچنیانو مشران جوړیدای شي، نه د عمر په تېریدو، دا عمر خو په حیوانانو، نباتاتو او جماداتو هم

(c) ketabton.com: The Digital Library


تېرېږي، خو په انسان د وخت او زمان تېرېدل بايد له هرشي سره توپير ولري.

ونې وکرل شي، لويې شي او د وخت په تېرېدلو يې د ثمر وخت راورسېږي، لکه څنګه چې د انسان ښکلا په علم او تقوا کې ده، د غه شان د ونې ښکلا يې ميوه ده.

لمر د ورځې پيدا او د شپې پناه شي، سپوږمۍ د شپې پيدا او د ورځې ورکه شي.

وګورۍ د دنيا هر څه په تحول کې دي او د دغې تحولاتو برکت دی، چې دنيا د ژوند لپاره برابره ده، که په ژوند کې تغيرات او تحولات نه وي، هغه ژوند بې معنا دی او دغه تحولات د علم او پوهې پر بنسټ را تلای شي، دغه تغيرات او تحولات بايد را ورل شي، د بل چا له خوا نه را وړل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# ځنګل

یوه شپه خوب وینم، چې په یوه خطرناکه ځنګل کې یم، چې له ډېرو ونو له لاسه ورځ پکې شپه ښکاریده.

د ډېرې ویرې احساس مې وکړ او زړه مې نا قراره وه، چې سترګې مې په یوې بې حالې هوسۍ ولګیدې، د ځان کندن حال یې و، ارخ په ارخ اوخته ، ښکلې اوږده غاړه، غټې غټې سترګې او غټې غټې اوښکې یې له سترګو را روانې وې، شفاف پوستکی او رنګ یې درلود.

د هوسۍ د غمرازۍ لپاره د ځنګل نور حیوانات هم را ټول شوي وه، د هوسۍ بچی هم په دوی کې وه اود غمونو او کړاوونو امبارونه یې پر سر بار و او داسې ګړیده، چې زه هم ورته په ژړا شوم، ټولو نورو حیواناتو ورته تسلي ورکوله، خو د دې مور ناحقه مړه شوې وه او د هیچا یې نه منله او همدا یې ویل: دا زما مهربانه مور وه، پلار او ورونه مې هم د دې قاتل پواسطه له منځه ولاړل اویوه ورځ زه او تاسو ټول د دې له لاسه له منځه ځو. راځۍ چې اتفاق او اتحاد وکړو او د دې ظالم پر وړاندې ودریږو.

د مړې هوسۍ د بچې خبرې چې مې واوریدې ، په دې فکر کې شوم، چې په حقیقت باید ځان پوه کړم. ولاړم یو ځای ته چې ټول حیوانات را ټول دي.

د هوسۍ د بچي نه مې پوښتنه وکړه: چا مور دې په داسې بې رحمۍ وژلې ده؟

ـ زما مور زموږ د ټولو مشر(زمري) په داسې بد حال کړې ده.

ـ ولې مو خپل مشر زمری ټاکلی دی؟ ایا علم او پوهه له تاسو ډېره لري؟

ـ دا ځنګل دی، دلته پوهه او علم هیڅ ارزښت نه لري، دلته چې

(c) ketabton.com: The Digital Library


له چا سره زور او قوت وي ، هغه مشري کوي.
ـ زمرې تاسو په خپله مشر کړې دی او که په زوره مشري کوي.
ـ د ځنګل د ډېرو حیواناتو له خوا مشر ټاکل شوی دی.
ـ ولې بل زړه سوانده او خدمتګاره خپل مشر نه ټاکی، چې دا سې ظالم او ناپوهه مو خپل مشر خوښ کړی دی.
ـ ټول بې اتفاقه یو ، نژاد پرستي، قوم پرستي، سمت پرستي کوي او د خپل وجدان سره فیصله نه کوي.
ـ تاسو خو پخپله ګرم هستی، خپله پخه پخپله په تبر وهی او بیا ورته ژاړی، تا خپله مور خپله وژلې ده، ژړا او فریاد مه کوه.
ـ زه ملامته نه یم، اوریدلې دې نه دي، په یو ګل نه پسرلی کېږي، ما او زما همفکرانو زمرې نه غوښته، چې زموږ مشري وکړي. موږ هر کال د مشر د ټاکلو لپاره سره را غونډېږو او مشر ټاکو، نو د ډېرو ملګرو لخوا زمرې هر کال زموږ مشر ټا کل کېږي. خو دا ځنګل دی، د مشری لپاره معیارونه د نورو سیمو په پرتله توپیر کوي.
ـ ستاسو به ترکومه دا حال وي.
ـ تر څو چې پوهه او علم زیات شي او د ښه او بد تحلیل وکولای شو. دلته د ځنګل قانون دی، باید دا قانون له منځه ولاړ شي او بل قانون مېنځ ته را شي.
له خوبه پاڅېدم او پخپل ځای کېناستم، ډېر خوله شوی وم او د هوسۍ خبرې مې په زړه وې او د خوب پر تعبیر مې پوه شوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# ارمان

هر هغه څه چې لرئ، قدر يې وکړئ، ځکه چې په دنيا کې هر څه له منځه ځي او دا يو حقيقت دی.

مخکې له دې چې جدايي راشي، د وصال په اهميت پوه شۍ او هېڅکله داسې کار مه کوئ، چې په جدايي کې يې ارمان وکړئ.

دا چې نن ښکلي او تکړه ځوان يې خپل ځان او ټولنې ته هر ډول خدمتونه کولای شې، خو پـه دې پوه شه، چې ښکلا او ځواني دې دايم نه پاتې کېږي.

د انسان ژوند د کړنو له مخې شمېرل کېږي، نه د کلونو لـه مخې نو لـه همدې املـه ژونـد د هر انسان لپاره د دنيا او اخرت د لاسته راوړنو يو ښه بازار دی، په دې بازار کې هر ډول ښه او بد شيان پيدا کېږي.

د يوې ټولنې خدمتګار خلک پـه ژونـدون وستايي، د دوی يادونـه وکـړئ ځکـه چـې د دوی يادونـه ددوی خپـل حق دی. ځينـې انسانان له مرګه وروسته ستايو او په ژوندون يې عزت نه کوو.

يو باغبان بايد د ونو له ميوو نه پـه خپـل وخت استفاده وکړي، که خامې يې وشکوي، خوند به پکې نه وي او که چېرې پخې شي او د پوخوالي نه وروسته يې هم ونه شکوي، د طبيعي عواملو پر بنا بـه پـه ځمکه وغورځېږي او يا بـه يې چينجي وخوري، يعنې د ميوو نـه هم بايد پـه خپل وخت ګټه واخيستل شي. د انسان ژوند څو پړاوونه لري، کـه چېرې د وخت پـه قدر پوه او پـه خپـل وخت خپـل کارونـه وکـړو، هېڅکله به ارمان ونه کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# ګټه او تاوان

صحت د الله تعالی لوی نعمت دی او په خپلې پېرزوینې او لورینې یې ډېرو کسانو ته ورکوي.
له صحته ښه او بده ګټه اخیستل کیدای شي، ښه ګټه ترې هغه کسان اخلي چې روحاني او باطني صحت لري او بده ګټه ترې هغه خلک اخلي چې ظاهري صحت لري.
ډېر خلک مې ولیدل چې ظاهرا صحت مند ورته ویلای شو، خو باطني او روحاني صحت به نه لري.
په نړۍ کې هر شی الله تعالی انسانانو ته پیدا کړي دي او په هرشي کې ډول ډول ویټامینونه دي، چې د انسانانو مختلفو اعضاوو ته ګټه رسوي.
ډاکټر صاحبان وایي، چې ګازرې د سترګو دید ته فایده لري، بادام مغز ته او داسې نور شیان هم شته چې د الله تعالی نعمتونه دي، چې انسانانو ته ګټه لري.
یو صحت مند انسان دی، چې ښه مغز او فکر لري، د ډاکټرۍ تر کچې یې زده کړې هم کړې دي، خو بیا هم له خپله فکره ښه استفاده نه کوي، دلیل یې دا دی چې روحاني او باطني صحت نه لري، د انسان باطن چې جوړ شي، ظاهري ښکلا هم پکې پیدا کېږي او په نړۍ کې د دې ټول کارونه مثبت وي.
ډېر داسې شیان شته چې د انسانانو سترګو ته ګټه رسوي، او د سالمو سترګو خاوند ته د سترګو صحت مند ویلای شو، که چېرې همدا انسان له خپلو سترګو ناوړه استفاده کوي، دلیل به یې دا وي چې دی هم روحاني او باطني صحت نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره د دې چې د دې سترګې به ښکلې وي او ښه دید به کوي، خو زما په پوهه باطن يې خراب دی.

که چېرې د بدن له هرې اعضاوې نه ناوړه استفاده کوو، حقيقت دا دی چې باطن مو خراب دی.

که چېرې د يو انسان عقيده وي، اصلاحي او دينې ژوند جوړ شي، باطن يې هم جوړېږي. نن مو ډېر ظاهري صحت مند خلک باطني صحت مندي نه لري.

د يوې هندوانې ظاهري ښکلا يې بهرنی ساختمان دی او باطني ښکلا يې رنګ او خوند دی. چې ډېر خلک د هندوانې رنګ نه بلکې خوند ته ګوري. که له بيرونه يوه هندوانه هرڅومره ښکلې وي، خو داخل کې خرابه وي. دا د هغه انسان په ډول دی، چې ظاهر يې ښکلی او باطن يې بدرنګه دی.

په يوې ټولنې کې ډېر اصلاح شوي خلک هغه کسان وي، چې روحاني صحت لري.

که د يو انسان روح جوړ شو، نور بدن يې پخپله ښه کارونه کوي، همدا روح دی چې په ټول بدن مشري کولای شي او همدا روح دي چې له انسانه ولاړ شي، په تش کالبود بدلېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# پوهه

یو د خبرو کول دي او بل يې پوهېدل دي، چې د خبرو کولو نه يې پوهېدل ډېر مهم دي. لکه څرنګه چې د علم لپاره عمل مهم دی، دغه ډول د خبرو کولو لپاره يې پوهېدل مهم دي.

ډېر خلک دي ښې ښې خبرې کوي، خو پرې پوهېږي نه. له ډېرو مې اوریدلي دي چې وايي: د ظالم بادشاه په مخ کې حق ويل افضل جهاد دی، سړی به فکر وکړي چې اصلي د منصور لمسی همدا دی، چې کله د حق ويلو وخت راشي د يو مظلوم په مخ کې هم حقيقت نه وايي. دی په خولې ويلی شي، چې حق ويل افضل جهاد دی، خو په معنا يې نه پوهېږي او عملي کولای يې نه شي. که يو بل کس حقيقت وايي، همدا د حق چغې وهونکی پرې بد وايي، ځکه دی حق او حقيقت نه پېژني.

يا ډېر خلک وايي: غيبت مه کوئ، غيبت کوونکی داسې مثال لري، لکه څوک چې د يو انسان خامه غوښه خوري.

هغه څوک چې وايي، غيبت بد کار دی، بيا په خپله غيبت کوي. په هرې خبرې باندې له ويلو نه پوهېدل ډېر مهم دي.

د ډېرو کتابونو لوستونکې مې ولیدل، له ډېرو مکتبونو او پوهنتونونو مې خلاص شوي کسان ولیدل، چې د پوهې خاوندان پکې ډېر کم دي. د پوهې پېژندل لکه د ښکلا پېژندنې او انسان پېژندنې په ډول ستونزمن کار دی.

ډېر خلک دي هغه چا ته پوه وايي، چې لوړ تحصيلات لري يا هغه چا ته پوه وايي چې په لوړو څوکيو کار کوي يا هغه چا ته پوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وايي چې د دريځ په مخکې ښې ښې خبرې کوي او په همدې ډول نور .....خود مختلفو نظرونو او فکرونو خلک بېلا بېل نظريات د پوهې د معيار تـاکنې لپاره لري، خو زما په نظر لکه څرنګه چې د انسان پېژندل اسان کار نه دی، دغه ډول د پوهې پېژندل هم اسان کار نه دی.

ډېر مشران او تحصيل کوونکي مې وليدل، چې ډېرې ښې ښې خبرې کوي، خو عملي کولای يې نه شي، دوی هر څه ويلای شي خو پرې پوهېږي نه. تحصيل خو ډېر خلک کوي يا درس خو ډېر خلک وايي، خو پوهېږي پرې ډېر کم کسان.

دوه کسان دي، دواړه له طب پوهنځي فارغ دي او وظيفې لري، يو يې ټوله ورځ په منکراتو اخته او د عوامو وينې څکي او بل د يو ښه ډاکټر ټولې ښې ځانګړنې لري. لومړني درس ويلی دی، خو پوه شوی نه دی. دويم يې درس ويلی او پوه شوی هم دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# د پښتو ادب نوې ښکلا او د هاشمي د ادبي پنځونو هارونه



د پښتو په معاصره دوره کې د ادب د اسمان پرمخ نوي ستوري را ښکاره او د ادبي ځبرګنو او هنري ليکنو وړانګويي د پښتو ادب په څرماښامي باندې د شفق روښانه رڼا خوره او ولوروله، چې او سمهال هم د ادب په اسمان کې يو شمېر نوي ستوري ځرکونه وهي او ورځ تر بلې د خپلو ځبرګنو او پنځونو پلوشې تر لرې واټن پورې غزوي او د خپلو ادبي پنځونو څخه د پښتو د ادب ناوې ته تلپاتې هارونه جوړوي.

او سمهال د ځوانو ليکوالو په لړ کې د ښاغلي هاشمي ستوری د ختيځ د ادب په اسمان کې د هر چا پاملرنه جلب کړې. نوموړی په هغه چاپيريال کې ژوند کوي، چې هلته استاد پوهاند رښتين، قيام الدين خادم او ګل پاچا الفت وينو هم له دې سيمې څخه په ادبي ډګر کې لوی همت او هنرونه اخيستې و چې او سمهال يې د پښتو د ادب په بڼ کې هر ډول ګلان غوړېدلي او ګڼ شمېر ادبي بوراګان ترې خوندا خلي. سيد اصغر هاشمي ټوله کورنۍ په علمي روښانتيا باندې ښکلې ده چې پلار ( علمي رتبه، پوهنمل سيد رحمن هاشمي) او سمهال د ننګرهار په ښوونې او روزنې پوهنځي کې استاد ، نيکه يې سيد عبد المنان هاشمي د خپل وخت لومړنيو کسانو څخه و چې د هيواد په پلازمينې (کابل) دار المعلمين کې يې زده کړې پای ته ورسولې، د هاشمي دوه ورورونو په هالند او هندوستان کې د ماستري زده کړې کړې دي او او سمهال په خپل هيواد کې په بېلابېلو ادارو کې دندې ترسره کوي.

د انګلستان د نامتو ليکوال او ارواپوه ډاکټر سمايلز په وينا د انګلستان خلک پر خپل ځان باندې تلپاتې ويسا لري او هر کار په ذوق سره سرته رسوي، نو په همدې اساس انګلستان وګړو پرمختک کړی او د بهرنۍ هڅې پر ځای د انسان خپل داخلي هڅې يو انسان د برې منزل ته په لنډ واټن کې رسوي. د نوموړي د خبرې په تايد همدا حس او هڅه د ښاغلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



هاشمیپه وجود کې شته او د همدې هڅو په اساس شپه او ورځ د کتابونو مطالعې، څېړنو او تخیلق ته ځانګړې کړې ده او د ډاکتر سمایلیز په وینا د انسان په پرمختګ کې د هغه مسلک سره د نوموړي مینه هم اړینه ده چې اصغر دا ځانګړتیا هم لري د ادب، د مطالعې او ادبي پنځونه په لټه تلپاتې زیارګالي، نوموړي په کم سن کې ګڼ شمېر ادبي اثار د پښتوژبې د غنیتوب په موخه ډالۍ کړي دي.

ښاغلی هاشمي څېړنې، تخلیق تر څنګ په ژباړه کې هم ښه وړتیا ښودلې ده، چې یو شمېر اسلامي کتابونه یې له فارسي څخه پښتو ته ژباړلي دي او د نوموړي ځینې اثار په دري او انګلیسي ژبو باندې د نورو لیکوالو له خوا ژباړل شوي دي.

دا هم د نوموړي د چاپ شوو اثارو لړ لیک:

**څېړنې**:

۱: هاشمي، پوهیالی سید اصغر: د نظم تاریخ(لومړۍ او دویمه دوره)، مومند خپرندویه ټولنه، ننګرهار، **۱۳۹۲** ل کال.

۲: هاشمي، پوهنیار سید اصغر: د استاد ګل پاچا الفت د شعرونو منځپانګېزه او جولېزه څېړنه(د ماسترۍ تېزس)، دانش خپرندویه ټولنه، پیښور، **۱۳۹۳** ل کال.

۳: هاشمي، پوهنیار سید اصغر: ادبي وړانګې، دانش خپرندویه ټولنه، پیښور، **۱۳۹۳** ل کال.

۴: هاشمي، پوهنیار سید اصغر: د الفت مرغلرې( سریزه، زیاتونه او ویپانګه)، دانش خپرندویه ټولنه، پیښور، **۱۳۹۳** ل کال.

**۵**: هاشمي، پوهیالی سید اصغر: شعر پوهنه، مومند خپرندویه ټولنه، ننګرهار، ۱۳۹۱ ل کال.

۶: هاشمي، پوهنیارسید اصغر: د څېړنې بنسټونه (د تحقیق فن او لارې چارې)یار خپرندویه ټولنه، ننګرهار، **۱۳۹۴** ل کال.

۷: هاشمي، پوهیالی سید اصغر: بولـله له پیله تر خوشحاله، مومند خپرندویه ټولنه، ننګرهار، ۱۳۹۱ ل کال.

۸: هاشمي، پوهیالی سید اصغر: ادب پوهنې آرونه، مومند خپرندویه ټولنه، ننګرهار، ۱۳۹۱ل کال.

۹: هاشمي، پوهیالی سید اصغر هاشمي: غني خان فلسفي شاعر، دانش خپرندویه ټولنه، پیښور، **۱۳۹۲** ل کال.

(c) ketabton.com: The Digital Library


۱۰: هاشمي، پوهيالی سيد اصغر هاشمي: ادبي مرغلرې، دانش خپرندويه ټولنه، پيښور، ۱۳۹۲ ل کال.
۱۱: هاشمي، پوهيالی سيد اصغر هاشمي: ادبي درو ټاکنه، ۱۳۹۲ ل کال.
۱۲: هاشمي، پوهيالی سيد اصغر، د پښتو ژبې ادبي سرلارې، ګودر خپرندويه ټولنه، جلال اباد، ۱۳۹۰ ل کال.
۱۳: هاشمي، پوهيالی سيد اصغر، د ليک او لوست اسانه زده کړه، ګودر خپرندويه ټولنه، جلال اباد، ۱۳۹۱ ل کال.
۱۴: هاشمي، پوهيالی سيد اصغر، ادبي مرغلرې(دويم ټوک)، دانش خپرندويه ټولنه، پيښور، ۱۳۹۲ ل کال.

**تخليقات**:

۱: هاشمي، پوهيالی سيد اصغر: برخليک(ناول)، ګودر خپرندويه ټولنه، جلال آباد، ۱۳۹۱ ل کال.
۲: هاشمي، پوهيالی سيد اصغر، د فکر بيان(لنډې نثرې ويناوې): ۱۳۹۳ ل کال.
۳: هاشمي، پوهنيار سيد اصغر: د فکر پلوشې، ۱۳۹۴ ل کال.

**ژباړې**:

۱: هاشمي، پوهيالی سيد اصغر: د بهلول نصيحتونه، ګودر خپرندويه ټولنه، جلال آباد، ۱۳۹۰ ل کال.
۲: هاشمي، پوهيالی سيد اصغر: د حضرت محمد(ص) لنډژوند ليک، ګودر خپرندويه ټولنه، جلال اباد، ۱۳۹۰ ل کال.
۳: هاشمي، پوهيالی سيد اصغر: د حضرت ابوبکرصديق(رض) لنډ ژوندليک، ګودر خپرندويه ټولنه، جلال اباد، ۱۳۹۰ ل کال.
۴: هاشمي، پوهيالی سيد اصغر: د حضرت عمر(رض)لنډژوند ليک، ګودر خپرندويه ټولنه، جلال اباد، ۱۳۹۰ ل کال
۵: هاشمي، پوهيالی سيد اصغر: د حضرت عثمان(رض) لنډ ژوند ليک، ګودر خپرندويه ټولنه، جلال اباد، ۱۳۹۰ ل کال
۶: هاشمي، پوهيالی سيد اصغر: د حضرت علي(رض) لنډژوند ليک، ګودر خپرندويه ټولنه، جلال اباد، ۱۳۹۰ ل کال

**راټولونې**:

۱:هاشمي، پوهيالی سيد اصغر: د ادبي ژانرونو لنډه پيژندنه، ګودر خپرندويه ټولنه، جلال اباد، ۱۳۹۰ ل کال

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲: هاشمي، پوهیالی سید اصغر: د ادبي اصطلاحاتو سیندگی، دانش خپرندویه ټولنه، پیښور، ۱۳۹۳ل کال.
۳: هاشمي، پوهیالی سید اصغر: د استادگل پاچا الفت ستاینې (راټولونه او سریزه)، دانش خپرندویه ټولنه، پیښور، ۱۳۹۳ل کال.

**چاپ ته تیار اثار:**

د پښتو ژبې ادبي سرلاري( دویم او دریم ) ټوک، نړیوالې ادبي څېرې، ادبي نظم ډولونه او پیدا ایښت یې، د لرغونې دورې نثري اثار او پیدا ایښت یې، د لودیانو او سوریانو لیکوال، اخلاق د امام غزالي له نظره، شاعران او مشاهیر، د پښتو ژبې تاریخ،د فکر یون، ادب تیوري او ادبپوهنې بنسټونه
.

او سمهال نړۍ د ساینس او ټکالوجي د پرمختګ سره د انساني ژوند په ګڼو برخو کې اسانتیاوې رامنځته شوي دي او د علمي پرمختګ په موخه هم او سني لیکوال د همدې انټرنیټي وسایلو څخه کار اخلي چې ښاغلی هاشمي هم ورسره بلد تیا لري او هم هره ورځ د نوموړي ادبي، سیاسي، ټولنیزې او اروا پوهنیزې مقالې د پښتو په بیلا بیلو ویبپاڼو کې خپریږي چې تر دې مهاله یې د مقالو شمېر نژدې۲۰۰ ته رسیدلي دي.
په اتلسمه پېړۍ کې په فرانسه کې یو فیلسوف تېر شوی دی هغه وایي کوم انسان چې د تفریح په ارزښت پوه نه شي نو هغه کس د کار کولو وړتیا هم نه لري خو ښاغلي هاشمي په دې ډګر کې هم مخکښ دي، نوموړی د شلوکلونو راهیسې د پهلواني او داسې نورو لوبو په برخه کې ښه ځلیدلی دی چې لوبې یې د هیواد په داخل او بهر کې ګټلي دي. نوموړي د ادبي او فرهنګي هڅو تر څنګ هره ورځ یو ځانګړی وخت د سپورت تمرین له پار هم ټاکي.

په اسلامیت او افغانیت مین
پوهنیار فهیم بهیر
د البیروني پوهنتون استاد

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د تحريك يادښت

د افغانستان ملي تحريك د (۱۳۹۳ ل) کال په پيل کې له خپلو ګرانو هېوادوالو سره ژمنه کړې وه چې د دې کال په بهير کې به (شل عنوانونه) بېلا بېل ديني، علمي، ادبي او ټولنيز اثار خپلې ټولنې ته وړاندې کوي. ملي تحريك دا ژمنه د ياد کال د کب پر (۲۸)مه نېټه پوره او د يوې پرتمينې غونډې په ترڅ کې يې شل عنوانونه علمي اثار هېوادوالو ته وړاندې کړل. ملي تحريك په ياده غونډه کې ژمنه وکړه چې د (۱۳۹۴ ل) کال په بهير کې به انشاء الله د خداى (ج) په نصرت ټول ټال سل (۱۰۰) عنوانه بېلابېل علمي اثار ټولنې ته وړاندې کوي. طبيعي خبره ده چې دا اسانه کار نه دى، ډېر زيات زيار او زحمت ته اړتيا لري، خو ملي تحريك ټينګ هوډ کړى چې خپله دا ژمنه به هم د تېرې ژمنې په څېر عملي کوي. دا اثر چې ستاسو په لاس کې دى د همدې (سل عنوانونو) ژمنه کړو اثارو له جملې څخه دى، چې د چاپ جامه اغوندي. ملي تحريك هيله لري چې له دې اثر څخه به زموږ هېوادوال په زړه پورې ګټه پورته کړي. ملي تحريك له ټولو هغو ليکوالو، ژباړونکو، سمونچارو، مالي او معنوي مرستندويانو او چاپ چارو څخه چې ددې اثارو د چاپ په دې ټول بهير کې يې يو بل سره مرسته او ملګرتيا کړې او دا فرهنګي بهير يې بريالى کړى، د زړه له کومې مننه کوي او کور ودانى ورته وايي.

د هېواد د فرهنګ د ښېرازۍ په هيله

د افغانستان ملي تحريك فرهنګي څانګه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مننه او کور ودانی

د افغانستان ملي تحریک د هېواد پال او فرهنګپال شخصیت ښاغلي (خیرالله خان ) څخه د زړه له تله مننه کوي چې د دې اثر چاپ ته یې اوږه ورکړه. ملي تحریک ویاړي چې د علمي اثارو د چاپ لړۍ یې پیل کړې ده. دا لړۍ به دوام لري. موږ له ټولو درنو هېوادوالو څخه په خورا درنښت هیله کوو چې په خپل معنوي او مادي وس د کتابونو د چاپ دا لړۍ لا پسې وغځوي.

یو ځل بیا د دې اثر له لیکوال او چاپوونکي څخه د زړه له تله مننه کوو چې د دې اثر د لیکلو او چاپولو جوګه شول.

په فرهنګي مینه

د افغانستان ملي تحریک

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د فکر پلوشي



سید اصغر هاشمي

د افغانستان ملي تحریک

www.melitahrik.com

دخپرونو لړ: ۵۰

د خپرونو لړ: ۴۹

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**